www.momandpublications.com

وردګ د تاریخ په بهیر کې د سیمینار په ویاړ

www.momandpublications.com

# د وردګو د ښادۍ سندرې

ساره سادات

Ketabton.com

۱۳۹۵ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** د وردګو د ښادۍ سندرې

**څېړونکې:** ساره سادات

**خپرندوی:** رفیع کلتوري او مدني ټولنه

**مالي ملاتړ:** د سیدانو کلتوري ټولنه

**ډیزاین چارې:** ایملیار ساجد

**چاپ کال:** ۱۳۹۵ – ۲۰۱۶م

**چاپ وار:** لومړی

**د چاپ شمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**ای ایس بی اېن:** ISBN 9 789936 101029

**چاپځای:** د مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه

پتې

د چاپ ټول حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.

ننګرهار: عبدالمجید مومند کتاب پلورنځی – مخابراتو څلورلاری

اړیکې: ۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱ – ۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱ – ۰۷۸۱۶۲۶۱۶۱

کابل: اصلاح افکار کتابپلورنځی / خیبر کتابپلورنځی / دارالسلام کتابپلورنځی / مستقبل کتابپلورنځی / پکتوس کتابپلورنځی./ پکتیکا: مجاهد کتابپلورنځی/ کندهار: امیر کروړ کتابپلورنځی / افغان کتابپلورنځی./خوست: غرغښت کتابپلورنځی / رحیمي کتابپلورنځی/ لمر کتابپلورنځی / سباوون کتابپلورنځی./ هلمند: سیدجماالدین کتابپلورنځی / عرفان

www.momandpublications.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابپلورنځی / تاج منور کتابپلورنځی./ پکتیا: علمي کتابپلورنځی./ غزني: قیومي کتابپلورنځی

www.momandpublications.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ډالۍ:** ګرانې مورجانې او ګران پلار جان ته مې،

چې خپلې وینې یې زما په قلم کې واچولې او زه یې ددې جوګه کړم چې د خپلې سیمې بشري ارزښتونه د خپل قلم په برکت خوندي وساتم!

**سادات**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خپرندويې ټولنې يادښت

د لوی ښتن په نامه

شفاهي ادبيات د ادبياتو يوه ستره او ارزښتمنه برخه ده. که څه هم پر پښتو شفاهي ادبياتو څه نا څه کار شوی دی، خو لا هم د پښتو دغه ستره زيرمه هغسې نه ده څېړل شوې چې اړتيا يې ليدل کېږي. د ادبياتو د دې برخې څېړل او را ټولول ځکه مهم دي چې د له منځه تلو له ګواښ سره مخ ده. له همدې امله په کار ده چې شفاهي ادبيات را ټول او خوندي شي. د پښتو شفاهي ادبياتو يوه لويه برخه له منځه تللي، ځکه چې پر وخت نه دي را ټول شوي او که پاتې نورو ته پام ونه شي، له منځه تلل يې حتمي دي.

د همدې سترې اړتيا په درک سره ځوانې او تکړه څېړونکې اغلې ساره سادات دا ارزښتمن کار کړی دی او د وردګو د خوښې سندرې يې را ټولې کړې او څېړلي دي. د نوموړې کار يوازې له دې امله ارزښتمن نه دی چې د شفاهي ادبياتو يوه برخه يې خوندي کړې، بلکې له دې امله هم ارزښتمن دی چې په را ټولولو او څېړلو کې يې د شفاهي ادبياتو د را ټولولو او څېړلو اصول مرعات کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ادبیاتو څېړونکو او په ځانګړي ډول ځوانو هغو ته بویه چې د پښتو دغه شتمني خوندي کړي. دوی باید د ساره سادات په شان دغه ارزښتمن کار ته اوږه ورکړي او پرې نږدي چې زموږ دغه شتمني له منځه ولاړه شي. د پوهنتونو محصلین دې خپل پایلیکونه پر همداسې موضوعاتو واخلي او استادان دې هم په دې چاره کې ورسره مرسته وکړي. اوس چې په کابل او ننګرهار پوهنتونو کې په پښتو ادبیاتو کې د ماسترۍ او دوکتورا پروګرامونه پیل شوي، نو په کار ده چې دوی خپل تیزسونه پر همداسې ارزښتمنو مسایلو ولیکي او خپل رسالت ادا کړي.

په پای کې رفیع کلتوري او مدني ټولنه ویاړي چې د ساره سادات دغه اثر خپروي او نوموړې ته د لا زیاتو بریالیتوبونو هیله کوي.

په درنښت

رفیع کلتوري او مدني ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرليکونه

**سرليک....................................................... مخونه**

يادونه ............................................................ ا
د سر خبرې...................................................... د
سريزه............................................................ ۱
د څېړنې هدف.................................................. ٦
د پښتني سندرو مخينه يا شاليد.............................. ۸
د فولکلور ټولولواهميت....................................... ۱۱
د سندرو لومړي ټولوونکي..................................... ۱٤
د ښادۍ د بدلو ټولوونکي...................................... ۱٦
په وردګوکې دښادۍ بدلو دټولولو لومړنۍ هڅې.............. ۲۱
د دې څېړنې ارزښت.......................................... ۲۲
د ښادۍ د سندرو جوړښت..................................... ۳۱
ددې ليکنې مېتود............................................. ۳٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وردګو دښادۍ سندرې........................................... ۳۷
ناسته...................................................................... ۵۲
د نکریزو شپه او د توی ورځ.......................................... ۶۸
درېیمه (تخت جمعي)............................................... ۱۷۵
نتیجه.................................................................... ۱۷۹
مناقشه.................................................................. ۱۸٤
پېشنهادونه............................................................. ۱۸٦
لنډیز...................................................................... ۱۸۸
د مأخذونو فهرست.................................................. ۱۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یادونه

د لوی او ښښونکي څښتن په نامه

له آدمه تر دې دمه د انسان د ژوند پایښت د کورنۍ په جوړولو اېښودل شوی دی، چې حضرت آدم (ع) له بي بي هوا سره د کورنۍ په جوړلو د بشر نسل پر ځمکه تلپاتې کړ، چې نننۍ انساني ټولنه یې جوړه کړې ده او مور یې هم یوه برخه یو. په ډېرو ادیانو کې د ټولنې شمزۍ د سالمې کورنۍ واحدونه شمېرل کېږي. په اسلام کې هم د یوې پیاوړې ټولنې اساسات یوه سالمه کورنۍ یادېږي، ځکه نو له شریعت سره برابره نکاح تړل کېږي او دوه انسانان د ښځې او مېړه په بڼه د یوې اسلامي کورنۍ بنسټ ږدي، چې محصول یې سالم اولاد دی او د اولادونو په ښوونه او روزنه سره د ملت رښکۍ پیاوړې کوي.

په ټولنیز ژوند کې د تاریخي، علمي او دیني مقدساتو تر څنګ د یوې ټولنې فرهنګي ارزښتونو ته هم پام کول او ځان پرې پوهول اړین ګڼل کېږي، ځکه د کلتوري هلو ځلو پر بنسټ هر ملت د خپل ژوند ځانګړي فلسفي ارزښتونه له یوه نسله بل ته ورلېږدوي، چې د هېواد د ملي او د ټولنې د ښادیو د ورځو، لکه: د اولاد زېږېدنه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشوم کلیزه او زموږ دیني ،تاریخي او مقدسو ورځو په اړه معلومات هم اړین دي، لکه څنګه مو چې یاده کړه، واده او بیا د کورنۍ جوړول، خو د ټولنې یو بنسټیز رُکن دی، چې ټولنه پرې جوړه ده، څکه نو د واده په اړه معلومات زموږ ټولنه پیاوړې ساتي او خلک په متواتره  بڼه زموږ د تېرو نسلونو کلتوري ارزښتونو ته متوجې کوي، څکه نو د واده د دودونو او د واده د ښادیو په اړه سیستیماتیک معلومات هم د راتلونکي نسل لپاره ښوونیز او روزنیز ارزښت لري.

په دې کتاب کې چې، دوردګو دښادۍ سندرې د یوه علمي تیزس په بڼه راټولې او لیکل شوې دي، زموږ ځوان نسل ته او له سیمې لېرو پرتو هېوادوالو ته هغه اړین معلومات وړاندې کوي، چې د وردګو په سیمه کې د یوه واده سریشته په څه ډول نیول کېږي، کومې ځانګړتیاوې لري اوترواده مخکې کوم دودونه لري، د واده په ترځ کې کومې ځانګړنې لري او تراواده وروسته اړینو پېښو ته نغوته شوې ده، خو په دې کتاب کې همدا ډول د سیمې سندرې، چې زیاتره د کلي د ښځو ترمنځ مروجې دي، په ډېره امانتدارۍ سره راټولې شوې دي، دې علمي اثر ته یې یو ځانګړی ارزښت ورکړی دی.

په سیمه کې د واده د دودونو، خوشالیو او ساعتېریو په اړه معلومات زموږ د افغان ملت د بېلابېلو ټبرونو د پوهې، دوستۍ او زغم وړ ګرځي او د افغاني هویت په پیاوړتیا کې رغنیز رول لوبولی شي، څکه نو د سیدانو مرستندویې ټولنې دا پټېیلې ده، چې د «د وردګو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښادی سندرې» کتاب د خپرولو په برخه کې خپل ملي، ټولنيز او بشري مسؤليت تر سره کړي، تر څو افغان ولس د خپلو خلکو له دودونو خبر او د سيمې عنعنات د کتاب په بڼه وساتل شي او همدا ډول دغه اړين معلومات په کره بڼه بل نسل ته ولېږدولی شي.

د سيدانو مرستندويه ټولنه په دې وياړي، چې د دې علمي اثر په خپرولو سره به يې د افغان ولس ځوان نسل ته هغه اړين معلومات وررسولي وي، چې د خپل ملت په ملي او هويتي ارزښتونو سمبال اوله خپلو کلتوري ارزښتونو څخه الهام واخستلی شي. همدا ډول د کتاب له ليکوالې آغلې ساره سادات نه ډېره مننه کوو، چې دغه علمي اثر يې ليکلی دی او ټولنه يې د نورو ليکنو او علمي آثارو په تمه پاتې کېږي او په نورو پوهانو هم غږ کوي، چې خپله ټولنه د علمي آثارو په جوهر نوره هم پياوړې کړي.

و من الله التوفيق

د سيدانو مرستندويې ټولنه

کابل، د ۱۳۹۴ لېږديز لمريز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سر خبرې

دهغې مينې له مخې چې له فولکلوراو ولسي ادب سره يې لرم دسرمحقق استاد زلمي هېوادمل په مشوره مې دخپل تيزس دبشپړونې موضوع(دوردگو دښادۍ سندرې)انتخاب کړله.

داسندرې مې دوردگو ولايت دجغتو له ولسوالۍ نه لکه څنګه چې خلک يې وايي يا بولي په طبيعي ډول، دښځواو نجونو له خولې راټولې کړې دي، په ليکنه کې مې هڅه کړې، ټول هغه مطالب چې ولسي رنګ يې پياوړی اواوس هم په ژوندۍ توګه موجود دي د کارونې له مواردو سره يې ذکر کړم، تقريباً ټولې سندرې نوې دي. مخکې تر دې چې ددې موادو په را ټولولو پيل وکړم، په دې اړه مې هغه ليکل شوي کتابونه چې ما ته معلوم وو او هم هغه مأخذونه چې لاربښود استاد يې د لوستلو توصيه راته کړې وه ټول وکتل او د راټولولو په وخت کې مې دتکراري سندرو له ليکلو ډډه وکړه اوهمدا ډول يوه نيمه داسې سندره چې دلږ ياډېرو الفاظو او توريو په بدلون سره په نورو کتابونو کې راغلې وې له دې سندرو سره په مقايسوي ډول په لمن ليکونو کې را اخيستي دي.

په دې سندرو کې مې بابولالې، سروکي د اتڼ نارې او... نور ځای کړي دي، يعنې د ښادۍ د بدلو ترڅنګ مې ځينې عام

(c) ketabton.com: The Digital Library

سروکي او داتې نارې چې په ودونو کې يې هم وايې راغونډې کړې دي، پردې سربېره ددې سندرو د قدامت او دراټولولو دشاليد دراوړلو په خاطر مې له ځينو مأخذونو څخه هم استفاده کړې ده.

دسندرو د حالاتو د بيانولو لپاره مې د وردګو د واده په دود هم څه ناڅه خبرې کړې دي او څومره چې کېداى شوى له اختصار نه مې کار اخيستى دى، مثلاً دپښه خلاصي، دسرواره دتګ اوداسې نورو چې سندرې نه پکې ويل کېږي له سره يادونه، نه ده کړې، ځکه چې دوردګو د واده د دود او دستور په اړه ښاغلي حبيب الله رفيع په خپل کتاب (پښتني ودونه) او احسان الله آرينزي په خپل کتاب (د وردګو د واده دود او بدلې) کې دا موضوعات په مفصل ډول ليکلي او معرفي کړي دي.

ددې سندرو د راټولونې په منظور مې په دوو ودونو کې هم ونډه واخيستله او هم مې له ښځو او نجونو نه دپوښتنې په ډول ثبت کړې اوله دې سره مې ځينې متلونه او دښې شپې فالونه هم راغونډ کړي دي او هيله منه يم چې په راتلونکي کې يې تر بشپړونې وروسته يوځاى د کتاب په بڼه چاپ او خپاره کړم.

يوه بله خبره چې بايد له تاسو سره يې شريکه کړم دا ده، چې ما د ځينو ستونزو او رسمي بوختياوو له امله ونه شواى کړاى چې په وردګو کې ډېر وخت تېر کړم، په کليو وګرځم او ډېر مواد راټول کړم، ځکه هغه ښځې چې له لرې پرتو کليو نه واده ته راغلې وې ويل يې که زموږ کلي ته راشې، هلته ډېرې بدل زنې (بدلې ويونکې) ښځې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شته چې زښته زياتې بدلې يې زده دي او آن د ناوې د بړستنې ګنډلو او پښه خلاصي پرمهال هم رنګ، رنګ بدلې وايي، خو زموږ يې ډېرې اوس هېرې شوې دي، که په راټلونکي کې مې دغو کليو ته د تګ موقع ترلاسه کړه، نو خامخا به ورځم او هغه نا ليکلې بدلې به، چې د دغو ښځو په حافظو کې ذخيره او د هېرېدو په حال کې دي راټولوم.

د فولکلور په برخه کې زما دا لومړنی تحقيقي اثر به کېدای شي نيمګړتياوې هم ولري او ښايي د ځينو دودونو ليکل را څخه پاتې شوي وي، خو هيله منه يم چې لوستونکي به يې را په ګوته کړي.

داسندرې چې په کليو بانډو کې خوله په خوله انتقال مومي ځينې يې تاريخي قدامت نه لري اوداسې نوي لغات، لکه طياره، موټی يا موټيان (فلانکوچ موټر) ټونيس او ... په کې ترسترګو کېږي.

د دغه اثر د ترتيب په لړ کې راسره زما ټولګيوالو هر يوه ښاغلي نورالله اورياخيل او سيدنظيم سيدي مرسته کړې او يو شمير کتابونه يې زما په اختيار کې راکړي وو چې ترې مننه کوم.

په درنښت

ساره سادات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

انسان د دې کاینات هغه موجود دی چې د خلقت ټول عناصر یې په وجود کې راټول دي. همدا، انسان دی چې د کایناتو تربل هر موجود څخه زیات د دغه فطرت په اسرارو پوهېږي او یا غواړي ځان پرې پوه کړي، ځکه خو ورته د ځمکې د خلافت ستر رسالت ور په برخه شوی دی. د ټولنیز شعور له لوړېدو سره سم یې په ذهن کې ډېرې پوښتنې پیدا شي، د دې پوښتنو د ځواب موندلو په خاطر پلټنو ته مخه کړي او د ډېر تجسس له امله د طبیعت په ډېرو رازونو پوه شي، او د اوسنیو پر مخ تللیو او پراخو څېړنو او کشفونو اصلي سرچینه همدا ابتدایي تجربې او پلټنې دي.

انسان په لومړي سر کې کوښښ کوي د خپل محیط څرنګوالی وپیژني او کله چې یې د خپل چاپیریال په باب معلومات د تکامل مرحلې ته ورسیږي؛ نو بیا له خپله چاپیریاله بهر د فطرت په اسرارو پسې پلټنه پیل کړي، څرنګه چې د انسان د پیژندګلوۍ لپاره د هغه د کړو وړو، حرکاتو او سکناتو څیړنه مرسته کوي، په همدې ترتیب د یوې انساني ټولنې د پیژندنې یو غوره شاخص د هغې ټولنې د ژوندانه بېلابېل اړخونه دي چې باید وپیژندل شي او دا اړخونه په لومړي ګام کې د یوې ټولنې له افکارو او څرګندونو څخه پیژندلی شو چې د ژبنۍ پانګې شناخت یې ډېره غوره وسیله ده، د یوې ټولنې ژبنۍ پانګه د هغې ټولنې فولکلور احتوا کوي او له یوه نسل څخه بل نسل ته انتقال مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

د بشري ټولنو ترمنځ پښتانه هم یو داسې قوم دی چې ډېر لرغونی تاریخ لري او د ژوندانه ډېر اړخونه یې د دیواني ادب پر ځای په فولکلوریک ادب کې خوندي دي. د پښتنو په ذهنونو او حافظو کې د فولکلور ډېر داسې توکي پراته دي، چې د خرافي جنبې تر څنګ پکې زیات ضروري او ګټور رازونه شته، چې د چېټاتو په نظر باید ورته ونه کتل شي، ځکه نو پوهېدل پرې حتمي دي.

په افغانستان کې د فولکلور په تېره بیا د کلیوالي یا ولسي او شفاهي ادبیاتو په برخه کې دومره کار نه دی شوی که شوی هم دی په نشت حساب دی.

د استاد حبیب الله رفیع د خبرې په تأیید مستشرقینو څه نا څه څېړنې او یادونې کړې دي خو هغوی زموږ له روحیاتو، ذهنیتونو او نفسیاتو سره دومره نه دي اشنا چې په هغه ډول چې په کار دي و یې څېړلای شي.

د دې لپاره چې دا قیمتي او ارزښناکه شتمني له لاسه ورنه کړو لازمه ده، د هرې سیمې خلک چې له ادب او ادبیاتو سره اشنا وي او هم د فولکلور ټولونې لارې چارې ورمعلومې وي په دې برخه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي.

ماکسیم ګورکي وایي: «خلکو په فولکلوري آثارو کې هغه هنري څېرې ښودلې دي چې په خلق کېدو کې یې له عقل، ابتکار، فکر او احساس څخه کاراخیستل شوی دی.» نوموړی زیاتوي «موږ هغه وخت د مبارزو انسانانو په تاریخ پوره پوهېدلی شو چې د فولکلور په باره کې یې جامع معلومات ولرو» (٦: ١١).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

عام ولس د دې شفاهي ادبیاتو او ښکلیو هنري تصویرونو اصلي مصورین دي. دا ښکلې پانګه زموږ د ولس او ملت د ټولنیز ژوند، ذوق او سلیقې ښکارندویي کوي او د دوی د ژوند مسیر تعقیبوي. بدلې یا سندرې هم لکه د فولکلور نورې برخې هغه اړین او په زړه پورې توکي دي چې ښځې یې تل په ښادیوکې د یوه ضرورت په اساس وایي او د نوموړیو د ژوند ټول کړه وړه، لوړې او ژورې، ښې او بدې، غمونه او خوښۍ، طرز تفکر، نړۍ لید، عقاید، تجربې، غوښتنې او اړتیاوې، مینه او نفرت، سیالۍ او هوسونه، غندنې او خوښونې، لویۍ او بېچاره ګۍ، نیستي او فقر، پټ او مبهم رنځونه، ښکاره ستونزې او داسې نور پکې منعکسوي. او همدارنګه د پښتو ژبې اصلي جوهر په شفاهي ادبیاتو کې پروت دی په دې لړ کې، همدا سندرې د دوی د فطرت او روحیاتو ترجماني کوي، د پښتنو تاریخ، کړه وړه، اصل او نسب ټول رانغاړي.

دخلکو اوصاف، مادي او معنوي تجربې، عامیانه اطلاعات چې د خلکو په حافظو کې ځای لري او یا په محیط او چاپېریال کې د دود او رسم په شان موجود وي ټول پکې خوندي دي او هم  د ملتونو د ادبي پنځونو لومړنۍ نښې، خلاقیتونه او تجربې دي او له اوسني ادب سره لکه د ځنځیر کړۍ پتلیزدي، د اوسني (د بشپړتابه مرحلې ته رسېدلي ادب) سرچینه او بنسټ هم ګڼل کېږي.

پښتني ادب په تېره بیا د ښادۍ سندرې سره له دې چې زرنه مري؛ ځکه چې تل د حرکت په حال کې دي او زموږ له ژوند سره سمې پر مخ روانې دي او نسل په نسل، له یوه کلي نه بل کلي او له یوې خولې نه بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خولې ته انتقالیږي، خو بیا هم ولسونو ته د مدنیت او نوې میډیا د ور دننه کېدلو له امله د دې ادبیاتو د ورکېدو او هېرېدو وېره شته.

په دې اړه د هېواد تکړه لیکوال او فولکلور څېړونکی ښاغلی حبیب الله رفیع خپل نظر داسې وړاندې کوي:

«کوم وخت چې د فولکلور او پخوانیو اساطیرو بېلا بېلې لارې چارې او ډولونه تر ژورې کتنې لاندې ونیسو نو په ښکاره ډول به ووینو چې دا اساطیر او روایات د لومړنیو توکمونو یوه قدنما هېنداره ده او د دوی فلسفي نظریات، طرز فکر او نور خصوصیات پکې په واضحه توګه لیدلای شو. څرنګه چې د فولکلور زیاته برخه افسانې او روایات تشکیلوي، نوځکه د تاریخ په اوږدو کې د بشر بېلو- بېلو ډلو، ټپلو او توکمونو د خپل ژوند او وخت له شرایطو سره سم د افسانو او روایاتو په جوړولو لاس پورې کړی او همدا د دوی امثال، روایات او افسانې دي چې اوس د دوی طرز تفکر، عقاید او نور خصوصیات موږ ته راښکاره کوي.

د بشر د تمدن د چټک پرمختګ او خصوصاً د عمومي فرهنګ د دایرې د پراخېدو او د اجباري لومړنیو زده کړو او د عوامو د باسواد کیدلو له کبله د دې زیاته وېره موجوده وه چې فولکلوري ذخایر محوه او له منځه ولاړ شي او ځای یې تاریخي روایات یا علمي محفوظات ونیسي نو له دې کبله لومړی په اروپا کې یو شمېر علماو، پوهانو او د فولکلور علاقمندانو د دې ملي ذخایرو په راغونډولو لاس پورې کړ چې نه یوازې د خپلو سیمو د فولکلور راټولولو بلکه د ختیځو هېوادونو د فولکلور راټولولو ته یې هم ملا وتړله او هم د ختیځو هېوادو پوهانو په دې کار لاس پورې کړ، خو څرنګه چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

مخه کې يې زيات خنډونه او موانع موجود وو نو ځکه يې يا بېرته لاس ترې واخيست او يا يې شمېر ډېر محدود ؤ.

کومه ټولنه چې مخ ته تللې د هغې ټولنې فولکلور له منځه تللی او خپل ځای يې تمدن ته پرې ايښی دی خو په کومه ټولنه کې چې مدنيت اغيزه نه ده ښندلې او د ژوند سويه يې وروسته پاتې ده هغلته فولکلور په خپل شکل پاتې دی. پښتني ټولنه هم چې خپل روښانه کلتور او فولکلور لري د ژوند په ټولو چارو کې يې فولکلوري مظاهر ليدل کېږي چې مدني وسايل تر اوسه پورې متأسفانه نه دي ورته برابرشوي او خلک يې اته نوي په سلو کې (۹۸٪) بېسواده دي نو ځکه د دوی فولکلور ډېرغني دی او دا زموږ وظيفه ده چې د خپل فولکلور د راغونډولو لپاره لېچې وغړوو او په زياته حوصله او پوره متانت داری سره خپل فولکلوري آثار راغونډکړو» (٦ : ۹-۱۰).

د ولسي فولکلوري ادبياتو په ايجادولو کې تر نارينه وو نه د ښځو ونډه زياته ده، په تېره بيا د ښادۍ د سندرو او لنډيو برخه هم دوی ډېره پياوړې کړې او کوي يې.

کله يې له ځان سره زمزمه کوي او کله يې هم د ښاديو په مراسمو کې لکه ودونه، د ماشوم د پيدا کيدو پر مهال، په اخترونو او داسې نورو غونډو کې وايي.

د برات ښه شپه هم په وردګو کې د ناوې جوړولو او فالونو په اچولو سره په ځانګړي ډول لمانځل کېږي او په دې وخت کې هم ښځې بدلې بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د څېړنې هدف

له دې څېړنې نه مې عمومي هدف د ماسټرۍ د تيزس ليکل او د فولکلور د يوه مهم او ارزښتناک جز (د ښادۍ د سندرو) راټولول او خوندي کول ؤ. او بل دا چې لوستونکي به په دې خبرشي چې په کليو او ولس کې ښځينه ادب په ډېره لوړه کچه خوندي او بکر پروت دی. سروکي، لنډۍ اود ښادۍ سندرې تر ډېره د مېرمنو مال دی او لا تر اوسه هم کليوالې پيغلې او نجونې د دې برخې په را منځ ته کولو کې لوی لاس لري، ځکه چې نارينه يا باسواده او يا هم په ټولنه او کورنۍ کې د بشپړ واک او اختيار خاوندان دي، هر څه يې چې په ذهن کې وګرځي د شعر يا نثر په کالب کې يې د کاغذ پر مخ ليکلی او ويلی شي او د خپل نامه د راوړلو په صورت کې هم له کومې ستونزې سره نه مخ کېږي، مګر پښتنې ښځې بيا دا کار نه شي کولای له ډېرو محدوديتونو او ناخوالو سره مخ دي او د دوی د عواطفو او احساساتو د بيانولو ډېره ښه وسيله هم د دغه ډول سندرو او يا ادبياتو لويه ذخيره ده چې په خپلو اذهانو کې يې ساتلې وي.

نو تر نارينه وو نه مېرمنې د دې ډول موادو په را ټولونه او ليکنه کې ښه کار کولای شي، او بل دا چې په کليو کې ښځې له نا محرمو نارينه وو نه ستر کوي، په ودونو او نورو لويو غونډو کې د ښځو په منځ کې د نارينه وو کېناستل شرم او عيب ګڼل کېږي، ځکه په داسې غونډو کې له نورو ځايونو نه راغلې ښځې له سړيو نه مخ پټوي او مېرمنې په آزادانه توګه په ښځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

مجلسونو کې په ګډون سره په ډېره ښه او طبيعي بڼه د دوی له خولې نه سندرې ليکلی يا ضبطولی (ثبتولی) شي.

که نارينه دا کار کوي له خپلو خپلوانو نه به د پوښتنې او ګروېږنې په صورت کې مواد راټولوي او هغه دومره طبيعي رنګ ځکه نه لري چې سمدلاسه ښځو ته دومره سندرې نه ورپه يادېږي؛ خو که په تاوده محفل کې ناستې وي په طبيعي ډول د دوی خولو ته بدلې راځي او هره صحنه په ډېر ښه انداز په سندرو کې ترسيموي، نو يو بل هدف هم په طبيعي توګه د دې سندرو راټولول او د دې برخې بډاينه وه، ما پرته له کوم قيد او شرط نه په ودونو کې ونډه اخيستې او هم مې سندرې ترې راټولې کړې، ليکلې اوحتی ريکارډ کړې دي. او هم مې غوښتل چې د نورو باسواده نجونو او مېرمنو پام دې برخې ته واوړي، چې د دې ناليکلي ادب په ليکنه او راټولونه کې زيار وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتني سندرو مخينه يا شاليد

سندرې يا بدلې په پښتو شفاهي ادب کې ډېره لرغونې سابقه لري او پوهانو يې د ډېرو پخوانيو ژبو - چې د پښتو په ګاونډکې يې ژوند کاوه - سره پرتله کړې او دا يې ثابته کړې چې پښتو ژبې لا ډېر پخوا بډای فولکلور او د سندرو ډول، ډول نمونې درلودې خو د زمان او مکان سره په ارتباط کې يې په شکل او مضمون کې بدلونونه رامنځ ته شوي دي. په دې هکله ښاغلي حبيب الله رفيع په خپل کتاب (د خلکو سندرې) کې ډېرې څرګندونې کړې چې دلته به يې ځينې د دې ادعا د ثبوت لپاره وړاندې کړم، نوموړی وايي:

«د موجوده پلټنو په رڼا کې د پښتنو د ولسي سندرو لاس ته راغلې نمونې له اسلام څخه راوروسته دي خو څرنګه چې پښتو يوه ډېره لرغونې ژبه ده نو دا لازمه ده چې پښتو به له اسلام نه د مخه هم هرومرو شعر او ادب درلود او دا ځکه چې هغه نورې آريايي ژبې چې د پښتو ژبې خويندې بللې کېږي، لکه اوستا، سانسکرت او ... د ډېرو خوندورو او زړه وړونکو اشعارو لرونکې دي او د ملي اشعارو نمونې يې لا تر اوسه هم پيدا کېږي، نو څرنګه چې تاريخي سندونه د پښتو وجود هم د اسلام نه زرګونه کاله تر مخ ثابتوي نو دا هم بايد ومنله شي چې پښتو به په هغه وخت کې هرومرو شعر، ادب او سندرې درلودې او پښتنو به د خپلو مذهبي، د ښاديو مراسمو او نورو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سندرې ویلې خو متأسفانه چې اوس ورکې دي او د ورکوالي سبب خو یې دا دی چې چا نه دي لیکلې او حتی تر اوسه لا هم د پښتو ولسي سندرې نه دي لیکلې شوې، یوازې د پښتو ټولنې له خوا یې یوه برخه په ځینو مقالو او هم ځانګړیو کتابو کې راټولې شوې او خپرې شوې دي، سره له دې هم ټولې نه دي خپرې او اکثره برخې یې یوازې او یوازې د پښتنو په خوله کې د میراث په توګه له یوه څخه بل او له بل څخه بل ته را پاتې شوې دي» (٦:٢٤).

بل ځای د سندرو په اړه داسې یادونه کوي:

«دا برخه د پښتو تر ټولو اشعارو او ادبیاتو پخوانۍ او لرغونې ده او ګومان کېږي هغه وخت چې پښتو د آریک ژبې څخه بېلېدله نو له هغه وخته را په دې خوا به د پښتو عمومي سندرې رواج شوې او پښتنو ویلې وي، ځکه چې د تاریخي روایاتو او شواهدو له مخې موږ ته دا ثابته شوې چې آریایانو د واده مراسم، نورې مېلې، دودونه او دستورونه درلودل چې په دې ټولوکې به یې سندرې ویلې نو همدا راز پښتنو هم ښایي د دې دودونو او مراسمو لپاره خپل اشعار په کار اچولي وي او ځای په ځای او وخت په وخت یې سندرې ویلې وي.

د پښتو په عمومي سندرو کې د خوند خبره دا ده چې اکثره یې د ښځو له خوا ویلې شوې نو څرنګه چې د ښځې غږ مؤثر او اغیزناک دی همدا راز دا سندرې هم خوندورې، خوږې او لطیفې دي. په آریایي اقوامو کې ښځو له نارینه وو سره اوږه په اوږه په ټولو اجتماعي چارو کې برخه اخیسته او لوی مقام یې درلود، نو له دې سببه ؤ چې دوی د ادب په میدان کې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



له نارینه وو سره اوږه په اوږه کار کړي او حتی کله کله ترې اوښتې هم دي، په پښتنوکې اوس هم ښځې د آریایي اصولو په بنا له نارینه وو سره اوږه په اوږه کار کوي او په اجتماعي چارو کې ستر رول لري چې له دې سره سره د ادب په برخه کې هم له نارینه وو څخه وروسته نه دي پاتې او ډېر خواږه او زړه وړونکي ادبیات لري.

زما په خیال په پښتنو سړیو کې شاعران یویو دی خو ښځې ټولې شاعرانې دي ځکه د واده په مراسمو او نورو دودونو کې ښځې فی البدیهه د حال له غوښتنې سره سمې سندرې جوړوي او بې له دې چې تأمل په کې وکړي وایي یې، مثلاً کوم وخت چې واده وي ډېرې داسې سندرې اورو چې بیخي نوې او د حال په غوښتنه برابرې وي همدا راز چې کوم مړی وي نو دوی د زړه له ډېره درده د حال سره برابرې منظومې ساندې وايي او د خپل ډېر درد او دوک تسکین پرې کوي ...» (٦: ۴٦-۴۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فولکلور ټولولواهمیت

د شکل او محتوا له پلوه د فولکلوریکو نمونو راټول خورا ستر ارزښت لري، فولکلور د شکل له مخې د یوه ولس د هر اړخیزې پوهې ترجماني کوي، په دغو نمونو کې داسې قوي ژبني چوکاټونه تر سترګو کېږي، چې د مصنوعي (بدیعي او بیاني) هڅې پر بنسټ یې رامنځ ته کول ناممکن بریښي، د ساري په توګه؛ لنډۍ هغه ولسي فورم یا شکل دی چې په یوه واړه بیت کې ډېر ستر مفاهیم ځایوي او دې فورم ته په کوزه کې د سیند ځایولو مصداق هم ورکول شوی دی. په همدې ډول د محتوا له پلوه د یوه ولس د فولکلور پېژندنه د هغه ولس د مشخصاتو او ممیزاتو څرګندویه ده، په ولسي پانګه یعنې: سندرو، بدلو، بوللو، ټپو، سروکو، چاربیتو (څلوریزو) او نورو کې د یوه ولس کړه وړه، بریالیتوبونه، نیوکې، ناخوالې او د ژوندانه بېلابېل اړخونه په ګوته کېږي، د پښتنې ټولنې غړي چې زیاتره یې د بیسوادۍ له کبله له دیواني ادب څخه لرې پاتې دي د خپل ژوند احوال یې په ولسي پانګه کې خوندي کړي دي، د مثال په ډول؛ یوه میرمن چې د کلتوري قیود له کبله په عامه ژبه پر میړه نیوکه نه شي کولای په ټپه کې ورته هغه مهال چې میړه پرې ظلم کړی وایي:

پرڅان د ګلو لښته نه اخلې – پر مادې تېرکړل د کوتکو ګذارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا هغه مظلوم چې د عدل غوښتنې په موخه عدالت ته تللی او حاکم ورته د انصاف ورکولو پر ځای پر مخ څپېړه ورکړې په ډېره نرمه ژبه او ټراژېډي انداز په یوه ټپه کې داسې وایي:

تا چې څپېړې پرمخ راکړې – د اوښکو ډکې سترګې چاته واړومه

ښاغلي زلمي هېوادمل هم د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې د شفاهي ادبیاتو ارزښتونه په ګوته کړي دي، نوموړی وایي: «تر اوسه چې د پښتو ژبې د شفاهي ادبیاتو کوم مواد موږ ته په لاس راغلي د هغو له مطالعې څخه ښکاري چې د پښتنو د اجتماعي، ملي، سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ژوند ټولو خواوو د دې ادبیاتو په بېلابېلو ډولونو کې انعکاس موندلی دی، او د پښتنو د فرهنګ په څېړنه کې دقیقه استفاده ترې کولای شو، او هم راټول شوي توکي له تصنع نه خالي دي او ډېر طبیعي رنګ لري، ځکه نو د اجتماعي علومو څېړونکي کولای شي له دې ډول بیاناتو نه د اصلي او اساسي موادو په توګه کارواخلي.

په دې ادبیاتوکې په ډېر لوړ انداز د ښکلا او تصویرونو راوړل د کلیوالو خلکو د هنري ذوق او فکري ودې ښکارندویي کوي او دا ترې جوتېږي چې عام ولس د اجتماعي او محیطي مسایلو په باب خاص فکر درلود.»(۱۴:۲۱)

نو هغه وخت چې د خلکو د ژوند پېښو، د ژوند تېرولو د روشونو او طریقو، کړنو، دودونو او دستورونو، عقایدو، خلاقیتونو، ذوقونو او سلیقو د ثبت او لیکلو لپاره وسایل نه وو خلکو به دا پېښې خپلو حافظو او اذهانو ته سپارلې او د انتقال وسیله یې هم ژبه او روایات وو، چې د ایجاد له وخت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اوسه خوله په خوله رانقل شوي او د وختونو په تېرېدو سره يې په شکل او مضمون دواړو کې جوت تغيير راغلی دی، خو له دې اوښتنو او بدلونونو سره سره که په سمه توګه وڅېړل شي ډېر ضروري مواد او تاريخي حقايق او هم د ملتونو د ټولنيزژوند، قومي جوړښتونو، روحياتو، ذهنيتونو، عنعناتو او باورونو په اړه ډېرڅه ترې تر لاسه کېدای شي، چې د بشر پېژندنې، د تاريخي حقايقو د رابرسيره کولو او د يوې ژبې د تاريخي سير، پرمختګ او د تحولاتو له څېړنې سره پوره مرسته کولای شي.

پښتني فولکلور ډېرغني دی، د پښتنو ملي فرهنګ او کلتوري ميراث پکې ځای شوی دی. او همدا ډول د پخوانيو خلکو هنري ذوقونه، سليقې، پېژندګلوي، قبيلوي جوړښت، فکر، تاريخي ميراثونه، د ودونو، دودونو او نورو په اړه موږ ته معلومات راکوي، په دې ټولو پوهيدل او لاس ته راوړل يې د فولکلور ټولونې له لارې کېدای شي، نو بايد دا قيمتي خزانه د له منځه تللو نه وساتل شي اوله لاسه مو ونه وځي او په راټولونه او خوندي توب کې يې هر اړخيزې هلې ځلې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سندرو لومړي ټولوونکي

پښتو ژبه د اسیایي ژبو ترمنځ هغه زړه ژبه ده چې تر دیواني ادب څخه يې ولسي پانګه په هر اړخیزه توګه غښتلې او پیاوړې بریښي، لکه څرنګه چې لازمه ده د پښتو ژبې دغه غني برخه په هغه ډول نه ده څېړل شوې، خو لومړی ځل په ۱۳۱۸ هـ ل کال مرحوم استاد محمد ګل نوري د پښتو ژبې بېلابېلې سندرې لکه کاکړۍ غاړې، د واده بدلې، سروکي، ټپې او نور ... راټولې او په ۱۳۲۳ هـ ل کال د ملي سندرو په نامه دیوې مجموعې په بڼه د پښتو ټولنې له خوا خپره شوه، مګر استاد محمددین ژواک په همدې کتاب کې ځینې نورې لنډۍ ورزیاتې کړې او د دویم ځل لپاره يې په ۱۳۳۴ هـ ل کال کې د پښتو ټولنې له خوا د پښتني سندرو په نامه چاپ کړ.

تر دې وروسته ښاغلي ضمیرساپي همدا لړۍ وغځوله او د دویم ټوک په توګه يې ځینې نور ولسي شعرونه، چاربیتې، بدلې، سروکي او نور... راټول او چاپ کړل.

تر ۱۳۴۵ کال را وروسته ښاغلي حبیب الله رفیع (دخلکو سندرې) په نامه ګڼ شمیر داسې شعري نمونې چې پخوا پرې کار نه ؤشوی راټولې او په ۱۳۴۹ هـ ل کال يې د تاریخ ټولنې له خوا دا ټولګه خپره کړه. او پردې سربېره يې د (پښتني ودونه) کتاب کې یو شمېر نورې د ښادۍ سندرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثبت او خوندي کړې دي، چې په ۱۳۸۱ کال دافغانستان دمرستو مرکز (CCA) له خوا چاپ شوی دی.

په همدې ترتیب په ٦٠ مه لسیزه کې ښاغلي احسان الله آرینزي هم یولړ ولسي سندرې را ټولې او په دې وروستیو کې یې د (د وردګو د واده دود اوبدلې) نومي کتاب کې خپرې کړې او د پیښور پښتو اکاډمۍ هم په دوو سترو ټوکونو کې د (روهي سندرې) په نامه ګڼ شمېر لنډۍ د آغلې سلما شاهین تر څارنې لاندې راټولې او چاپ کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښادۍ د بدلو ټولوونکي

د ښادۍ بدلې پخوا هم راټولې شوې دي، چې ښاغلي زلمي هیوادمل د (غرنۍ سندرې) په سریزه کې د دې سندرو سوابق داسې وړاندې کړي دي:

۱- ټولې هغه بدلې چې مرحوم غلام جیلاني جلالي د (پښتو ځانتنی ادب او موسیقي) په مقاله کې د خرڅباڼو بدلې، د پلیو وراباڼو بدلې، د سپرو وراباڼو بدلې، د ناوې د را ایستو بدلې، او د ناوې د سپرېدو بدلې ترکوچنیو عناوینو لاندې راوړي او شرح کړي، ټولې د ښادۍ بدلې دي (۹۲).

۲- هغه ۱۱۲ بدلې چې مرحوم نوري په ملی سندرې (۹۳) کې د بابولالې په نامه راوړي، اوبیا د پښتني سندرې د لومړي ټوک (۹۴) ټولونکو له هغه کتابه را اخیستې او په همدې نامه یې خوندي کړي، ټولې دښادۍ په بدلو کې شمارل کېږي.

۳- هغه بدلې چې په (پښتني دودونه) نومي کتاب کې ښاغلي واسعي د کندهار دودونه په مقاله کې (ص ۵۱، ۵٦ ) ښاغلي اتمان د پکتیا دودونه په مقاله (ص ۱۷۳، ۱۷۵، ۱۸۳، ۱۸٦،۱۸۷۵ ) (د ۱۳۳٦ ش کال د پښتو ټولنې چاپ) کې راوړي ټولې دښادۍ بدلې دي.

۴- هغه بدلې چې ښاغلي محمد ابراهیم عطایي د «هلمند د کلتور په ساحه کې» نومي اثر (ص ۴۹ – ۱۳۴۱ ش کال د لشکرگاه چاپ) او هلمند نومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب (ص ٦٦ – ٦٧ – د ۱۳۴۴ کال چاپ – کابل) کې ضبط کړې دي، ټولې د ښادۍ په بدلو کې حسابیږي.
۵- د هغو سندرو نمونې چې ښاغلي عبدالقدوس نجیب د کندهار مجلې د ۱۳۴۹ ش کال په نهمه ګڼه، ۲۲ مخ کې د «بابولاله» تر سرلیک لاندې، او بیا هم د کندهار د سیمو هغه سندرې چې ښاغلي محمد ولي ځلمي په «کندهار» نومي اثر ص ۲۵۷، ۲۵۳ د ۱۳۵۱ ش کال چاپ کې راوړي دي، ټولې د ښادۍ په بدلو کې شمارل کېږي.
٦- عبدالقدوس پوپل د ۱۹٦۸ ع کال د ولس مجلې د کال ګڼې په ۱۰۴ مخ کې د کوټې د سیمو په پښتنو کې د موجودو دغه ډول بدلو نمونې راوړې دي، چې د ښادۍ د بدلو د څېړنې په مهال کې یې نه شوهیرولای.
۷- هغه بدلې چې ښاغلي حبیب الله رفیع «د وردګو دودونه» (۹۵ ) نومي اثر او په «د خلکو سندرې» کې د بابولالې تر سرلیک لاندې خوندي کړې دي ټولې د ښادۍ په بدلو کې راځي، دغه بابولالې نوموړي رفیع د آریانا مجلې د ۲٦ کال په پنځمه ګڼه ص ۵۷- ۵۹ او شپږمه ګڼه ص ۴۴- ۵۵ کې هم خوندي کړې دي.
۸- هغه بدلې چې پروفیسور محمد نوازخان طایر «د ټپې معاشرتي تجزیه» نومي رساله کې د «خوابښې نږور» تر سرلیک لاندې راوړې دي، د ښادۍ بدلې دي (۹۷) نوموړي پروفیسور په روهي ادب ج ۱ ص ۲٦۸ - ۲٦۹کې هم د ښادۍ د بدلو څو نمونې راوړې دي.
۹- هغه بدلې چې پروفیسور سیال کاکړ په پښتني فولکلور نومي اثر کې «د ګونډۍ سندرې» تر عنوان لاندې راوړې د ښادۍ بدلې دي (۹۸) همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي سیال کاکړ په ترینو، نومي رساله ص ۳۵- ۳٦ کې «دالله مورې» تر سرلیک لاندې د ترینانو د ښادۍ ځینې بدلې هم ضبط کړې دي.
۱۰- ښاغلي محمدعلي منګل په فولکلوري ګېډۍ کې«د واده په دود کې د ښځو سندرې» (۹۹) تر سرلیک لاندې او په ولسي پوهه کې د «د واده دود» (۱۰۰) د اوږده بحث په بېلابېلو برخو کې سندرې خوندي کړې دي. نوموړي منګل د زېري جریدې د ۱۹۵۹ کال په ۴۰ ، ۴۱- ۴۲ ، ۴۴ – ۴۵ ، ګڼوکې د واده په وخت (د خېښو پامونه) تر سرلیک لاندې څلور مقالې خپرې کړې دي، چې په دغو مقالو کې د ښادۍ د بدلو ډېرې نمونې هم راوړل شوې دي. دا چې دغه سندرې څومره نوې او څومره د ده له نورو لیکنو سره تکرار لري، ځانته بېله خبره او بېل بحث دی، خو یوه بله موضوع چې دلته پرې ګړېږم دا ده، چې نوموړي ګران ورور د ښادۍ بدلو ته د خېښو پامونه وایي. پامونه ده په خپلو آثارو او مقالو کې د سروکو په معنی پېژندلي دي (کابل مجله، د ۱۳۵۹ کال نهمه ګڼه ۸۵ مخ، ۱۰ ګڼه ۵۳ مخ) او د خېښو سندرې یا بدلې خو د ښادۍ بدلې، او زموږ د فولکلور جلا صنف دی.
۱۱- مرحوم غلام محمد ترکي (۱۳۵۷ ش مړ) د پښتنو دودونه نومي اثر د کوژدې او واده د دودونو (۱۰۱) د څېړلو په ترڅ کې او محمد اسلم قربان خېل په فولکلور (۱۰۲) نومي رساله کې چې د اندړو په دودونو خبرې کړې، د واده د دود د تشریح په لړ کې یې د دغو سندرو ډېرې نمونې هم خوندي کړې دي.
۱۲- ځوان فولکلور ټولونکي عبدالکریم پتنګ په خپل یوه نوي اثر (د غرونو څوکې) (۱۰۳) په (۱۳- ۲۰مخونه) (د ۱۳۵۹کال چاپ – د فلالوژۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنځي خپرونه) کې د دغو سندرو ځينې نمونې چې – يې د خوست له مرکزي سيمو راټولې کړي – خوندي کړې دي.

۱۳- د فولکلور مجلې تفاريقو د دغو سندرو نمونې او د دغو سندرو په باب نور تشريحات په خپلو پاڼو کې چاپ کړې دي (۱۰۴) .

۱۴- د ښادۍ د بدلو يوه مغتنمه مجموعه پروفيسور ولي محمد سيال کاکړ په کوټه کې خپره کړې ده (۱۰۵). دغه مجموعه ۲۰۰ بدلې لري، نوم يې «فولکلوري جواهر» دی، دغه مجموعه ډېرې ښې ګڼې او نوې خبرې لري، خو د دې تر څنګه ځينې د يادونې وړ ټکي هم پکې پيدا کېږي، چې دلې پرې بحث موضوع اوړدوي.

۱۵- ښاغلي بسم الله حقمل په خپل ناچاپ اثر «د تېيو د کلتور او فولکلور څېړنه» کې د ښادۍ د سندرو ځينې نمونې خوندي کړې، او هغه مقالې چې يې د ۱۳۵۹ کال د کابل مجلې په ځينو ګڼوکې خپرې شوي هم د دغه ډول سندروځينې نمونې لري (۱۰٦).

۱٦- په (غرنۍ سندرو) کې د عارف غروال دغه راټولې کړې بدلې زموږ د دغه ډول بدلو يوه ورکه کړۍ ده، چې د نورو کړيو په بشپړېدو سره به يې زموږ ددغو سندرو لړۍ ښه پسې بشپړه شي. غروال چې کومې سندرې په دې برخه کې راوړې ځينې يې د ښادۍ بدلې دي، خو د دغسې بدلو ترڅنګه يې ځينې عام سروکي هم په دې سندرو کې خوندي کړې دي (۱۲:۱۱۰) .

۱۷- په همدې ترتيب په (پښتني دودونه کتاب چې په ۱۳۳٦ لمريزکال کې دپښتو ټولنې له خوا په دولتي مطبعه کې چاپ شوی دی) کې غلام محمد تره کي په ۵۱ مخ کې د کندهار د ښادۍ سندرې راوړې، په ۵٦ پاڼه کې يې بابولالې راوړې، او په ۱۷۳ مخ کې يې د ناوې د سر اړولو په اړه سندرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوندي کړې دي. همدارنګه په ۱۷۵-۱۸۵-۱۸۶-۱۹۱ مخونو کې د خوړې باندې کولوسندرې، ناوې ته د ملګرو له خوا ویل کیدونکې سندرې او همدا ډول د واده د نورو مراسمو او مواردو په هکله سندرې را ټولې شوې دي چې ټولې د ښادۍ سندرې ګڼل کیږي.

۱۸- (افغاني موسیقي) نومی کتاب چې ښاغلي محمد دین ژواک لیکلی او په ۱۳۷۰ کال کې د افغانستان دهنرمندانو دټولنو د اتحادیې له خوا په آریانا مطبعه کې چاپ شوی په ۳۲،۳۳،۳۶،۳۸، ۴۷،۵۳،۵۴،۵۷او له ۱۰۱- ۱۰۷ پورې پاڼو کې یې د موسیقۍ له ریدم سره د واده سندرې را غلې دي چې دا هم د ښادۍ په بدلو کې شمیرل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په وردګو کې د ښادۍ بدلو د ټولولو لومړنۍ هڅې

د وردګ د کليمې شاليد په ډېرو زړو تاريخي متنونو کې پر همدې حال ذکر شوی او د پښتني قبيلې دغه پرګنۍ ډېرې داسې ژبنۍ نمونې لري چې خورا اوږد بحث پرې کيدای شي، داسيمه هم د نورو پښتنو سيمو په شان ګڼ شمير شريکې او ځانګړې بدلې، سروکي، ټپې، چاربيتۍ (ځلوربزې) او نورې شعري نمونې لري چې ښايي د تحقيق او پلټنې لپاره هميشه زيات موارد ولري، خو په لومړي سرکې ښاغلي حبيب الله رفيع چې پخپله هم د وردګو د سيدآباد سيمې اوسيدونکی دی، دغې موضوع ته ځير شوی او د وردګو د سيمې مشخصو بدلو، سروکيو، ټپو او نورو ټولولو ته يې ملاتړلې ده.

نوموړي تر ۱۳۴۵ کال را وروسته (دخلکو سندرې) په نامه ګڼ شمېر داسې شعري نمونې چې پخوا پرې کار نه وشوی راټولې او په ۱۳۴۹ هـ ل کال کې يې د تاريخ ټولنې له خوا دا ټولګه خپره کړه. او پر دې سر بېره يې د (پښتني ودونه) کتاب کې يو شمېر نورې د ښادۍ سندرې ثبت او خوندي کړې دي چې په ۱۳۸۱ کال کې د افغانستان د مرستو مرکز (CCA) له خوا چاپ شوی دی.

په همدې ترتيب په ٦٠ لسيزه کې ښاغلي احسان الله آرينزي هم يو لړ ولسي سندرې راټولې او په دې وروستيو کې يې د (د وردګو د واده دود او بدلې) نومي کتاب کې خپرې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دې څېړنې ارزښت

که څه هم پښتو ژبې د زمانې د ډېرو حوادثو پر وړاندې خپل ګڼ شمېر دیواني اثار له لاسه ورکړي خو له نیکه مرغه دا ژبه یو داسې غني فولکلور لري، چې په هره برخه کې کولای شي د نړۍ له نورو ژوندیو ژبو سره سیالي وکړي. د پښتو ژبې د فولکلوریکو فورمونو اغیز د پښتو ژبې پر دیواني اثارو کې څرګند دی او که چیرې دهر صاحب دیوان پښتانه شاعر دیواني شاعري مطالعه کړئ د فولکلوریکو فورمونو له اغیز څخه به خالي نه وي، مګر تر اوسه پورې د اړتیا وړ داسې څېړنې نه دي ترسره شوې چې پښتانه د خپل فولکلور پرځرنګوالي، اهمیت، موقعیت او کمیت وپوهوي. له همدې امله ورځ تربلې د پښتنو په محفلونو کې د فولکلور ځای د پردیو ژبو نوښتونو ته خالي کېږي او پښتانه هنرمندان چې په طبیعي ډول د پښتني فولکلور د ترویج او ترغیب هڅوونکي دي کوښښ کوي، چې خپلو اوریدونکیو ته د نورو ژبو اثار وړاندې کړي. د دې لپاره چې د پښتني فولکلوریکو فورمونو په اړه هر اړخیزې او نوې څېړنې پیل شي کوښښ مې وکړ چې د نالیکلي ادب دا څو سندرې راټولې او له لوستونکیو سره یې شریکې کړم.

کومې سندرې چې ما راټولې کړې ټولې نوې دي او هم مې د ویلو له حالاتو سره د واده له لومړۍ پرېکړې نه د واده تر پایه په ترتیب سره راوړې دي او لکه مخکې مې چې یادونه کړې ده د وردګو د واده د دود او دستور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تشریح او توضیح په برخه کې مې له اختصار نه کار اخیستی، ځکه چې ښاغلي استاد حبیب الله رفیع او ښاغلي احسان الله آرینزي په مکمل ډول معرفي کړي دي، خو بیا هم هغه څه چې د دوی له قلم نه پاتې شوي او یا هم د دوی په ځای یا اړونده سیمه کې چې نومړیو یې دود لیکلی په ځینې ځایونو یا برخو کې د جغتو له سیمې سره توپیر لري ما یاد کړي دي او هغه باید تکرار ونه ګڼل شي.

په همدې توګه د ښاغلي آرینزي د کتاب تر لوستلو وروسته ځینې داسې ټکي زما مخې ته راغلل چې د وردګو د جغتو ولسوالۍ په هغه سیمه کې چې ما یې څو سندرې راټولې کړې او هم شاوخوا کلیو سره یې د واده په دود کې توپیر شته، نو لازمه ده چې دلته یې لنډه یاودنه وکړم. مثلاً نومړي دخپل کتاب په۷۷ مخ کې د نجونو د خوښونې، ښایست او ودوزن په برخه کې ویلي: «هغه نجونې چې ډېرې ښایسته نه وي هم ودېږي یا یې کوم مشر سړی په نکاح اخلي، یا په کوچیانو او نورو قومونو واده کېږي او یا یې کوم عیبجن ځوان غواړي».

خو په جغتو کې – په هغو څو کلیوکې چې ما بدلې ترې راټولې کړې - ما په دې اړه پوښتنه وکړه، نومړیو ویل چې موږ هیڅکله پرته له وردګونه له بل چا سره خېښي نه کوو او کوچیانو ته خو لومړی موږ ښځه نه ورکوو او په بل قدم کې خپله کوچیان نه غواړي له جایي والو نه ښځه وکړي، ځکه دوی وایي چې جایي والې نه اوښ (خې) کولای شي، نه کېږدۍ درولی شي او نه هم نورهغه درانه کارونه کولای شي، چې یوه کوچۍ ښځه یې کوي. دوی وایي، چې موږ په داسې یوه ښځه څه وکړو، ځکه په موږ کې دا دود دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښځې باید کېږدۍ ودروي، اوبه راوړي، اوښ څملوي یا یې خې کړي، د رمې پالنه وکړي، یعنې د شیدو لوشل او تر غوړیو یې کاله کول، د کېږدۍ پاکول او ډوډۍ پخول، بوټي راوړل او داسې نور ټول باید همدوی وکړي.

په جغتو سیمه کې سیدان هم شته چې دوی خو آن له ځایي خلکو (وردګو) سره هم خپښی نه کوي.

ښاغلي آرینزي د خپل کتاب په ۹۳ مخ کې د استاد رفیع له خولې نه ویلي: چې کله ښځې د پېغلې کتلو ته ورشي که یې په چل او ول ونه ګوري او د خپښې نیت پوخ وي؛ نو د پیغلې له کورنۍ څخه غواړي چې هغه پرې وګوري، د منلو په صورت کې پیغله پټ مخ راځي، بیایې مور یا مشره خور یا کومه بله مشره ښځه په ځانګړیو ادابو سره پلو لرې کوي ...

دا دود هم په هغه سیمه او هم زموږ په سیمه (چک) کې نه شته او که پېغله بې خبره وي راځي او دوی یې ګوري او که نه غیر له هغو نه په پټ مخ نه راوستل کېږي او نه یې هم د کورنۍ له خوا ورښودل کېږي.

بل ځای د کتاب په ۹۷ مخ کې وایي د پېغلې کورنۍ معمولاً دا ښه بولي چې ځوان ډېر وروڼه او خویندې ونه لري چې د دوی لور د هغوی په چوپړ کې ډېره ستړې شي، وردګ یکه (یوه زري) ځوان ته ترجیح ورکوي.

دا دود هم په هغه ځای کې چې ما یې بدلې راټولې کړې نه ؤ او برعکس دوی ویل موږ داسې زلمي ته چې ډېر وروڼه ولري ترجیح ځکه ورکوو چې که دا ځوان یووزری وي نو تربرونه یې ناروا وې ورسره کوي، او دی یې په یوازې توګه له عهدې نه شي وتلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ځای (۱۰۴ مخ) وايي چې د ولواره اخيستلو په هکله د سيمې سپين ږيري دوه- درې لامله يادوي، يو لامل چې يو پلار ولور اخلي دا دی چې خپل زوی ته واده پرې کوي او دويم دا چې که نيستمن وي خپل پورونه پرې خلاص کړي او يا يې درې – څلور کاله لاس وچلېږي او د کور د خرڅ وس ومومي او په پای کې غټ لامل دا دی چې که څوک خپله لور بې ولوره واده کړي او يا لږ ولور پرې واخلي، نو کليوال او نور خلک تبصرې کوي چې دا پيغله ناروغه وه، عمر يې زيات شوی ؤ کومه (خو) يا عيب يې درلوده او داسې نور؛ ځکه يې وړيا يا په ارزانه ورکړه چې بيا به بل ميړه ورته پيدا نه شي.

خو دا دلايل هم د هغې سيمې خلکو نه منل دوی ويل موږ ځکه ولور اخلو چې يوې ناوې ته کور پرې واخلو او بل چې زموږ خور او لور ته خسرګنۍ په ټيټه سترګه ونه ګوري چې پلار يې له کوره لوڅه او بې قدره وايسته (بې د کور له سامان نه) او دا اصطلاح هم هلته شته چې د خور او لور په ولواره څوک نه مړېږي.

په همدې توګه په ۱۱۸ مخ کې وايي: په ناسته کې راغلي مېلمانه د خپلو ټوپکو او نورو وسلو په ساتنه او څارنه مکلف دي او کوربانه دا حق لري چې کومه وسله، په يوه مناسب وخت کې د دوی له سترګو الونيه يا پټه او ګوښه کړي.

خو په اړونده سيمه کې دا رواج نه ؤ اوکه دچا څه ورک شي لوی عيب او شرم ګڼل کېږي. د خېښانو وسلې او داسې نور وسايل په يوه امن او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مناسب ځای کې اېښودل کېږي او کوربه یا د کور خلک د دوی د ځیزونو په ساتنه مکلف دي.

د کتاب په ۱۴۱ مخ کې راغلي چې لومړی ښځې جوړښت ته ځي، خو هلته دا دود هم نه شته او یوازې نارینه د جوړښت لپاره ځي.

او بل ځای (۱۴۵مخ ) کې ذکر شوي چې که زوم خیل د واده پیسې په حسنه قرض پیدا نه کړي له کوچیانو نه یې په سود اخلي. دا کار هم په نوموړې سیمه او شا او خوا کلیو کې نه ؤ.

د همدې کتاب په ۱۶۳ مخ کې وایي چې، وردګ د شوروا پخولو لپاره غوښه، اوبه او مالګه کټوو ته اچوي او له پیازو او مسالو څخه کار نه اخلي. په هغه کلي (د جغتو ولسوالۍ په هغه سیمه کې چې بدلې ترې ثبت شوي) وایي چې مور له ډېر پخوا نه د پیازو او مسالو څخه کاراخیسته؛ خو په اوسني ډول چې ډېر ډولونه لري نه وه، یوازې یو ډول ساده مساله به دیګ ته اچول کېدله، یوازې د لاندي له غوښې مو چې شوروا پخوله له مسالو مو کار نه اخیست.

په ۱۷۲ مخ کې یې ویلې چې زوم خیلو به په واده کې سربېره پر ډمانو ځینو کورنیو به بیا سازیان او سندرغاړي له کابل او لوګر څخه راوستل چې ډېر ځوانان به ورته راټولیدل له داسې سندرو سره به هلکان هم نڅېدل.

دا دود هم هلته نه شته، یوازې د کلي او کلي ته نژدې اوسېدونکي ځایي ډمان چې ساز او آواز یې زده وي، د واده په شپه د سیل جوړولو لپاره راوستل کېږي او د واده په ورځ بیا هغه چې ډول وهل یې زده وي راغوښتل کېږي او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

په ۱۷۷ مخ کې وايي چې د نکريزو په شپه واده کېدونکې پيغله معمولاً دخپل ډېر نژدې خپل لکه ورور، تره يا د هغې ترورمېلمنه وي چې په همدې کلي کې واده وي.

دا دود هم په نومورې سيمه کې نشته، بلکې تر واده نه يوه يا دوې اوونۍ مخکې (کله چې جوړښت وشي) مېلمستياوې پيل کېږي او په کلي او کور کې د ناوې نژدې خپلوان ناوې ته مېلمستيا کوي او په دې شپه بايد ناوې په خپل کور کې وي.

د کتاب په ۲۲۳ مخ کې ويل شوي چې په وردګو کې هغه کسان مخصوصاً ښځې چې د پوښ (جوړې،جامې) نندارې ته راځي، له ځانونو سره سوغاتونه لکه د اوبو څښلو لوښي، د چاى لوښي، دبخار ديګ، چايجوشونه، دسينګار سامان، ټوټې يا نغدې پيسې چې معمولاً دناوې مورته سپارل کېږي ورسره راوړي.

مګرپه هغې بله سيمه کې ويل کېدل چې ناوې ته ښځې په اچونه کې د کور د سامان لوښي راوړي خو نغدې پيسې او د سينګار سامان نه راوړل کېږي او د زوم کره چې ښځې بيا د پوښ کتلو ته راځي ناوې ته جامې يا يوازې د کميس ټوټه او يا ټکرى راوړي دا د خلکو په وس پورې اړه لري که په وس کې ښه وي بسته جوړه ورته راوړي او که وس ونه لري بيا يو توک لکه خت، ټکرى... راوړي.

په همدې توګه د کتاب په ۲۲۸مخ کې راغلي چې (... د ناوې د پاڅولو لپاره د دې پلار يا ورور راشي، ناوې نه پاځيږي، دوى يې دلاسا کوي، يو موټى پيسې ورکوي، تر لاس يې نيسي او له ځايه يې راپاڅوي. ناوې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپاڅېدو کې په ټوپک تکيه کوي، ټوپک د غيرتي زامنو د زيړون شګون دی، همدا وخت قرآن عظيم الشان هم د ناوې په سرنيول شوی وي چې د لوی خدای (ج) مرسته ورسره مل شي ناوې له لړ درېدلو څخه وروسته د ټوپک کنداغ درې ځلې په زوره – زوره په زمکه وهي او بيا نو په شمېرلو قدمونو روانه شي او د پلار له کوره په وتلو پيل وکړي.)

دا دود هم په جغتو کې نشته ـ د ټولو کليو نه يې نه يم خبره خو په کومو کليو کې چې زه ګرځيدلې يم – يوازې پلار يا ورور او يا بل مشر راځي او تر شال اچولو وروسته ناوې د پلار له کورنه وباسي.

د کتاب په ۱۹۱مخ کې د ناوې د سر اوبدنې په برخه کې وايي: له دڼيو او خالونو څخه وروسته، د ناوې دنګښيو تر منځ د وېښتو په لاره سوندر پورې کېږي.

په جغتو کې اوس دا دود له منځه تللی او څوک اجازه نه لري چې د ناوې په سر سوندر ووهي او له دې دود سره کلک مخالفت کېږي. ښايي دا مخالفت په دې خاطر وي چې دا ډول رسمونه په هندي اعتقاداتو پورې اړه لري او مسلمانان يې ګناه بولي.

د خسر کورته د ناوې د را رسيدو په اړه داسې وايي: (... ناوې په دې لنډه دمه او کيناستلو کې د جام په پاکو او رڼو اوبو کې سترګې غړوي او يو ښکلی وړوکی ماشوم (هلک) په غېږ کې نيسي... ۲۵۴مخ) . دا دود هم په اړونده سيمه کې نشته.

همدا ډول په ۲۵۸ مخ کې وايي چې د ناوې د راوړلو پر لومړۍ يا دوهمه شپه (حتی درېيمه يا اوومه) د نکاح دود په ځای کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

په جغتو کې د پلار په کور کې يعنې د نکريزو په شپه د ناوې نکاح تړل کېږي، ځکه دوی وايي چې شاهدان يې بايد ناوې ته محرم کسان وي.

بل ځای (۲۶۰ مخ کې) وايي کله نا کله شاهدان له ځانه سره د غوندي ستن وړي چې ناوې پرې وڅوخوي؛ خو هغه لا هم غلې ناسته وي او غږ نه باسي.

دا رواج هم په جغتو کې نشته، شاهدان ځورول کېږي او ملنډې ورپورې جوړېږي، خو له ناوې سره څوک کار نه لري.

په ( ۲۶۲-۲۶۳) مخونوکې څرګندوي چې: (خلک وايي په ټوله هغه موده کې چې نارينه د نکاح په تړلو بوخت وي، زوم او ناوې بايد په پټه بياتيګانې (قيچي) وکړپوي چې دچا سحر او جادو اغيزه پرې ونه کړي. کله چې دواړو خواوو د نکاح خبره ومنله، د مبارکيو چيغې ټوله کوټه ډکه کړي، ګوړ اوبی (د ګوړې شربت) ميوې او ريمالونه يا نور سوغاتونه وويشل شي او مېلمانه رخصت وغواړي.

په نوموړې سيمه کې يوازې ناوې ته – هغه هم حتمي نه ده – کله نا کله بياتي ورکول کېږي، خو زوم ته يې نه ورکوي او لکه مخکې مې چې يادونه وکړه هلته د ناوې نکاح د پلار په کور کې تړل کېږي او تر نکاح وروسته، دستمالونه، ملاصيب ته لونګۍ او نور سوغاتونه، او خلکو ته ميوه او د بورې شربت ورکول کېږي.

بل ځای( ۲۶۶ مخ) وايي چې په وردګو کې ناوې دوه – درې ورځې وروسته کارته ولاړېږي. په دې ورځ د ناوې خوانبې يا کومه بله نژدې مشره ناوې لومړی د اوړو کندو او د غوړيو کټوې ته بيايي. دا لږ اوړه او غوړي بيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي بیا نو ورته کیني ... له دې اوړو څخه غونډارۍ (ننني کلچې) او بوسراغې پخوي.

په جغتو کې ناوې په دربیمه ورځ د لاس خلاصولو لپاره بیایي، اوړه اوغوړي پرې را اخلي او حلوا ترې پخوي او هغه هم یوازې د حلوا دیګ دوه درې ځلې لړي او یوازې یې د یوه دود په توګه چې ناوې تر دې وروسته د کور په کار کې ونډه اخیستی شي دا کار کوي او اکثراً تریوې میاشتې یا تردې لږیا ډېره وخته پورې په ناوې کار نه کوي یوازې د بلدتیا لپاره کله - کله د کور له ښځو سره پخلنځي ته ځي.

د کتاب په ۲٦۷ مخ کې راوړي: د ناوېدود په لومړۍ یا دویمه اوونۍ کې زوم د خپلو خسر خیلو احترام ته ورځي... زوم همدا راز خپل خسر ته بلنه ورکوي چې له لسو- شلو کسانو سره د دوی کور ته په مېلمستیا ورشي.

خو په جغتو کې اکثراً د واده په سبا ورځ زوم د خسر کره ځي او دې ته شاه سلامي وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښادۍ د سندرو جوړښت

د ښادۍ سندرې د پښتو ولسي سندرو یو ځانګړی ډول دی، چې بېلابېل فورمونه لري. او دا سندرې د پښتنو د ولسي سندرو د نورو ټولګیو په څېر د پښتون قوم د ټولو کړو وړو انځورونه وړاندې کوي او د خلکو د ملي، ټولنیزو او رواني ځانګړنو ښکارندویي په کې شوې ده.

د پښتو د ګڼي ادب دغه سندرې لکه چې له نامه څخه یې جوتېږي د ښادیو په محفلونو کې ویل کېږي او ځینې یې په لنډیو سره بشپړېږي، مثلا د سروکیو بشپړونکې لنډۍ دي او بې له هغو سروکیو څخه چې د سوال او ځواب او په ځینو مراسمو کې د پیغورونو او ستاینو په توګه، ویل کېږي نورې ټولې پرته له لنډیو په ځانګړي ډول نه کارول کېږي. له سروکیو سره هر ډول لنډۍ ویل کېږي خو که هغه لنډۍ چې د سروکي له موضوع سره اړه ولري ورسره وویله شي خوند یې لا ډېرېږي، د سروکیو په منځ کې لنډۍ وار په وار بدلیږي، رابدلیږي مګر سروکی د هرې لنډۍ په پای کې تر پایه پورې په مکرر ډول راځي، خو د ښادۍ نورې بدلې لکه بابولالې او ځینې د اتڼ نارې په مستقله توګه هم ویل کېږي.

د ډول له مخې ښاغلي حبیب الله رفیع ټولې پښتو سندرې په دوو برخو وېشلي دي چې لومړۍ برخې ته یې عمومي سندرې یا نامعلوم نظم ویلی دی چې شاعر او ویونکی یې ښکاره او په نامه نه وي معلوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویمه برخه یې خصوصي سندرې یا معلوم نظم دی چې شاعر او ویونکی یې معلوم او یوه مشخص ولسي شخص ته منسوبې وي، چې بیا هره ډله بېل، بېل ډولونه لري.

په عمومي سندرو کې یې د میندو سندرې، د ماشومانو سندرې، د وړو مشاعرې، کیسۍ، د لویانو سندرې، محلي پارچې، د اتڼ نارې، بابولالې، د هوتکو نارې، د کاکړو غاړې، فالونه، لنډۍ، سروکي، متلونه او ساندې راوړي دي.

او په خصوصي سندروکې یې غړونه، دمروتو کسرونه، مقامونه، چاربیتې، بدلې، بګتۍ، لوبې، کیسې، داستانونه او مشاعرې ښودلي دي. (٦:۴۴)

ښاغلي آرینزي په خپل کتاب کې د ښادۍ د بدلو د څو ځانګړیو ډولونو لکه (بابولالې، دوه – دوه تاره اخلئ، ښه ورا، خورښادي، الا خورې چیغې – انګۍ) نمونو له راوړلو سره یادونه کړې ده او د ټولو پښتنو ګډه ولسي پانګه یې بللې ده. (۴۰:۱-۴۱-۴۲-۴٦،۴۳)

د فورم په لحاظ دا سندرې مختلفې دي او لکه لنډۍ چې د خج، سیلاب او آهنګ له پلوه یو ډول دي او د محتوا په لحاظ د پښتنو د ژوندانه د ترجمانۍ ترڅنګ ډېر لوړ بشري پیغامونه له یوې پیړۍ څخه بلې او له یوه نسل څخه بل ته په ډېره امانتدارۍ انتقالوي، د ښادۍ بدلې د فورم، خج، موقعیت، جوړښت او سیلاب له پلوه متنوع دي او داسې ممیزات نه لري لکه لنډۍ چې تر اوسه پورې ساتلي دي، او د اوږدوالي او یا لنډوالي له پلوه بالکل اختیاري بڼه لري او له شرایطو سره سمې لنډې یا اوږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلې کېږي. دا سندرې په یوه سیمه پورې ځانګړې پاتې کیدلای شي او کله هم د اشخاصو په واسطه د انتقال او ویلو په وخت کې کمی او زیاتی پکې راځی او هم د خلکو او ځایونو نومونه پکې بدلیږي رابدلیږي او ډیر ځله چې خلک د ښادیو په محفلونو کې ولسي سندرې وایي په دې توپیرنه پوهیږي چې دا بیلابیل فورمونه څرنګه یوله بله بیل دي او څرنګه رامنځ ته کېږي. مګر زما په اند که چېرې د پښتو فولکلور بېلابېل فورمونه په تخنیکي لحاظ وپېژندل شي هغه مهال به زموږ د ژبنۍ پانګې ځولۍ نوره هم له رنګا رنګۍ او رنګینۍ ډکه شي.

بدل زنې د دې سندرو د نظم او آهنګ جوړونې په خاطر د سندرو په سر، منځ یا پای کې اضافي توکي، لکه: (ووی، هوی، وی، واه واه، ها ها، لې لې، هی هی، نی نی، ها هو هو، الله، جاریا جر، ګله یا ګلې، ما ویل) هم ورزیاتوي.

د (غرنۍ سندرې) کتاب په سریزه کې ښاغلی زلمی هیوادمل وایي: «ویونکي د خپل مجلس د شور، خوند او رنګ د ښه کولو لپاره د وینګ په مهال ځینې آوازونه، لکه (و، اوه، مال، وی، یا، والله، ځار، ګله، د، هی او....) د سروکو په مختلفو پاړکو کې ورزیاتوي،...» (۱۲: ۹٦) .

نو له دې امله ویلی شو چې دا سندرې کوم مشخص فورم نه لري او نه هم تر کوم ځانګړي قانون لاندې راتلای شي، بلکې دا سندرې هم د ولسي خلکو ادبي تنده ماتوي، په وزګار وخت د بوختیا یوه په زړه پورې برخه ده او هم د خوښیو د لمانځلو زمینه سازي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

د ښادۍ د بدلو د ایجاد د وخت په اړه هم مطلق حکم نه شو کولای، ښاغلي حبیب الله رفیع په دې اړه خپل نظر داسې څرګند کړی دی: «د بابولالو د پیدا کېدو وخت یقیني نه دی ښکاره، خو داسې بریښي چې خورا لرغونې سندرې دي او پښتنو د خپلو ودو او ښادیو په وخت کې ویلي او وایي یې.

همدا رنګه ددې سندرو له ژورې کتنې څخه دا راښکاري چې بابولالې به هم لکه لنډۍ او د اتڼ نارې غوندې لومړی په کندهار او شاوخوا کې یې ویلې شوې او بیا وروسته به یې په نورو پښتنو کې رواج موندلی وي.» (۱۲: ۷٦)

ښاغلی احسان الله آرینزی په دې عقیده دی چې په دې سندرو کې د پښتنو ښځو هغه آوازونه نغښتي دي چې له آریایي دورې نه بیا تر اوسه د ښځو د ټولنیز دریځ په هکله ژور او دقیق معلومات راکوي او اوس هم په دې سندرو کې د ډېرو لرغونو او تاریخي دودونو نښې لیدل کېږي، نو خامخا به د دې دودونو لپاره ډېرې ښکلې او په زړه پورې بدلې وي؛ خو د دودونو په بدلېدو سره دا بدلې هم بدلې او نوی شکل یې غوره کړی دی. (۱۳:۲۳او۳۳)

خو له دې ټولو سره، سره زه ویلی شم چې هره سیمه ځانته مخصوصې سندرې هم لري، چې په خپله دهماغې سیمې لغتونه او اصطلاحات پکې راغلي دي او له دې نه یې د ایجاد وخت او سیمه له ورایه ښکاري، د بېلګې په توګه زه چې ماشومه وم مور مې چې کومې سندرې راته ویلې اوس هم زما په یاد دي هغه وخت یې په معنی او کیفیت سمه نه پوهېدم مګر اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

چې ورته ځېره شم د خپلې سیمې سوچه لغتونه پکې وینم، لکه دا یوه سندره چې مورمې ډېره راته ویله:

لور خو لور ده، ورړی د آنګور ده، مړه (منه) د خوجونګور ده،

په ټولو ځلورګون ده

دلته د خوجونګور(خواجه انګور) کلمه راغلې ده چې د وردګو په چک ولسوالۍ کې په دې نامه یوه سیمه ده چې ډېرې ښې او خوږې منې لري.

او یا دا سندره چې ما مې له مورنه ډېره اورېدلې ده:

ډی،ډی،ډی – وربش لو – غنم ګېډی یې، فلانۍ په کې ریي (راهي) ده تور کمیس سپینې پنډی یې

له دې نه هم ښکاري چې دا د وردګو د یوې سیمې خاصه د میندو سندره ده، ځکه چې زما د مور په لهجه کې متوته دپنډی کلمه هم کارول کېږي په داسې حال کې چې نور پښتانه پنډۍ د پښې یوې برخې (د لنګي څټ یا د لنګي غړي) ته وایي.

یا دا سندره

لیلی په سرو منګلو ختې ورکوینه

پاس په لوړ- لوړ کلا وهینه – پاس په لوړ

دلته هم د وردګو د کلا جوړونې ته اشاره ده، ځکه وردګ نارینه د پسخې یا پخسې په وهلو کې ځانګړی مهارت لري، په وردګو کې چې زما د نیکه د وخت کومه نسبتاً نړیدلې کلا ولاړه ده، دهري پسخې بریا عرض یې تقریباً دوه یا دوه نیم متره دی، چې ډېري کلکې او پخې ښکاري، دیوالونه او پیشتول(چت) یې په ښکلیو هنري نقشونو رغېدلي دي. او په وردګو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوښښ کېږي چې کلاوې په لوړځای کې جوړې کړي څکه هلته یخني ډېره ده او هم په ژمي کې واورې ډېرې وي.

# د دې لیکنې میتود

زما څېړنه یوه ساحه یي یا سیمه ییزه څېړنه ده. په دې برخه کې مې هم له خلکو نه په پوښتنه مواد راټول کړي دي او د سندرو د راغونډولو لپاره مې د ټایپ او د آوازونو د ضبط یا ثبت له آلاتونه کار اخیستی او هم مې په محفل کې د ښځو له خولو نه لیکلي دي او د سروې له میتود سره سم مې دا مواد ترتیب او تنظیم کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وردګو د ښادۍ سندرې

د وردګو ولایت په جغتو سیمه یا ولسوالۍ کې د واده دود داسې دی کله چې په یوه کورنۍ کې هلک زلمی شي او یا هم خپلې زده کړې پای ته ورسوي، نو کورنۍ یې د نوموړي لپاره د واده کولو (کوژدې) په فکر کې شي کله چې د واده کولو هوډ وکړي بیا نوپه یوه وړ نجلۍ پسې ګرځي، نجلۍ د څو ارزښتنو له مخې د کوژدې کولو لپاره ټاکل کېږي، یا چې د ښې کورنۍ څخه وي، نوم او نښان ولري، ښایسته وي، ښه اخلاق ولري، نیک خویه او یا کاریګره وي یعنې په کورنیو کارونو، اخلي پخلي او خیاطۍ یا لاسي ګنډولو کې ماهره او چابېره وي (مهارت او برلاسی) ولري.

په کلیو کې معمولاً پېغلې نجونې له کوره بهر د کار کولو لپاره نه وځي او له نا محرمو نارینه وو نه مخ پټوي او په ځینې سیمو کې لکه د وردګو د جغتو د سیدانو په کلي کې خو پېغلې آن له کلي نه وتلي واده کې ګډون نه کوي، هلته پیغلو ته حتی د خپلې عمه، خاله او نورو نېږدې خپلوانو کره چې له کلي نه وتلې وي په غمونو او ښادیو کې د ګډون حق نه ورکول کېږي، نو د نجلۍ د ښودلو او لیدلو چانس ډېر لږ دی، یوازې زړې او پخې ښځې چې یو له بل سره تګ راتګ کوي د نجونو په خوښولو کې مهم رول لوبوي، که د ځینو لرې کلیو او تربرو کره د تربګنۍ له امله نه ځي دوی د خپلو بزګرانو او یا مزدورکارانو له ښځو نه د بل کلي د نجونو د اوصافو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايست پوښتنه کوي ځکه دا طبقه په آزاده توګه د ولس ټولو کورونو ته د تګ راتګ اجازه لري. د واده په کولو يا خوښولو کې نجلۍ او هلک نه پوښتل کېږي، يو نيم ځای کيدای شي چې د هلک نه پوښتنه وشي او يا د هلک په خوښه نجلۍ ورته کوژده شي، نجلۍ خو له سره په دې برخه کې څوک نه پوښتي.

يوه بله مهمه خبره هم د يادولو وړ ده او هغه دا چې پخوا به د عاشورا په ورځ د کلي او ولس ښځې او نجونې په يوه زيارت کې سره را ټوليدلې. له کورنه به يې رنګ رنګ خواړه لکه وريجې، حلوا، شير برنج او ... ورسره وړل او بيا به يې په هماغه زيارت کې چې پخوا به يې تر څنګ تنور جوړکړی ؤ اور بلاوه او غوړې به يې پکې پخولې او پر ماشومانو او لارويانو باندې به يې وېشلې په دې توګه به هم خيرات وشو او هم به په دې ورځ د يوه او بل کلي او ولس د ښځو او نجونو له يو بله سره ليده کاته وشول. په همدې وخت کې به د هلک مور، خور، ترور يا کومه بله خپله هلک ته په کوژدنې پسې څارو شوه. يوه د خپلې خوښې وړ نجلۍ به يې تر سترګو کړه او په کور کې تر سلا مشورې وروسته به بيا هغې کورنۍ ته په مرکه ورغلل؛ خو له تېرو څو کلونو راهيسې چې په افغانستان کې امنيتي شرايط ډېر خراب شوي زيارت او جرګې (هديرې) ته د ښځو پر تګ او راتګ باندې هم بنديز لګول شوی او يا دا چې ښځې خپله هم نه غواړي داسې ځايونو ته ولاړې شي. د شوروي پر وړاندې د افغان جهاد په وخت کې د لومړي ځل لپاره دا تګ راتګ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

لرې پرتو کلیواو چهارده [1] په سطحه ځکه بند شو چې په داسې ټولیو به د وخت د یرغلګر نظام لخوا بمباري کېدله. خو بیا هم دا دود د نېږدې پرتو کلیو او کورونو ترمنځ پالل کېده، مګر د طالبانو تر واکمنېدو وروسته دا دود په مطلق ډول بند شو او اوس په دې سیمه کې ښځې زیارت ته د تګ اجازه نه لري او همدا ډول د ځینې نورو ستونزو له امله د کورنیو تر منځ هم تګ راتګ لږ شوی او اکثره یوازې د نورو له خولې د یوې نجلۍ د صفتونو په اورېدلو بسنه کوي.

کله چې یوه کورنۍ دهلک لپاره دنجلۍ په خوښولو سلا شول؛ نو دلته دوه ډوله مرکه (رویباري یا طلبګاري) دود ده اوهغه داسې چې که یې په خپل کلي او کور کې له نېږدې خپلوانو څخه نجلۍ خوښه کړې وي، لومړی د کور سپین سرې ښځې د رویبارۍ لپاره د نجلۍ د پلار کور ته ورځي، دا کارڅو ځلې کله په ډېر او کله هم په لږ تګ راتګ د هو یا نه په ویلو سره تکرارېږي، که چېرې د دواړو کورنیو تر منځ خبره پخه شوه او د نجلۍ کورنۍ هم په خپلو کې د نجلۍ په ورکړې (کوژده) کې سره سلا شوه، نو د نښې اخیستلو لپاره څو سپین ږیري او مشران نارینه د نجلۍ کره لېږل کېږي، دلته نو د نارینه وو دنده ده چې د نجلۍ په ولواره او د واده په نورو لګښتونو باندې سره خبرې وکړي ـ که څه هم په ولس کې د واده د مصارفو او ولواره نرخ معلوم وي او د ورځې له نرخ سره سم معامله کېږي، خو ځینې کورنۍ د ولواره په اېښودلو او نورو مصارفو کې زیادت یا کموالی راولي لکه په وردګو

[1]- په وردګو کې چارده د کلي شاواوخوا څلور پرتو نیږدې کلیو ته ویل کېږي، او د غره په لمنو کې پرتو کلیو ته کولاونه ویل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

کې پراته سیدان [۱] چې د عامو خلکو په پرتله لږ ولور اخلي او د واده نور لګښتونه یې هم لږوي ـ په دې وخت کې د نجلۍ پلار یا په کورنۍ کې بل واکدار سړی د هلک له کوره راغلیو مرکچیانو ته یو لیست وړاندې کوي، د کلي له نرخ سره سم په دې لیست کې اکثراً دا شیان شامل وي: (ولورچې دوخت په تېرېدو سره تغییر پکې راځي لکه پخوا به یو لک ؤ او اوس آن تر لسو لکو پورې رسېدلی دی، شل یا دېرش منه اوړه چې د کلي د خلکو د ډېربنت او یا لږوالي په تناسب سره اېښودل کېږي، شل یا دېرش منه غوښه چې بیا د همدې غوښې په اندازه لوی غویی وروستل کېږي، یو دوه منی پیپ غوړي، لس یا اته منه وریجې، یو پسه (پخوا به څوپسونه غوښتل کېدل، ځکه چې د غوایه غوښه به خامه پرکلي وېشله کېدله او پسونه به د نکریزو شپې او واده د ورځې لپاره شوروا پخول کېدل، خو اوس دا دود له منځه تللی یوازې یو پسه د نکاح د شپې (نکریزو د شپې) لپاره چې له وریجو سره پخېږي په لیست کې شامل وي او د غوایه غوښه د وداه په ورځ شوروا کېږي)، شل یا دېرش منه وچه میوه لکه: (نخود، ممیز، نقل، چاکلیټ

---

۱ - په وردګو کې پراته سیدان خپله خور او لور نورو عامو خلکو ته نه ورکوي، یوازې په خپلو کې خېښۍ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا شرینۍ) شل یا دېرش متره څېره [۱]، دوه منه نکریزې[۲] خلعتي یا خلتي (خلعت، ختې) [۳]، یو یا دوه منه نقل او چاکلیټ یا شیرینۍ د نکاح لپاره، بوره، چای، نور چاکلیټ یا شیرینۍ او ځینې د سون مواد، لکه لرګي خو اکثراً دا لرګي پخلپه د نجلۍ کورنۍ برابروي او له زوم خیلو نه یې نه غواړي. او د سیدانو په کلي کې اکثراً چې په خپلو کې خېښي وکړي بوره، چای، چاکلېټ، شیرینۍ او لرګي د هلک له کورنۍ څخه نه غوښتل کېږي دا مصرف پخپله د نجلۍ کورنۍ کوي.)

---

[۱]- څېره هغې ټوټې یا ټکې ته ویل کېږي چې ډېره قیمتي نه وي او یاده شوې مېوه هر کور ته پکې لېږل کېږي او هغه داسې چې له دې ټکې نه به یې د یوې لوېشتې په اندازه ځیروله د کور د ښځو د شمېر په اندازه د هرې یوې لپاره یوه، یوه پیاله مېوه پکې اچول کېده یا په عامه اصطلاح ګنډه او په کورونو باندې وېشل کیدله، خو داسې رواج هم ؤ چې مېوه به په یوه بل ټوکر یا څادر کې د هر کور د ښځو په سر اچول کېدله او د څېرې ټکه به درې یا څلور ګوتې غوځه او له مېوې سره به په همدې څادر کې ایښودل کېده او له هرې اندازې به یې تار تاو کړ (ونغښت) تر څو ټاکلې برخې سره ګډې نه شي خو اوس د څېرې دود له منځه تللی دی او د مېوې وېشلو لپاره مخصوص پاکټونه او یا هم نور عصري وسایل اخیستل کېږي او مېوه پکې ویشي.

[۲] - پخوا به نکریزې هم له مېوې سره کلي ته وېشلې کېدلې، خو اوس مهال د نکریزو اندازه لږ شوې اونه وېشل کېږي، یوازې د واده په شپه د ټنګورو او نجونو لاس پرې ورسره کوي او ښځې چې خپلو کورونو ته ځي وچې یا خیشتې یې ورکوي چې لاسونه پرې سره کړي.

[۳] - خلعتي یا ختې ښځینه رختونه یا ختونه، ټکري، پټوان، ځینې وخت لونګۍ، مردانه رختونه (ټکې) چې شمېر یې معلوم یا ټاکلی نه دی کله لږ او کله هم آن تر ۳۰ یا پنځوسو ختونو او نورو رختونو او یادو شویو شیانو پورې رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو که چېرې د هلک د کورنۍ له لخوا د راغلیو کسانو په دې لیست باندې موافقه وشوه چې ډېر شیان یې د کلي له نرخ سره سم وي یوازې که ولور له نرخ نه ډېر اېښودل شوی وي لږ او ډېرې خبرې اترې پرې کېږي او کله کله دا معامله رد کېږي هم؛ ځکه ځینې وخت چې ولور ډېر لوړوي او د هلک کورنۍ د دې درانه پېټي زغم ونه لري بیا له نجلۍ نه صرف نظر وکړي او که بیا په وس کې ښه وي نو مني یې، له همدې کبله د ولواره نرخ ورځ تربلې توپیر کوي.

په ولواره او نورو شیانو سره د جوړېدلو په صورت کې خطبه ویل کېږي او لاسونه پورته کېږي تر دعا وروسته د نجلۍ پلار یا ورور یا بل مشر وایي چې فلانۍ لور یا خور مې ستا فلاني زوی یا ورور ته درکړه. د نجلۍ کورنۍ یو وریښمین دستمال، یوه ټوټه رنه مالګه[1] یو پاکټ چاکلیټ یا شیریني مقابل لوري ته ورکوي، چې دې ته لومړنۍ نښه وایي - پخوا به د نښې په توګه د هلک کورنۍ ته یوازې یو ځونډی یا وړه ستن[2] ورکول کېدله - او په رویبارۍ راغلیو کسانو ته یو، یو په لاس جوړ شوی یا ګوتو ګنډل شوی دستمال له مېوې سره ورکوي.

د رویبارۍ یا طلبګارۍ ټولې چارې نارینه پرمخ بیایي. کله چې نارینه نښه واخلي بیا نو کور ته راځي پخوا چې امنیتي شرایط ښه ؤ تر دعا وروسته

[1]- هغه مالګه چې سلامته وي اومیچن شوې یا میده شوې نه وي.

[2]- وړه ستن د سپینو زرو یا آیینو او مریو څخه جوړه وي چې ډېره وړه وي، یوه ستنه هم ترې را ځړېږي او دا ستنه له سرو یا سپینو زرو وي چې اوس ډېره کمه پیدا کېږي او د ستنې نوم هم د همدې وړې یا د ګنډلو ستنې له مخې پرې اېښودل شوی دی. د ستنې نور تفصیلات د متن په نوره برخه کې په بشپړه توګه ذکر شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

په تللیو کسانو همالته د نجلۍ له کور سره د ټوپکو ډزې هم کولې او کور ته تر رسېدلو وروسته به یې هم ډزې کولې او په عامه وردګي اصطلاح به خلکو ویل چې وارونه وشول یا به یې چاته واده کړی وي او یا به هم د چا زوی شوی وي او د احوال اخیستلو لپاره به یې یو کس هلته ورولیږه په دې توګه به خلک خبر شول چې د فلاني لور یې د فلاني زوی ته ورکړه (کوژده یا نامزاده کړله).

کله چې نوموړي کسان له نښې سره کور ته راشي، کوروالې یا کورښنې (د کور ښځې) د دوی مخې ته وچه مېوه یا نقل او چاکلیټ شني او دلته هم له نښې سره راغلي کسان ډزې کوي ترڅو د دې کلي خلک هم پرواده خبر شي له دې سره سم دښځو ترمنځ د بدلو بللو بهیر پیل کېږي، د کور مشره دستمال اخلي له کوټې راوځي او د سرای (انګړ) په منځ کې داسې ناره کوي:

کلیه زېرې مې دربانديې ، کلیه زېرې مې دربانديې
چې میراث زړګی مې ښه شو، د فلاني جان په واده بانديې

یا: چې خوږ من زړګی مې ښه شو د فلاني جان په پیغله بانديې

یا:چې ناښاد زړګی مې ښاد شو د فلاني جان په دستمال بانديې

تردې وروسته د کلي او کور خلک ډلې، ډلې د هلک کره مبارکۍ ته راځي او د هلک نېږدې خپل او خپلوان چې راځي هغوی هم په وار سره ډزې کوي او د هلک کورنۍ دوی ته ګډه وچه مېوه او دستمالونه ورکوي هغه چا چې ډزې کړې وي هغه ته تر ټولو ښکلی دستمال ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېرمنې چې مبارکۍ ته راځي غونډارۍ، بوسراغې (بوسراق یا روغن جوشۍ)، چاکلیټ او داسې نور په خوینې یا خونې (سوغات) کې راوړي - پخوا به په خونې کې نینې چې وچه مېوه، نقل او چاکلیټ پرې ګډ وو هم را وړل کېدل- او بیا د خوینې په دستمال کې د هلک د کور له خوا بېرته ختونه (د کمیسونو تکې) یا ټکري (پوړنې یا ځادرونه) او د وړو نجونو لپاره د سینګار رنګ، رنګ توکي، لکه (بنګړي، لښتۍ، شانې، ګوتیې...)ورکول کېږي.

هلته د نجلۍ کره د دستمال او ستنې جوړولو لپاره ښځې راټولېږي او په جوړولو یې پیل کوي، خو اوس تیارې ستنې هم خرڅېږي ځینې ښځې یې جوړې کړي او بیا یې خرڅوي او یا یې فرمایشي جوړوي، دا خوښي ښځې په دې الفاظو سره لمانځي:

د پیغلې دستمال جوړ شو څلور تاره
فلانی یا فلانکی ورته ولاړ ټوپک په غاړه

یا:

څه میده باران دی د ګل خلک ټولوي
تور توپ یې چاپي کا (کړ) فلانکی به یې واروي

څه موده وروسته د هلک د کورنۍ مشران د ناستې یا ستنې وړلو د ورځې د ټاکلو لپاره د خېښانو کره ورځي، په دې ورځ تر ناستې وروسته زوم ته د خسر کره د خپلې کوژدنې د لیدلو د تګ د اجازې یانه اجازې په اړه هم خبرې اترې کېږي، که چېرې د زوم د پرېښودلو لپاره خېښان هو وکړي؛ نو د لویې ناستې ترتیبات نیول کېږي او لګښت یې هم د زوم کورنۍ په غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخلي او که زوم ته کورته دننه تګ اجازه ورنه کړل شي نو مېلمستيا هم وړه وي او لګښت يې د نجلۍ کورنۍ پر ځان مني؛ خو که چېرې د زوم خيلو اقتصادي وضع ښه وي نو په دې پسې نه ګرځي چې زوم ته د تګ راتګ اجازه شته او که نه، دوی هم ناسته کوي او هم ستن وړي او د دواړو لګښت پرغاړه اخلي، خو که زوم ته د خسر د کور اجازه ورکړل شي بيا نو هرومرو که د زوم اقتصاد ښه وي يا هم ښه نه وي بايد ناسته وکړي ځکه د نه کړلو په صورت کې که زوم د خسرګنۍ کره ورشي او د کلي ځوانان پرې خبر شي زوم ته لاره ځاري او چې په لاس ورشي مخ يې ورتوروي اوبيا يې په شپاله (غوجله) کې د څو دقيقو لپاره بندي کوي او په دې توګه جزا ورکوي او که په هماغه وخت کې خبرنه شي وروسته بيا د کور او کلي خلک پيغور ورکوي چې زوم پرته له ناستې د خسر کره راغلی دی او دا خبره په کلي کې بده ګڼل کېږي.

که چېرې د دواړو خواوو پرېکړه يوازې د ستنې په وړلو وشوه، نو د کور او کلي څو مشران او نېږدې خپلوان د خېښانو کره ورځي او ستن راوړي.

د ستنې تر وړلو دوې يا درې ورځې وروسته، د هلک د کور څو ښځې او نارينه نجلۍ ته پوښ وروړي. د پوښ اخيستلو پر مهال هم ښځې په کور کې رنګ - رنګ بدلې بولي، لکه:

مرغۍ په ډنډر ناسته ډنډر ښوري
فلانکۍ په بازار ګرځي بخمل ګوري [1]

---

[1] - دا بدله ښاغلي آرينزي په خپل کتاب کې په دې ډول راوړې ده
مرغۍ په ډنډر ناسته ډنډر ښوري - (پلانۍ) شپاله ته ځي بدلې بولي (۱: ۴۰۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

پوښ د هلک د کورنۍ په خوښه اخیستل کېږي، خدای او وس که زوم په وس کې ښه وي نو ډېرې جوړې او جامې، بوټان، دستکولونه د سینګار له اړینو توکیو سره نجلۍ ته اخېستل کېږي؛ خو که په وس کې يې نه وي نو بیا درې یا څلور جوړه جامې د سینګار له اړوندو توکیو سره اخیستل کېږي، خو یو څه چې په پوښ کې ضروري دي هغه د ناوې د بوخڅې (بوغچه)[2] لپاره لړ یا ډېره تکه (ټوکر) له هونو یا سونډو (هون، وون، یاهوند، سونډیا سُند هغه تار چې لاسي دوختونه پرې کېږي یا د وردګو په لهجه په ګوتو شیان پرې ګنډل کېږي.) سره ده چې باید په پوښ کې ناوې ته وروړل شي، تر څو د پېغلدود پر مهال تر ودوزنه پورې رنګ-رنګ توکي، لکه: (دستمالونه، پردې، بوخڅې، دېریشي پوښونه، ریش کلۍ، پشتۍ یا د بالښتونو پوښونه، د ماشومانو لپاره جامې، دلګیرکونه، د کمیسونو غاړې او نور وګنډي.) که څه هم په وردګو کې چې څنګه نجلۍ لړ لویه شي او د دې وړتیا پیدا کړي چې یو څه زده کولای شي، نو مور، خور یا کومه بله خپله يې د ګوتو کار(دست دوزي) ورښيي او له هماغه مهاله نجلۍ ورو، ورو خپله بوخڅه پوره کړي او د بوخڅې اړین توکي لکه (سرمیزي، پشتۍ، دېرشي پوښونه، پردې، د ټایپ او تلویزیون د سر لپاره دستمالونه، دسترخوانونه، د هلک یا خپل خاوند لپاره ګریوان، غاړه یا یخن (ټټر)، د

[2]- بوخڅه هغه په لاس ګنډل شوې ټوټې لکه: دستمالونه، پردې، بوخڅې، دېریشي پوښونه، ریش کلۍ، پشتۍ یا د بالښتونو پوښونه، د ماشومانو لپاره جامې، دلګیرکونه، د کمیسونو غاړې او ... چې تر واده وروسته پر خلکو وېشل کېږي او ښې ټوټې د زوم نژدې خپلو او یا هغو کسانو ته ورکول کېږي چې مخ دیدني (نغدې) پیسې او جوړه ناوې ته وروړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومانو لپاره غاړې، دلګیرکونه، د لېورو لپاره غاړې، د سپین ږیرو، خواښې او خسر لپاره جای نمازونه او داسې نور) په لاس (ګوتو) ګنډي او ډول- ډول دوختونه، لکه خامک، ځریکښ (د وردګو خاص دوخت چې وردګ دوزي هم ورته وایي)، پخته دوزي، تارشمار، ګراف، ګرې دوزي، آیینه دوزي، زولنه، جووک یا ښځۍ، زنجیرک یاول، چوبک دوزي او داسې نور پکې کوي، چې د وېشلو طریقه به یې وروسته په خپل ځای کې تشریح شي. د بېلګې په توګه د پوښ ښکارولو پر مهال د دې ټوکر په اړوند داسې بدله هم شته:

ناوې جوړ کړه د زربفو دستمالونه

د فلاني همزولي ډېر دي را به شینه

په پوښ کې سربېره پرناوې د نجلۍ د کورنۍ نورو غړیو ته هم جوړې جامې وروړل کېږي او له پوښ سره دوه یا درې نارینه او له لسو نه تر شلو پورې ښځې ځي او د همدې ټنګورو او خېښانو په اندازه ډوډۍ چې ډول، ډول خواړه پکې وي د نجلۍ کره وروړي، خو پخوا داسې نه وه که چا ناسته نه کوله یوازې ستن یې وړله پوښ د یوه نارینه او یوه یا دوو وړو هلکانو او یا هم د مزدور په لاس د ناوې کورته لېږل کېده. او د پوښ لیدلو ته هم د هلک کره ښځې راټولیدلې او همدلته به یې ډوډۍ خوړله او که ښځې ورتللې هم دوې یا درې ښځې به وې او د پوښ د ټکلې په نامه څه نه ؤ که ؤهم یوازې په ځینو کورونیو او هغو خلکو کې چې د سیمې له خانانو څخه به وو دود وه، اوس، اوس دې دود پراختیا موندلې او ډېرې کورنۍ له پوښ سره ډوډۍ هم وړي، چې ډېر خواړه پکې وي او د پوښ د ټکلې په نامه یې یادوي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

پوښ وړلو پر مهال د پوښ له کور نه نیولې د خېښانو تر کوره بدلې بلل کېږي ،لکه:

سور سالو مې کور دی زه سر توره باغ ته ځمه

د فلاني کره مې ګل دی ننداړو یا نندارې ته یې ورځمه[1]

د خېښانو کره د ټنګورو[2] له رسېدلو سره سم د خېښانو د کور مزدوره یا دهقانه[3] د ټنګورو مخې ته بدراو یا بدرو (بادبرک) دودوي او ټنګورې بیا دې ښځې ته پیسې ورکوي او د کور مېرمنې پر ټنګورو وچه مېوه، نقل او چاکلیټ او مخې ته یې اوبه شیندي، په دې توګه ټنګورو ته هرکلی او ښه راغلاست وایي، ټنګورې خپلو بدلو ته دوام ورکوي او رنګ-رنګ ستاینې، نارې، سروکي او بدلې وایي، لکه:

---

[1] - دا سندره ښاغلي علي محمد سوبمن په خپلو کتابونو کې په دې ډول راوړې ده:

سور سالو مې کور دی زه سرتوره باغ ته ځمه

واده د فلانکي جان دی زه یې سیل ته ورځمه (۱۰ : ۱۸۵)

سره څنۍ مې کور ده زه سرتوره بوغ (باغ) ته ځمه (ځمه)

واده ددوست محمد دی زه یې سیل ته ورځمه (۱۱: ۳۲)

[2] - ټنګورو ته خېښې هم وایي. دا هغه ښځې دي چې د هلک یا نجلۍ د خپلوانو له خوا ټاکل کېږي او له پوښ یا ناوې سره ځي، دوی ته خېښان په ډېره درنه سترګه ګوري او ډېر عزت یې کوي خو که د خېښانو تر منځ زړه بداوی رامنځ ته شي هم دوی په ډېرو بدو الفاظو یادوي او پېغورونه ورکول کېږي او دوی ته ښه ختونه هم ورکول کېږي.

[3]- د وردګو د جغتو په سیمه په تېره بیا د سیدانو په کلي کې کابو ټولو کورونو مزدوران او دهقانان درلودل، ځکه هلته د هزاره ګانو ډېرې کورنۍ اوسېدلې، چې د خلکو دهقانۍ به یې کولې، خو تر وچکالۍ وروسته د دوی ډېرې کورنۍ له دې ځایه وکوچېدلې اوس یو نیم کور شته چې خپلې هماغه پخوانۍ دندې پر مخ بیایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

د پاسه اوښان راغلل پر شاه يې سرې ډولۍ راوړې
فلانۍ ته ويه (ووايه) راووځه کلي ته ښاپېرۍ راغلې [۴]

لومړۍ ټنګورو ته چاى له کُلچو، بوسراغو، غونډاريو (غوړه ډوډۍ يا کُلچې) شريني باب، وچې ګډې مېوې سره ورکول کېږي، په همدې توګه اتڼونه، ګډاوې او بدلې دوام پيدا کوي، ترڅو د ډوډۍ وخت راورسېږي، تر ډوډۍ وروسته خپښانې (ټنګورې) د بدلو په ويلو سره د نجلۍ په کور کې راغونډو شويو ښځو ته چې د نجلۍ د کورنۍ له خوا راغوښتل شوي وي پوښ ښکاره کوي، پر دې مهال داسې ستاينې او سندرې وايي، لکه:

يخدان خلاص کړئ منځ يې کورئ
که اصيل شال پکې نه ؤ فلانى جان ژنى رابولى

يا:

موږه پوښ راوړی په جيپانو کې
زر، زر يې ورخلاص کړئ په سيالانو کې
زر، زر يې ورخلاص کړئ په سيالانو کې

---

۴ - دا بدله د خلکو سندرې په ۷۹ مخ کې او په لږ بدلون سره د پښتني ودونه په ۴۴ مخ کې په لاندې ډول خوندي ده.

د پاسه اوبه راغلې په سر يې شنې او برۍ راوړې
(پلانکي) ته ويه (وايه) راووزه کلا ته شاهزادګۍ راغلې (٦: ٧٩)

او احسان الله آرينزي هم په خپل کتاب کې راوړې ده:

د پاسه اوبه راغلې په سر يې شنې اوبرۍ راوړې
(... خان) ته ويه راووزه ، کلي ته دې شازادګۍ راغلې(١: ١٩٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا:

خلاص کړئ يخدانونه پوښ يې وګورئ
که طلايي ګوتيې يې نه وي فلانۍ دوسکی وبولی

د پوښ تر ښکارولو وروسته ټنګورې د نجلۍ د کټلو غوښتنه کوي، ناوې مخکې له مخکې د همزولو لخوا سينګار شوې وي او د کور مېرمنې د نجلۍ د تيارۍ خبر راوړي بيا نو څو ټنګورې ورپاڅېږي او ناوې له درېې (دايرې، چمبې) او بدلو سره له يوې کوټې نه تر بلې پورې بدرګه کوي. د نجلۍ مخ په شال کې پټ وي، ورو-ورو ځي او د يوې همزولې لخوا يې قرآن شريف هم پرسر نيول شوی وي او دلته بيا د ناوې د بدرګې دا خاصه بدله ويل کېږي:

بلبلې ورو ځه ليلا ورو ځه
باد دې د زلفو بوی راوړي پرې تازه يمه - بلبلې ورو ځه [1]

یا:

ميرزايي قدم را واخله په خيالي قدم راځه
فلانۍ درته راغلې خورې شکور(شکر) وباسه

ناوې چې کوټې ته راوستل شوه بيا ښځو او ټنګورو ته ورښودل کېږي مخکې له هغې يې ټنګوروته نه ښيي ځکه د عاميانه ذهنيتونو له مخې که مخکې له مخکې ټنګورې ناوې ووينې نو د ناوې د مخ نورځي يا بې نوره

[1] - دې ته ورته سندره ښاغلي محمد عارف غروال په خپل کتاب کې په لاندې ډول راوړې ده:
په بلۍ ورو ځه ليلا ورو ځه★باد دې د زلفو بوی راوړي پرې تازه يمه★په بلۍ وروځه
(۱۳: ۷۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

کېږي د ناوې د ښودلو طریقه داسې ده، چې ناوې د مخ دستمالونه په دواړو لاسونو کې مخ ته نیولي وي او بیا یې یوه نژدې خپله یا همزولې لاسونه له مخ نه لرې کوي او په داسې حال کې چې ناوې سترګې پټې نیولې وي ښځو او ټنګورو ته یې ور ښیي او دا جمله ورسره تکراروي چې (دغه ده وګورئ دغه ده) ټنګورې په دې وخت کې خپله ناوې په داسې الفاظو کې ستایي:

ناوې ولاړه ده وګورئ عالمه
زیړه یې غاړه ده وګورئ عالمه
یا: نرۍ یې غاړه ده وګورئ عالمه[2]
یا: لرې کړه پلو له مخې چې زه دې ننداره کړم
اوس به دې د غاړې لونګین دانې دانې کړم

د دې مراسمو تر ادا کېدنې وروسته ټنګورې بېرته خپلو کورونو ته ستنیږي، د ستنېدو په وخت کې دوی ته دنجلۍ دکورنۍ لخوا د نوموړیو د درناوي په منظور ختونه او د بوخچې ټوټې له چاکلیټو او یا شیرینیو سره ورکول کېږي او نارینه وو ته پټووان یا لونګۍ ورکول کېږي.

[2] - دا بدله په ځینې ځایونو کې داسې هم ویله کېږي:
په بام ولاړه ده وګورئ عالمه
زیړه یې غاړه ده وګورئ عالمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناسته

د ناستې او ستنې د لمانځلو د دودونو تر منځ څه نا څه توپير شته دی، که چېرې د خېښانو تر منځ د ناستې ترون وشي نو د ناستې لګښت د زوم خيلو په غاړه وي تر ټولو د مخه له ناستې څخه يوه ورځ مخکې د هلک کورنۍ خپلو خېښانو ته يو پسه، څو منه وريجې، غوړي او نور ضروري خوراکي توکي وروړي، د ناستې په ورځ دوې يا درې ښځې له پوښ سره په ټنګورولۍ ځي، خو د نارينه وو شمېر ډېر وي له کور او کلي نه ډېرکسان غوښتل کېږي دوی ټول د زوم په ګډون له خېښانو کره ځي، بيا هم بدلې، اتڼونه او ډولونه وهل کېږي، لکه:

سور سالو مې کور دی زه سر توره باغ ته ځمه
د فلانې کره مې ګل دی ننداړو ته يې ورځمه

يا: جوړ کړئ ،جوړ کړئ رومال جوړ کړئ ګل به موږ راسره وړو
دا د فلانې د کوټې ګله ګل به موږ راسره وړو

يا: د غره په (پر) سر سپوږمۍ ده زه په ړنګ بازار کې څم (ځم)
د فلانکې کره مې ګل دی ګل به واخلم ستې (زياتې) به څم (ځم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

د پوښ او ناوې ښکارولو مراسم هم د ستنې د مراسمو په شان ادا کېږي، یوازې په دې توپیر سره چې په ناسته کې د ښځو شمېر لږ او د نارینه وو ډېر وي، او په ځینې ځایونوکې د ناستې پر ورځ د نجلۍ کورنۍ د ګهیځ (سهار) د چای لپاره هم تیاري نیسي او ډول، ډول خواړه لکه، رش (پېروی)، اېږدک یا ایګدګ(پنېر)، پوڅه (خام پنېر)، بوسراغې، غوړې، شودې، جوش کړې هګۍ، کوچ، حلوا او نور خواړه خواړه برابروي، خو دا دود د وردګو په ټولو کلیو کې نه شته یوازې ځینې کورنۍ دا دود پالي.

بیا هم د ډوډۍ تر وخته ښځینه په کورکې او نارینه له کورنه بهر په حجرو او آزاده فضا کې اتڼونه کوي او بدلې بولي خو تر نارینه وو نه د ښځو مجلس ډېر تود وي او ډول، ډول ستاینې، بدلې، نڅاوې او اتڼونه پکې ترسره کېږي، لکه: دا سروکي چې ښځې یې د ناستې په حالت کې وایي:

بېرون، بېرون

بېرون وځه چلمه، واړه خانان دې سیلانې راغلي دینه

بیرون

یا: سردار بیا وتلی دی

مخ یې ګرد نیولی دی

یا: چیري یې وړې سالو مې راوړه

دومره دومره شې سالو مې راوړه

ټوټه، ټوټه شې سالو مې راوړه

یا: ګل په بام اوبه کومه- اوبه مې نه کا

هلکانو ولیدمه - ګل راوړه جانانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: په غره کې څه نرۍ د صبر ونه ده

خدایه خور تې (ترې) جر (جار یا ځار) کړې فلانۍ جانه پې (پرې) مینه ده

یا: تور ټوپک دې اېښی برېښی

فلانکۍ جانه زه دې جر(جار)شم نن دې بیا په اوږه اېښی [1]

یا: د کېیه ( له کښته) باد لګېږي د لوړ پاڅې ښوروي

ښادي مې د ورورک ده عالمونه خبروي

یا هم اتڼ کوي، د اتڼ لپاره بیا ځانګړې نارې او یا سروکي شته دي چې په لنډیو سره بشپړېږي، لکه:

سر په لنډۍ کې:

په آخرت خوار شې ریباره

د شنو ونو وۍ څه عجب بوی دی د زیړو ګلو

په ایرو پټ اور دې لیده زه دې پرې سومه

د شنو ونو وۍ څه عجب بوی دی د زیړو ګلو

یا:

سر په لنډۍ کې

جانانه راشه چې پخلا شو- مازدیګر

پورته ورځ لاسونه مازدیګر ، مازدیګر دی

[1]- دا بدله په پښتني سندرې نومي کتاب کې په دې ډول راغلې ده:

چه ټوپک یې پر پښې ایښی

تر داسې غیرت جار شم ★ زما جان دی سر پر ایښی (۹: ۱۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

عمر د ژمي مازديګر دی تېر به شينه - مازديګر
پورته وړئ لاسونه مازديګر ، مازديګر دی

د ډوډۍ تر خوړلو وروسته په لومړي سر کې د کلي د ملا لخوا د نجلۍ او هلک تر منځ د ايجاب او قبول ديني مناسک پر ځای کېږي او د دې مراسمو په پای کې ملا ته لونګۍ او يو پاکټ چاکليټ له وچې مېوې سره ورکول کېږي.

که چېرې زوم د خسرکره د شپې تېرولو په نيت راغلی وي، نو هغه وخت د زوم ګوته په نکريزونه سره کېږي، خو که له خپلې کورنۍ سره د بېرته تګ اټکل وکړي د کلي يو ځوان راځي د زوم د کيڼ لاس غچه يا غچۍ ګوته په نکريزو سره کوي او په يوه ښکلي خينه پيچ چې ډېر رنګين جوړشوی وي تړي يې، له ده سره دتلليو همزولو ګوتې او يا هم ورغوي (کف دست) هم په نکريزو ورسره کوي. دننه په کور هم د پوښ ښکارولو او ناوې کتلو مراسم ترسره کېږي. دا ټول چې پای ته ورسېږي، د ستنې ښودلو او وړلو وار رارسېږي، لومړی په کور کې ستن ښځو ته ورښودل کېږي او ښځې يې په ډېرو ستاينو کتنه کوي، لکه:

راغی دستمال راغی ـ دستمال پټ دی په قبو
فلانی يې ته (تر) مخ راغی لکه لمر په ګړنګو[١]

---

[١] - د دې ډول بدلو الفاظ د لېږد او بدلون په حال کې دي دا بدله رفيع صاحب په خپلو کتابونو کې دا ډول راوړې ده:

راغی رومال راغی – رومال پټ دی په قبو کې
د (پلانکي) په سر کې ايښی سر يې لوړ دی په تربرو کې(٦: ٧٨)
راغی رومال راغی – رومال پټ دی په قبو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې بهر ته په بیړه د ستنې وړلو لپاره داسې ستاینې وایي:

راوباسی دستمال چې ګرمي کېږي (هوی) ګرمي کېږي
فلانی تر ګل نازک دی خولې کېږي (هوی) خولې کېږي

بیا نو ستن بهر حجرې یا جومات[۲] ته تر وړلو وروسته د ملا مخې ته اېښودل کېږي، ملا د دواړو (هلک او نجلۍ) د راتلونکي ژوند د ښه والي لپاره د خیر دعا کوي او بیا دا ستن د زوم د کورنۍ مشر ته وړاندې کوي او ټول یو او بل ته د ستنې مبارکي وایي. د هلک لخوا مشر سړی د ولواره د پیسو یوه برخه د ستنې په پټناسه کې ږدي او ستن اخلي خپل کور ته د تګ لپاره ځانونه چمتو کوي. د هلک کره هم ښځې د ستنې انتظار وباسي او سندرې وایي، لکه:

په ( پر) غرو باران دی ګلان به راوړي
فلانی جان مې تللی سور ګل به راوړي

دلته ضرور دي چې د ستنې د ډول او جوړښت په اړه هم لږ څه خبرې وکړم. ستن له مریو او آیینو (هېندارو) څخه جوړ شوی شکل دی چې لاندې ترې د مریو او هونو ځوندې ځوړند وي، په سر کې یې د ګنډلو یوه ستنه چې پخوا به د سرو یا سپینو زرو وه خو اوس عادي ستنه پکې بنده وي. دا ستنه په یوه دستمال ټینګه وي چې دا دستمال هم ډول، ډول بڼې لري،

---

د تورګل په سر کښې ایښی سر یې لوړ دی په تربرو کښې (۷: ۳٦)

[۲]- په وردګو کې پخوا بېلې حجرې نه وې د جومات په خواکې به یې یوه کوټه یا هم دوې کوټې جوړې کړې چې د لمانځه د کوټې ور به هم ورته راختلی ؤ او دلته به یې مېلمانه کینول او ځینې خلکو به ګلخانې هم ورسره جوړې کړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوا به دا دستمال له ورېښمين ټوکر څخه په ګوتو په ورېښمو ګنډل شوی ؤ او له ګنډلو نه به يې د پېغلې د لاسي ګنډلو مهارت څرګندېده، خو اوس دا دستمال اکثراً د زري ټوکر يا هم د خال لرونکي او يا هم بنارسي ټوټې نه جوړېږي، په يو نيم ځای که به په پخواني شکل هم پاتې وي خو زما تر سترګو نه دی شوی.

دستمال د څلورو کونجونو (چهار کنجه) لرونکی مربع شکل وي، تر ټولو څلورو څنډو نه يې يوه ښکلې فيته ايستل شوې وي او دستمال ته استر هم ورکول کېږي او په څلورو کنجونو پورې يې پخوا د زرو او اوس عادي کوبې (قبه) او رنګارنګ ځونډې چې په تېرو وختونو کې به له مريو او هونو څخه جوړ ؤ او اوس اکثراً له يو ډول مريو څخه جوړ شوي پرې پورې وي، په منځ کې يې د سپينو زرو کلمه (آيت الکرسي يا د الله نوم) هم بنده يا ټينګه يعنې ټومبل شوې وي اوس د سرو زرو کلمې هم لږ لږ دود مونډلی دی او دا دستمال په داسې بڼه کت (قات) کوي يا غبرګوي چې د مثلث بڼه غوره کړي او د غبرګ شوي دستمال په پاسنۍ برخه کې هغه له مريو جوړه شوې ستنه هم نښلوي او دستنې په څنګ پورې يا په خوا کې يو بل ووړ (کوچنی) ځونډې ته ورته تار ټومبل شوی وي چې په هغه کې لونګ، غنم، رڼه مالګه، چاکليټ، پچه او وربشې پېيل شوي وي او کوښښ کېږي چې غنم هم څو ډوله رنګ کړي ترڅو د ستنې ښکلا لا ډېره کړي.

پر دستمال باندې د ډول، ډول څېزونو نښلول د ولسي خلکو د ذوقونو او سليقو يو ښکلی مظهر وړاندې کوي او ځانته يوه ځانګړې کليوالي فلسفه لري؛ د عامه ذهنيتونو او عقايدو پر بنسټ لونګ د ناوې او زوم يا هلک او

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

نجلۍ راتلونکي ژوند ته د خوشبويۍ د سمبول لپاره کارول کېږي، مالګه د دې لپاره چې ژوند يې مالګين (نمکي) وي او خواږه د دې لپاره چې دواړه خوږ ژوند ولري، د غنمو او وربشو پېيل دا معنی چې د پراخې روزۍ څښتنان وي، پچه د مالدارۍ لپاره سمبول ګڼل کېږي، رنګه څونډې د ژوند د رنګينۍ لپاره او آيينه يا هېنداره د دوی د ژوند د رڼايۍ او رښتينولۍ لپاره سمبول دی.

پر دستمال باندې د ستنې بندول هم څو ډوله تفسير او فلسفه لري، يو خو ستن د ښځې له ژوند سره پټليز ده ځکه د جامو ګنډل، د لاسي ځيزونو جوړول په ستنې سره د ښځو کار وي او بل دا چې کله چې دستمال د هلک کورنۍ يوسي نو پر ديوال ځړول کېږي او دا ستنه چې پکې ټينګه ده، هره مېرمن چې مبارکۍ ته ورځي د همدې ستنې په وسيله پر دستمال باندې د مبارکۍ او دستمال ليدلو پيسې ګنډي.

کله چې خېښانو ستن ترلاسه کړه دستنې د دستمال پاسنۍ برخه يا يو کنج د هلک د ورور، د تره د زوی، همزولي او يا بل نېږدې خپل په لونګۍ دځټ (شاه) لخوا د کلپي ستنې (پنګ) په واسطه داسې ټينګيږي چې دوې پيځکې (کنجونه) يې په دواړو اوږو او يوه پيځکه يې ځټ يا شاه ته خوره شي او بيا تر کوره پورې ورسره راځي. ښځې دا نظاره په ډېر هنري انداز داسې بيانوي:

په نريو سرو اور دی لګېدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردگو د ښادۍ سندرې

د فلاني تر لونگۍ نوی گل ختلی [۱]

خو دا سندره داسې هم ویل کېږي:

په نریو سرو [۱] اور دی لگېدلی

د ناوۍ تر نگېښي نوی گل ختلی

یا:د دوو ډولو درزی شو شینکی رود وبهېدا (وبهېده)

فلانکی یې تر مخ راغی لکه ستوری ځلېدا (ځلیده)

یا: شنې کوترې راغلې د کاریز سپرغۍ یې ونیولې

سور دستمال یې راووړ د ماما متې یې ونیولې

د یوې بلې خبرې یادول هم ضروري برېښي او هغه دا چې اوس مهال د کلي او ښارونو تر منځ د تگ راتگ له امله ښاري دود او فرهنگ کلیو ته هم لاره پیدا کړې ده، په دې تېرو څو کلونو کې د ستنې پر دستمال سربېره د خنچې جوړول او خېښانو ته یې ورکول هم یو مود گرځېدلی دی.

---

[۱] - دا سندره احسان الله آرینزي هم په خپل کتاب کې د توریو په لړ بدلون او د سرو یا سریو په معنوي توپیر سره دا ډول راوړې ده:

په نریو سریو ۲ اور دی لگېدلی د(...) ته دستار نوی گل ختلی(۱: ۱۲۴)

ښاغلي آرین زي ۲ شمېره یعنی د سریو کلمه داسې تشریح کړې ده: (سری- یو ډول گڼه ټېټه ونه چې سرې وړې – وړې مېوې کوي.)

دا کلمه زموږ په لهجه کې هم د (سرۍ) په شکل شته او همدا معنی چې ښاغلي آرینزي یې تشریح کړې، افاده کوي. خو سره چې جمع یې سرې او د جمع مغییره بڼه یې سرو ده، بیله کلمه ده او بیله معنی لري، چې ما یې لاندې د ۱ شمیرې په لیکلو سره بشپړ مفهوم تشریح او توضیع کړی.

[۱] - سره د (غوشایو) په معنی یعنې په شپاله کې د مال یا څارویو (ژویو) تر پښو لاندې چې غوشایه کلک یا سخت شي او بیا یې په کلنگ (زاغ نول) د شپاله له غولي نه رابېل کړي دا بېلې شوې لویې ټوټې، لکه چپکه (څپیکه) ډېر دوامداره اور لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

خېښان کور ته د ستنېدو په وخت کې د نجلۍ له کور نه نيولي تر کوره پورې پر لاره بدلې بولي، کور ته چې نيږدې شي ډزې کوي، دلته داسې بدله بلل کېږي:

اوس به دپلپل ونه مړې (منې) وکا (وکړي)
اوس به د فلانکي ټوپک شغلې وکا (وکړي) [1]

اوس مهال د امنيت د خرابېدلو له امله څوک ډزې هم نه کوي. دلته د اتڼ، ډولونو، دايرو او بدلو ميدان لا ډېر تود شي. دا منظره په دې سندرې سره انځوروي:

له پاسه ورګډه شوم نارنج مې راوور
د فلاني په کور ورګډه شوم سور ګل مې راوور[2]
يا: پورې سر دستمال ووړکيو غرڅه ويشتلې
په ماما به زورى(زېرى) څوک کا(کړي)موږ سور ګل راوړى
يا: سور سالو مې کور دى زه سر توره باغ ته ځمه
د فلاني کره مې ګل دى نندارو ته يې ورځمه

---

[1] - دا بدله ښاغلي آرينزي په خپل کتاب کې په دې ډول راوړې ده:

اوس به د پلپل پاڼې مړې وکا
اوس به د(...)ټوپک شغلې وکا (۱:۱۱۲)

او په ۱۱ مخ کې په لاندې ډول راغلې ده:

اوس به د شاتوت ونه دانې وکي اوس به د فاروق ټوپک ډډې وکي (۱۱: ۵۷ )

[2] - دا بدله هم آرينزي صاحب په لاندې ډول راوړې ده:

کوزه په باغ ګډه شوم نارنج مې راوړ
او کليه منې بې چې سور ګل مې راوړ (۱: ۲۳۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

د هلک مور، خور او د کور نورو غړیو ته ټول مبارکۍ وايي، او ښځې په منظومو الفاظو کې خپله مبارکي داسې ورته وړاندې کوي:

دستمال يې راوور ځونډي پې (پرې) پورې
مبارکه دې شه د هلک مورې
یا: پې (پرې) بوره مه شې دهلک مورې [1]
یا: تاسې د کالینو (قالینو) غوړول ګورئ
تاسې د ماما په کور کې ګل ګورئ
یا: سور سالو مې کور دی زه سرتوره باغ ته ځم
ماما مې ګل راوړی اوس يې سيل ته ورځم

ځینې چې د خېښانو له کوره خپه راغلي وي او یا هم د ملنډو او د خلکو خندونې په خاطر دا بدله په دې ډول وايي:

دستمال يې راوور سوټي پې (پرې) پورې
له کوره وزه(وځه) د هلک مورې

ستن پر دېوال وځړول شي، خلک پیسې پرې ګنډي دا لړۍ دوې، درې یا څو ورځې دوام کوي او که هلک نیږدې خپل او خپلوان ولري لکه، تره، عمه... هغوی هم په نوبت مېلمستیاوې کوي او د ده د کوژدې سوبتونه (صحبتونه) کوي. زیاتره د شپې له خوا په کورونو او حجرو کې سیلونه

---

[1]- دا سندره ( دغرونو څوکې) لیکوال په دې ډول راوړې ده:
دستمال يې راوور ځونډي پرې پورې
پرې بوره مه شې د فلاني مورې ( ۲: ۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړیږي، اوس به د هغو سندرو او سرکیو څو نمونې وړاندې کړم چې په لنډۍ سره پیل کیږي او یا هم په منځ کې لنډۍ وراچول کیږي او بشپړیږي. سرپه لنډۍ کې:

باران که اوري ودې اوري
باران ورو، ورو وریږده ولاړه ومه
سور سالوګی مې لمدیده ولاړه ومه
واورې دې نه اوري چې لارې بندوینه
باران ورو، ورو وریږده ولاړه ومه
سور سالوګی مې لمدیده ولاړه ومه

یا سر په لنډۍ کې:

ګل دې ګلاب به خدای رانه کا
انارګله، دما (زما) ړنګه وربله (اوربله) دما (زما) (وی)
د نوروګلو مې باغچې ولاړې دینه
انارګله، دما (زما) ړنګه وربله (اوربله) دما (زما) (وی)
یا: لیلی د کوز کلي کفتره، لاونګینه، لیلی یې یووړه
په وزر چا ویشتلې ده چې ټیټه ځینه
لاونګینه (وه) لیلی یې یووړه
یا: په زیړو ګلو کې راتلم ورک مې پېزوان دی
وی ارمان دی زیړو ګلو وی ارمان دی
یا: مورې کوچیانو ته مې ورکړه
کابلې بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تور پېکی مې د هلمند شمال وهينه
کېږدۍ ولاړې دينه
کوچيان راغلي دينه

يا سر په لنډۍ کې:

په باغ کې مه ګرځه دلبره - بلبل مه وله
مه وله باغبانه بلبل مه وله
ګلان شرمېږي مخ په پاړو پټوينه
بلبل مه وله
مه وله باغبانه بلبل مه وله

يا: غونډو ټولې به ځو
نن چې يو دلې ته (دلته)
سبا به ځو مېلې ته

يا: ننواتې دې وړې، وړې
ټينګ نيسه مړوند
زړه په تاپسې زرې ورې
راغلې مابوبې (محبوبې)

يا: ښکلې مابوبا (محبوبه) په بام ولاړه
سپينه يې اوږې زيړه يې غاړه
جانانه[1]

[1] - دا بدله په غرنۍ سندرې نومي کتاب کې په لاندې بدلون سره ثبت ده:
ښکلې محبوبا په بام ولاړه سپينه يې خولګۍ جګه يې غاړه جانانه (١٣: ١٧٣ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا سر په لنډۍ کې:

د بنګړي والې یاري مه کړه
(وی)بنګړي، بنګړي نارې وهي او تا يادوينه
ولاړې بنګړيوالې

یا سر په لنډۍ کې:

بلبل به خدای په ګلو موړکړي
بلبل مه، مه شړه له باغه باغوانه (باغبانه)
باغوانه ستا نیمګړی نیت مې ژړوينه
بلبل مه ، مه شړه له باغه باغوانه (باغبانه)
یا: د مازدیګر اوبو ته کله ځمه(ځمه)
د ورور تر مخ لکه طاووس لکه بلبله ځمه(ځمه)
زیړ مازدیګر دی
یا: ساز ته ځمه څه په نخرو
جامن مې ګوره ډک له ستارو

یا سر په لنډۍ کې:

په آخرت به اجر غواړم
پیره ستا مریده یم
په دې فاني دنیا مې تېر کړل زحمتونه
پیره ستا مریده یم
په باغچو در ګډه شومه
پیره ستا مریده یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګله لاس راکړه درځم
په سر شالونه سموم

کله هم راټولې شوې ښځې اتڼ واچوي او په اتڼ کې ډول، ډول سروکي او د اتڼ نارې وايي دا سروکي وګورئ چې په لنډۍ سره بشپړيږي:

سر په لنډۍ کې:

پېزوان په لوړه پوزه خوند کا
غورځومه دې نه
(اوه) زما د سرو شونډو پېزوانه، پېزوانه
لکه په لوړ چينار(چنار) کې واچوي ټالونه
غورځومه دې نه
(اوه) زما د سرو شونډو پېزوانه، پېزوانه
يا: يار مې جوړ کړی د کابل په لوی بازار دی
سورټيک مې ځنځير دار ځنځيردار دی
زما په زړه خبره خدايه
سورټيک مې ځنځير دار ځنځيردار دی
ته پرې خبر يې نور به نه پرې خبرومه
سورټيک مې ځنځير دار ځنځيردار دی
يار مې جوړ کړی د کابل په لوی بازار دی
سورټيک مې ځنځير دار ځنځيردار دی

اتڼ چې اخر شي بيا دا يوه ناره وکړې چې د اتڼ اړخ واوړي يعنې درې اړخه شي، په کليو کې زيات وختونه ښځې ساده درې اړخه اتڼ کوي، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردگو د ښادۍ سندرې

ښځه تر نارينه په فزيکي لحاظ باندې کمزورې ده تردې ډېر تاوېدل يا تېز تاوېدل لکه نارينه چې ځو اړخه تاويږي او داسې په تېزۍ سره پښې ږدي چې سترګې يې سمې نه شي تشخيصولای چې کومه خوا ګرځي د دوی په وس او قدرت نه دي پوره، هغه ناره دا ده:

واړوئ، واړوئ لاسونه راواړوئ

او په دې ناره کې هم ډول، ډول لنډۍ وايي. لکه:

کاشکي زما دورور واده وی

واړوئ، واړوئ لاسونه راواړوئ

تر ټولو نجونو به ما پورته وړل لاسونه

واړوئ، واړوئ لاسونه راواړوئ

که نجلۍ تر ډېرې مودې پورې پيغله کيني، اخترونه او براتۍ په منځ کې راشي، نو د هلک کورنۍ نجلۍ ته اختري (عيدي) او براتي يا د اختر پوښ هم وروړي. د اختر په پوښ کې يو يا دوه منه وچه مېوه له دوو يا درېيو جوړو جامو او د سينګار له توکيو سره نجلۍ ته استول کېږي، کله نا کله يوه يا دوې ښځې هم ورسره ځي، خو ډېر ځله د يو چا په لاس ورلېږل کېږي. که د برات[1] د مياشتې پنځلسم راشي ناوې ته په براتۍ کې يو جوړ جامې او که يې خيرات کړی وي يا يې په کور کې څه پاخه کړي وي هم وړل کېږي.

[1] - د شعبان د ميا شتې پر پنځلسمه نېټه چې عام خلک يې د برات ښه شپه بولي او دا شپه لمانځي خيراتونه پکې کوي، ښځې يې رڼه يا رڼا کوي، يعنې په دې شپه فالونه اچوي او بدلې بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د وردګو د ښادۍ سندرې

او همدا ډول که ژمی په منځ کې راشي ناوې ته زمستانه یا ژمنۍ جامې، جاکټ او بوټان استول کېږي.

د نوي کال یا نوروزۍ دود پخوا په وردګو کې نه پالل کېده خو اوس د نوروزۍ وړلو هم په ډېرو کلیو کې رواج موندلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نکریزو شپه او د توی (واده) ورځ

په وردګو کې زیاتره ودونه په مني کې ترسره کېږي ځکه چې ژمنۍ هوا يې ډېره سړه وي د خلکو د ناستي لپاره ځای کم وي، د کليو په ودونو کې ډېر خلک ګډون کوي، که کلاوې هر څومره لويې هم وي د نارينه وو د ناستې پاستې لپاره ځای محدود دی، يوازې بهر يوه يا دوې حجرې (مهمانخانې) وي چې د دومره لويو کليو او چارده (څهار ده)[1] د خلکو ګنجايش نه لري، په څوړموني (پسرلي) کې اوربښتونه ډېر وي او همدارنګه د کښت او کرنې موسم وي او خلک پکې مصروف وي، په اوړي کې خو د لوونو، څپرونو او درمند اخيستلو دوران وي او خلک ډېر بوخت وي، منی چې حاصلات راټول شي او د زراعتي محصولاتو پيسې هم خلکو ته په لاس ورشي نو د توی (واده) لپاره تر ټولو ښه موقع همدا موسم وي.

کله چې د هلک کورنۍ د نجلۍ د ودولو تابيا وکړي له واده نه يوه يا دوې مياشتې مخکې د نجلۍ کورنۍ ته دوه يا درې سپين ږيري د

[1] - چهار ده يا چار ده له کلي چاپيرو څلورو کليو ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

جوړښت[2] لپاره ورځې او د ولواره پیسې هم وروړي تر څو د نجلۍ کورنۍ د واده لپاره تیاري ونیسي او کور[3] ورته واخلي.

تر جوړښت وروسته نو د هلک او نجلۍ کورونه د واده لپاره ځانونه چمتو کوي، د هلک له لوري چې په پوښ پسې سړي ولاړ شي– پوښ اکثره نارینه اخلي ځکه په کلیو کې بازار نشته دوی د غزني یا کابل په ښارونو کې پوښ اخلي او که د ښځو د تګ امکان وي ښځې هم پسې ځي- په کور کې ښځې داسې سندرې بولي:

شین لښتی وای زیړي ګلونه
فلانی په پوښ پسې تللی، پلټې راوړي ختونه
یا: ناوۍ یې که شال غواړې اوس دې وار دی
پلانکی مې په دوکان درته ولاړ دی

د ناوې په کور کې د واده لپاره ډېره تیاري نیول کېږي ځکه، چې باید ناوې او زوم ته جامې وګنډل شي، د کور ضروري لوښي او نور سامانونه واخیستل شي، بستره جوړه شي، د بسترې د جوړولو په برخه کې تر ټولو مهمه د بړستنې ګنډل دي، ځکه په وردګو کې د ژمني هوا ډېره سړه وي؛ نو د بړستنې ګنډل حتمي دي. او دا کار د یوې ښځې په وس کې نه وي باید له کلي او کور نه هغه ښځې چې د بړستنې ګنډلو په برخه کې ځانګړې

[2] - جوړښت هغه ورځ ده چې د هلک کورنۍ خپښانو ته د ولواره د وروړلو او بیا هم پر دوی د اېښودل شویو شیانو او د واده د ورځې د تعیین لپاره ورځی او دا ځانته معلوموي چې خپښان لا تر اوسه په هماغه ایښودل شوي ولواره قانع دي او که بابېړی کوي او ولور نور هم لوړوي.

[3] - دلته له کور نه منظور ځمکه او کوټې نه دي، کور په دې معنی چې په کورکې کار آمد څیزونه او د ورځني ژوند د چارو د پرمخ بولو لپاره لوښی او نور سامانونه واخیستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهارت ولري راوغوښتلې شي، چې د ناوې بړستنه باید تر ټولو ښه او په ښکليو نقشونو جوړه شي.

کله چې د بړستنې توکي برابر شي او ښځې يې ګنډلو ته راوبللې شي، بيا نو تر ګنډلو مخکې پر ماشومانو وچه ګډه مېوه وېشله کېږي او يوه سپين سرې مشره ښځه د دوی د راتلونکي نيکمرغه ژوند لپاره تر دعا وروسته د بړستنې پر ګنډولو پيل کوي، ځينې مېرمنې د ناوې د نيکبختۍ په منظور بدلې هم ورسره وايي. د بړستنې په څنډو کې شاخ ګوز[1]او منځ کې يې رخچين ګلی[1] ګنډي، د بړستنې شېت (پوښ)، د بالښت پوښ او ځينې وخت روی جايي هم په ګوتو ګنډي او لاسي دوختونه پکې کوي، په دې توګه د ناوې بسته بستره لکه دوشکه، بالښت، بړستن، روی جايي، بوغبندپيچ (رخت خواب) ټول آماده کوي.

د بړستنې ګنډلو پر مهال داسې بدلې بلل کېږي:

د بړستنې څلور خواوو کې په نګيندو ګلان ګنډيه

څنډې يې رنګينې په منځ کې يې رخچين ګولی (ګلی) وګنډيه

کله چې د جوړښت په ورځ ټاکلې موده پوره شي د هلک له کوره بيا هم يوکس له خپښانو نه د تيارۍ د احوال راوړلو لپاره د نجلۍ کره ورځي، که چېرې د خپښانو کارونه سرته رسېدلي وي او د واده لپاره آماده وي، د واده ورځ هم ټاکل کېږي. په دې مرحله کې د نجلۍ او هلک کورنۍ خپلې لرې واده شوې خورلڼې راغونډوي او له توی نه يوه يا دوې ورځې مخکې خپښانو

---

[1] - شاخ ګوز او ريخچين ګلی د بړستنې ګنډولو لپاره يو ځانګړی ډول دوخت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

ته خوږه[1] وړل کېږي په دې وخت کې د هلک په کور کې د بدلو لړۍ بیا پیل شي،لکه:

پورې پټې ترې دي اوبه غواړي
ماما چې سترګې تورې کا واده غواړي
* * *
د ورور واده ته مې کړې دواړې سترګې تورې
سالو مې راوړه،
ادکې مورې ،سالو مې راوړه
* * *
دا پورې غر د پښتنو شور د بلبلو دی
دا واده د فلاني جان خوشحال پې (پرې)کلی دی
(هوی) خوشحال پې (پرې) کلی دی
* * *
دا پورې غر د پښتنو که د بلبلو دی
دا نن ښادي د فلانکي جان کلی خوشاله (خوشحاله) دی

[1] - خوږه د واده د شپې او ورځې خوراکي موادو وړلو ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

خېښانو ته له خوړې سره د غوښې پر ځای غويی وروستل کېږي او د غوايه په غاړه کې يې په رنګارنګ څونډيو جوړ شوی غړوندی[1] وراچولی وي او په تندي يې ښه ښايسته تاوتک[2] ځړېدلی وي.

پخوا چې په کليو کې موټرونه نه وو يا هم لږ وو، پوښ به پر خره باندې وړل کېده، د ناوې کورنۍ به د خرې غاړې ته پټاره[3] او د آسپې غاړې ته ګردنۍ جوړوله او د خرې او يا آسپې د ښېرته لېږلو پر مهال به يې په غاړه کې وراچوله.

د نجلۍ کورنۍ  وروستل شوی غويی او پسه يوه ورځ مخکې له واده نه حلالوي، چې د سبا شپې (د واده د شپې) لپاره غوښه تياره وي، او د حلالولو لپاره يې له کلي او کور نه مشران راغوښتل کېږي او ورته وايي چې د پوښ مال حلالوو د دعا لپاره راشئ.

دا وخت په کور کې مېرمنې داسې بدلې بولي:

تور غويی حلال کړئ لکۍ يې پرېږدئ
لکۍ يې د فلاني يا دفلانۍ په لکۍ کېږدئ[4]

---

[1]- غړوندی په څونډيواوهونو جوړشوی يو ټوکر دی چې لکه غاړکۍ د ځارويو يا مال په غاړه کې اچول کېږي.

[2] - تاوتک هم يوه مثلث شکله ښايسته جوړه شوې ټوټه ده چې دغوايه دښه ښکاره کېدو په منظورېې پر تندي ورځړوي يا نښلوي.

[3] - پټاره لکه غړوندی د خرې د غاړې لپاره جوړه شوې تکه وي.

[4] - مګر دا بدله رفيع صاحب په دې ډول را اخيستې ده:

غويی چې للوئ (حلالوئ) لکۍ يې پرېږدئ (دوه ځل) لکۍ يې د (پلانکي) په نګښې کېږدئ! (٦: ٧٩) دا بدله احسان الله ارينزي هم د خپل کتاب د وردګو د واده دود او بدلې په ١٥٦ مخ کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابل لورى هم غوبى حلالوي او د سبا لپاره آماده ګي نيسي.

په دې ورځ د کلي هر يوه کورته يو-يو من اوړه (سپېره) د پاستيو (مکې) پخولو لپاره وېشل کېږي او بيا د سبا ورځې د ورا د ټکلې (ډوډۍ) لپاره هم په کلي اوړه وېشي، ځکه هلته د نانواييو د نشتون له کبله يو کور د واده د ګڼو خلکو لپاره دومره ډېره ډوډۍ په يو ځل سره نه شي پخولای.

د نکاح د شپې[1] پر ورځ باندې زوم خېل د واده د پوښ ښکاره کولو لپاره ماسپېښين يوې بجې ته يا د غرمې ډوډۍ ته د کلي ښځې راټولوي، راغلې ښځې د واده خونى هم ورسره راوړي، په خوني کې د ټکري، د کميسونو رختونه يا ختونه، جامې، شيريني يا چاکليټ، بوسراغې او غونډارۍ راوړل کېږي، د زوم نږدې خپلې په پوښ کې ناوې ته جامې ږدي او نورې ښځې يوازې ختونه (دکميسونو تکې) راوړي.

د ښځو تر راغونډېدو وروسته پوښ ښودل کېږي، د زوم کره د پوښ ښکارولو پر مهال پر وړو او ماشومانو باندې وچه مېوه وېشل کېږي، تر پوښ کتنې وروسته له پوښ سره ځو ښځې په ټنګورولۍ او ځو نارينه د نکاح لپاره د خېښانو د کور خوا ته رهي کېږي، او داسې بدلې زمزمه کېږي:

شکور(شکر) شنې کفترې باغدادي (بغدادي) شولې

شکور(شکر) دفلاني ټنګورې ريي (رهي ياراهي) شولې

همدې ښه او د پښتني ودونه ليکوال د خپل کتاب په ۵۱ مخ کې د توريو په لړ بدلون سره ثبت کړې ده.

[1]- د وردګو په جغتو ولسوالۍ کې د نکريزو شپې ته د نکاح شپه ځکه وايي چې په دې شپه د ناوې او زوم نکاح هم تړل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: شین طوطي وی غږ یې د ببر

فلاني جان ته ویه (وایه) رووځه (راووځه) نن دې بیا ښادي په دور

هلته د نجلۍ په کور کې هم ښځې راټولې شوې ناوې ته یې اچونه[2] راوړي وي او د پوښ انتظار وباسي، واړه هلکان د ټنګورو لاره څاري د دوی له ښکاره کېدو سره سم هلکان نارې کړي چې ټنګورې راغلې، سمدلاسه ځو نجونې راولاړېږي او ناوې د کور بام ته خېژوي؛ ناوې ته په لاس کې یوه چاړه چې یو متوسط پیاز پکې ټومبلی وي، ورکول کېږي، سرای (انګړ) ته د ټنګورو له ننوتو سره سم ناوې دا پیاز د چاړې په حرکت سره د ټنګورو لور ته ورګذاروي نورې مېرمنې پر ټنګورو نقل او چاکلیټ او اوبه شیندي او په دې توګه د دوی هرکلی کوي.

ټنګورې په دایرو او بدلو کور ته دننه راځي د خېښانو لخوا د دوی لپاره مخکې له مخکې د ښه غوړ چې (چای) تیاري نیول شوې وي، خو که خواړه ورسره نه وي ټنګورې خېښانو ته داسې بدله بولي:

موږه تریخ چی(چای) نه چښو(څښو) نازولې یو

موږه د فلاني ټنګورې رغلې (راغلې) یو

یا: موږه شین چی نه چښو (څښو) نازولې یو

موږه د فلانکي ټنګورې رغلې (راغلې) یو[۲]

---

[2] - اچونه د کورني ژوند لپاره لوښي او سامان ته وایي چې ښځې یې د ناوې د نوي کور لپاره په سوغات کې راوړي.

[۲] – (د وردګو د واده دود او بدلې) نومي کتاب کې دا بدله په لاندې ډول ثبت شوې ده:

موږ شین چی نه خورو نازولې یو     موږ د (...) په واده رغلې یو (۱: ۴۰۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر چې (چای) وروسته هغه مېوه چې مخکې مې یې د واده په لیست کې یادونه کړې ده چې د هلک د کورنۍ لخوا له خوړې سره راوړل شوې وي، په یوه لوی ټوکر یا څادر تشه (واچول شي) او له ځیره سره پر کلي وېشل کېږي او هر کور ته چې مېوه وروړل شي له هغه لوري نه یو دستمال یا د بوخڅې د ټوټې په نامه په ګوتو جوړ شوی ټوکر د ناوې کورته لېږل کېږي. اوسمهال دا مېوه په هماغه ورځ چې له خوړې سره یې راوړې یعنې له واده نه یوه ورځ مخکې وېشل کېږي. خېښې خپلې بدلې بولي، لکه:

ناوکې نن کرایي خالونه کېږده
سبا دې په لېورو نومونه کېږده[1]

یا: لوړې خورې لوړې اوبه وړې ته دې ژورې
فلانۍ د تا لېور دی بختورې

یا: فلانۍ د تا مېړه دی ځنیورې

یا: د مازدیګر اوبو ته کله ځمه
د یار ته (تر) مخ لکه طاووس لکه بلبله ځمه - زیړ مازدیګر دی

ټنګورې هم تر چای څښلو وروسته ناوې ته راوړی پوښ ښځو ته ورښیي او دا ستاینې وایي:

شین بادرنګ اوبو راوړی
موږه داسې پوښ راوړی چا په خوب نه دی لیدلی[2]

[1] - ښاغلي آرینزي او محمد عارف غروال دا بدله په خپلو کتابونو کې په دې ډول راوړې ده:

ناوې لاسونه پاس په تندي کېږده    ناوې په لېورو ښه نومونه کېږده    (۱: ۱۷۹)

ناوې سره خالونه کېږده د پلاني کره چې ورسې پرلېورونومونه کېږده    (۱۳: ۲۷)

[2] - دا بابولاله رفیع صاحب په لږ بدلون سره داسې لیکلې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: مورِه پوښ راوړی په مونیانو[1] کې
فلانۍ خو یې ورښیي په سیالانو کې
یا: ځای جارو کویه گرد یې مه پورته کویه
مورِه داسې پوښ راوړی گل یې مه خرابویه [2]
یا: مورِ د لویو غرو کجیر نیولی دی
مورِ د غزني ټول بازار راوړی دی

بیا نو مخکې تر دې چې لمر ولوېږي (ډوب شي) ناوې د ښځو منځ ته راوستل کېږي تر څو سر یې خلاص کړي، کله چې ناوې د ښځو منځ ته راوستل شوه دیوه واړه هلک یا ماشوم لکه ورور، د تره زوی یا کوم بل خپل په واسطه یې د وېښتانو څوندۍ سپړل کېږي چې دې ته د سر خلاصول وایي او ټنگورې دا سندره ورسره زمزمه کوي:

زیړی مازدیگر ولوېدا (ولوېده) مانښام شو
د فلاني د خور وربل (اوربل) ولې بېران شو

یا:

چې تور اوربل دې جوړاوا (جوړوه) په خیال مینه وې
(هوی) په خیال مینه وې

---

شین بادرنگ اوبو راوړی( دوه ځل)    - مورِه داسې پوښ راوړی چا یې گل – گل نه دی لیدلی (٦: ٧٩) ( ٧: ۴۴)

[1]- مونیان (فلانکوچونه) او مفرده بڼه یې مونی دی (فلانکوچ موټر).

[2]- دا بدله په (د وردگو د واده دود او بدلې) نومي اثر کې په لاندې ډول خوندي ده:

کوټې جورو کړئ گرد یې مه پورته کوئ   مورِه داسې پوښ روړی گل یې مه خرابوئ (١: ٣٧۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

چې فلانکی جان يې ورانوي اوس يې واک نه لرې[1]
(هوی)اوس يې واک نه لرې
يا: پېکی دې په وړو خالو جوړ کړی دی
فلانی يې ورانولو ته راغلی دی
يا: د مازديګر سيرې (سيوري) کږې شوې
ناوې ژاړه په نارو
فلانی درپسې راغی
سبا دې اړوي تر غرو
ناوې ژاړه په نارو
يا: شکور چې په تور پېکي دې منی شو
شکور د فلانکي سره دې ژمی شو
يا: سم د مازديګره بلبل وويشته کفتره
فلانۍ په بام ولاړه شال يې ولوېدا (ولوېده) له سره

ناوې بېرته د سر مينځلو لپاره بيايي خو ټنګورې په کرار نه وي ناستې او خپلې بدلې بولي. د بېلګې په توګه که کوم يو نارينه ډېر تنګ راتګ وکړي داسې ورته وايي:

---

[1] – (د خلکو سندرې)، (د وردګو د واده دود او بدلې) او (پښتني ودونه) کې دا بدله په لاندې ډول راغلې ده:

دا تور وربل دې چې اوبدو په خيال مينه وې (هوی) په خيال مينه وې
چې (پلانکی) خان يې ورانوي اوس ګيله منه يې (هوی) اوس ګيله منه يې
(٦ : ٨٠) (١: ٣٧٩) (٧: ٥٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

فلانکی په وره کې وځي ننوځي
سبا یې خیالي خور له کوره وځي

د زوم کره هم د بدلو، ډولونو، اتڼونو او دایرو ځوږ لګي، هلته هم ځوانان راټول شوي او سوبتونه (صحبتونه) کوي.

دغه لاندې سندرې ما پخپله د ځوانانو له خولې اورېدلې دي، ځکه کله چې دوی زموږ د یوه خپل د واده په شپه د نوموړیو په بېرون کوټه (حجره) کې سیل جوړ کړی ؤ موږ څو تنې د بام پر سر چې یوه په پخواني ډېزاین جوړه شوې کوټه وه او یوه وړه ورسۍ (کړکۍ) یې د بام خوا ته ختلې وه ورته پټې شوو، چې د دوی بدلې واورو، د نوموړیو دا څو بدلې تر اوسه زما په غوږونو کې انګازې کوي، لکه:

توره باران خانه نوابه
څڼې دې غوړې کړه چې باد یې رپوینه
نوابه ګل [1]

یا:

[1] - دا بدله په (د پښتو شفاهي ادبیات شکل او مضمون) او (پښتني سندرې) نومي کتاب کې په لاندې ډول ثبت ده:

نواب یې مړ کړ په ځنګله کې نوابه ګل     وینې یې راغلې په راده کې نوابه ګل
د نواب سترګې غټې نوابه     په هر میدان یې اړوي لکه سکروټې نوابه ګل
نواب وې پټ مې تېرویه نوابه     دلته مې خور ده او ورونه مه را خبروئ نوابه ګل (۵ :۵۱-۵۲)
خاني دې ستا وې برو خانه، نوابه، نه دې بل خان شي نه دې واخلي ماجبونه، نوابه، خانه برو خانه نوابه، که ته راځې وربل مې ښه جوړومه نوابه .... (۱۲: ۲۳۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

شهباز دې اوبدلی دی خارو
سور ګل دې پکې ټومبلی دی خارو
دا علامه د پسرلي ده
شهباز دې اوبدلی دی خارو
نجونو ټومبلي په وربل کې زیړ ګلونه
سور ګل دې پکې ټومبلی دی خارو
شهباز دې اوبدلی دی خارو
سور ګل دې پکې ټومبلی دی خارو

دا پورته سندرې یې له څو نورو سره چې اوس زما په ذهن کې نشته بیا په منځ کې د ډېرو ښکلیو لنډیو په تکرارولو سره ترنیمو شپو پورې ویلې او په اتڼ کې یې دا سندره ویله:

د شاه لیلا په لاس کې دروی د بادام دی
نری پشم د باران، د باران دی
بارانه ورو، ورو راوریږه
نری پشم د باران د باران دی
لیلا سالو لرې کوي لمده به شینه
نری پشم د باران د باران دی
د شاه لیلا په لاس کې دروی د بادام دی
نری پشم د باران، دباران دی
دغه سندره هم نارینه وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

په بايسکيل به درته سور شم

بګۍ اور

اوس ځوان يم بيا به زوړ شم

بګۍ اور

دغه لاندې سندره مې هم له دې لنډيو سره د يوه نارينه له خولې په يوه ويډيو ټيپ کې چې زموږ د يوه خپل د واده په شپه يې ويلې وه، واوريده:

ما خودې ښې ننداري وکړې

د ټکري پيښکې دې لنډې کړه باران دی

چې شنه منګي ته دې اړم کړل زنګنونه

د ټکري پيښکې دې لنډې کړه ماښام دی

راځه راځه يار دې راغلی په ماښام دی

د ټکري پيښکې دې ټولې کړه باران دی

د شهدانو لويه خدايه

د ټکري پيښکې دې ټولې کړه باران دی

په وينو رنګ شول د وردګو سپېره غرونه

د ټکري پيښکې دې ټولې کړه باران دی

راځه راځه يار دې راغلی په ماښام دی

د ټکري پيښکې دې ټولې کړه باران دی

ښځې هم په خپل وار په کور کې بدلې بولي، ګډاوې او اتڼونه کوي، لکه دا لاندې بدلې چې له لنډيو سره يې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بر کلي طالبه
ماته تاويز د سردردۍ وکړه مېينه
يا: د هجرې ګۍ طالبه خدای درکړې يمه
د هجرې طالب جانه - د هجرې

يا سر په لنډۍ کې:

خاونده بيا دې پسرلی کړ
له سپېرو دښتو د لونګو بوی راځينه
کېږدۍ ولاړې دينه - کوچيان راغلي دينه
يار مې کوچی ؤ کوچ يې وکړ
مايې خيالي دربار ته وکړل سلامونه
کېږدۍ ولاړې دينه - کوچيان راغلي دينه
يا: دا د مقر په غرو باران دی
جانان به سپينې رمې چېرته پنډوينه
نارې دې لاونګينه ( لونګينه)
يا: زه په جاله کې نه سورېږم او لاليه
جاله مې کارته(کښته) غرقوي ماهيان مې خورينه يا(اوبه مې وړينه)
دسيند غاړه جاله واله
يا: چار ګل مې شرنګ له پوزې ولوېد
په ما راپسې هلکه غوارم تاوانونه
چارګل مې بايلود
يا: سيلمانخيلې شين خالې شلګر ته ولوېدې غدۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

پاڼې، پاڼې لټوم د بنګو پاڼې [1]
یا: په ګل بوټو دې پرېوتل ګردونه
سبا به د غزني کوې مزلونه
یا د سر پیل په لنډۍ سره:
خوب تصور دواړه مې خوبښ دي
مه راوړه ساړه، ساړه لاسونه له خوبه یمه
زه د خواږه جانان دیدن پکې کومه
مه راوړه ساړه، ساړه لاسونه له خوبه یمه [1]

[1] - دې ته ورته بدله (د غرونو ځوکې) نومي کتاب کې هم راغلې ده:
پاڼې لټوم
دبنګو پاڼې لټوم
چارګل د نجلۍ ورک دی
ډېوه بله ګرځوم
پاڼې لټوم (۲: ۸۴)

[1]- (د غزنۍ سندرې) او (اولسي پوهې) لیکوالو دا سندره په لاندې ډول را اخیستې ده:
مه راوړه ساړه لاسونه خوب مې زنګوینه
مه راوړه ساړه لاسونه ډېر ساړه مې شینه
سور سالو مې ورو ورو جګوه له خوبه یمه
ټینګه خوبولې یاره تا بیداره کړمه (۱۳: ۱۳۶ )
زما دکټ نري برځونه (برجونه) له خوبه یمه★یاره مه راوړه
لاسونه له خوبه یمه
یاره مه راوړه لاسونه له خوبه یمه (۱۱: ۳۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا:

کاشکي د لوړ چینار منه وای
چې ورور مې راسره وای
یوازې نه وای
یا: کاشکی سورکی لعل په آمیله کې وی (وای)
کاشکي فلانکی جان په نن واده کې وی (وای)

یا سر په لنډۍ کې:

بارانه مه ووره (اوره) ودریږه
باران وریږي
هله بابولالې نری باران دی
په مسافر اشنا مې نشته دالانونه
باران وریږي
هله بابولالې نری باران دی
یا: غنمرنګه یاره څنګ ورکړه پیکي ته راځه جانانه
څه چې څو غزني ته راځه جانانه
د زړه مراد به یوسو شاه مست ګرندي ته راځه جانانه
ځه چې ځو غزني ته راځه جانانه
یا: زړګیه صبر ستا به څه غم ورسره وي
اوس به ړنګ بنګ ویده وي
اوس به ړنګ بنګ
زما په زړه خبره خدایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به ړنګ بنګ ويده وي
اوس به ړنګ بنګ
ته پرې خبر يې نور به نه پرې خبرومه
اوس به ړنګ بنګ ويده وي
اوس به ړنګ بنګ
یا: چې خماري سترګې لرې موږ ته اور رالګوې
د فلاني په کور ميينې لاس په زور لګوې، لاس په زور لګوې
یا: تورې سترګې سره لاسونه تېر به شي وختونه
راوړه ديدنونه، راوړه ديدنونه
یا: مرم چکنه مرمه
د تا ارمان به خاورو ته زه وړمه
ولې به يې وړمه
چکن په بازار ډېردي ډېر دي راوبه يې وړمه
یا: ښځې دي ګېډۍ، وی ګېډۍ په ګوتو راغلې
لاس راکړه جانانه، جانانه کډې ولاړې
راوړه يو لاونګ (لونګ) زما خال پې (پرې) تازه کړه
ملغلرې په پيزوان زما تور د راهي راوړه
یا: ما ستا لپاره چاوکلۍ په تار پېيلې دي
ماشاء الله، نام خدا ډېر مې په ارمان ارمان درته ژړلي دي
یا: سيند راغی چپې چپې یو يې وړل بندونه
سور انار دانې دانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: تر خولې وینې یولې (ویالې) یولې (ویالې) چا بنګ راکړي
اوه مستې لیلې( لې لې لې )
ویاره ماشوم د زمانې
یا: د زیړو ګلو څانګې مه نیسه ماتېږي
باغ مې د لاونګو(لونګو) دی
زړه مې پې (پرې) بدېګي (بدېږي)
شین بوټی د بنګو دی [1]
په اتڼ کې دا لاندې سروکې وایي:
جر (جار) شه لېونی (وی‌وی)
ما ویل نه ووري (اوري) باران دی - باران دی
یا: د شنو ونو، د شنو ونو سرونه
(وی) څه عجب بوی دی د زیړو ګلو
یا: شنې کفترې باغدادي (بغدادي) - لوی آمیل تر غاړه
لیلا له سیله ولاړه
یا: شاه زرګره- شاه زرګره ټیک مې لرزان دی
یار مې نادان دی- نادان دی
یا: نیمه شپه شوه، نیمه شپه شوه
(اوه) خیالي نور جانې یخ شمال لګیږي

---

[1] – (د غرنۍ سندرې) لیکوال دا سروکی په دې ډول راوړی دی:
د زیړو ګلو څانګې مه نیسه ماتیږي
زړه مې په بدیږي(۱۳: ۱۵۳ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

دېر مراسم په نجلۍ پورې مربوط وي او په دې شپه د ناوې په کور کې هم سیل او ساتیري زیاته وي، او هم د ناوې نکاح تړل کېږي، مخکې تر دې چې د ناوې سر خلاص کړي، ناوې ته د نژدې خپلو کسانو څخه دوه تنه د شاهدۍ لپاره راځي، دلته له دواړو لوریو نه ښځې ناوې ته داسې بدله بولي:

د نکاح شپې ته وکیل ونیسه
د نکاح شپې ته وکیل ونیسه
پرې به دې نه ږدم د پلار کور ته وکیل ونیسه
د نکاح شپې ته وکیل نیسمه
د سر پړونی غورځوم خپلې ادې ته -وکیل نیسمه
نجلۍ د سرو زرو غوټۍ ده وکیل ونیسه
واک یې د پلار دی خرڅوینه وکیل ونیسه
یا: شاهد مې شاهنین ولې تاوېږي
فلانکی په شاهدۍ کله پوهېږي
یا: زموږ ناوکۍ مه ژاړه مانښام دی
فلانی مې په میدان درته ولاړ دی

شاهدان راځي او ناوې پوښتي چې د خپلې نکاح پلار څوک نیسي یا تعیینوي او کله کله تر پوښتنې د مخه د ناوې مخ هم ګوري، ځکه شاهدان د کور د خپلوانو ښځو لخوا د شوخۍ، مسخرو او ملنډو لپاره ځورول کېږي او د ناوې پر ځای کومه بله پیغله تر شال لاندې کېني او شاهدانو ته یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب نه وایي یا یې سکونډي، یا یې په تګ راتګ ستړي کړي او داسې نورې پېرې او نخرې پرې کوي.

ناوې په دومره آسانۍ سره خبرې نه کوي شاهدان[1] باید څو ځلې بهر ووځي او بیا راشي خو درې ځلې یې له کوټې نه وتل حتمي دي، تر څو ناوې ځواب ورته ووایي، د ناوې همزولې د ناوې د لمسولو لپاره داسې ورته وایي:

زیړی لمر لیه ( لا) په (پر) غرو شته دی چې ونه وییې (ونه وایې)

شاهدان دې شیطانان دي چې ونه یییې (ونه وایې)

ناوې درې ځلې په مکرر ډول د خپل ټاکلي نکاح پلار چې مخکې یې یوه مشره ښځه ورته چې څوک د نکاح د پلار په توګه ومني لاربښوونه کوي، نوم واخلي. شاهدانو چې له ناوې نه د نکاح د پلار (وکیل) نوم واورېده او درې ځله یې پرې تکرار کړ، مخ په حجره د شاهدۍ ویلو لپاره روانیږي، دلته بیا هم شاهدانو ته محرمې مېرمنې د ملنډو او ساعتېرۍ په منظور په شاهدانو پورې څړی ګنډي[1] شاهدان که پرې خبر شي له ځانه یې لرې کړي او که نه نو له همدې څړي، یوه پټناسه وچې مېوې، نقلو او چاکلیټو سره حجرې ته ورځي، او هلته خلک د څیړي په لیدلو سره خنداګانې پرې کوي او ملنډې ورپورې جوړوي، شاهدان ملا ته خپله شاهدي ووایي او د مهر تر ټاکلو وروسته نکاح وتړل شي. تر نکاح تړلو وروسته ملاته لونګۍ

[1]- شاهدان باید ناوې ته له خپلو نه وټاکل شي یعنې چې محرم وي.

[1] - څړی هغه ټوټه چې تنور پرې پاکوي یا نورو زړو او خیرنو ټوټو ته ځړی وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

ورکول کېږي، مېوه، نقل، چاکلېټ او دستمالونه پر خلکو وېشل کېږي، په دې توګه د نکاح مراسم پای ته رسيږي.

که خېښان سره خپه وي او يا هم له خېښانو سره د ټوکې په منظور مخکې تر ډوډۍ داسې بدله بلل کېږي:

سپينې وريژې(وريجې)راځي، زيړغوړي پې (پرې) باندې
فلانيه وږيه زېری مې دربان‌دې

د شپې تر ډوډۍ وروسته بيا هم ناوې د سر جوړولو لپاره د ښځو منځ ته راوستله کېږي، د راوستلو پر مهال يې همزولې د نوموړې د بدرګه کولو لپاره سندرې ورسره وايي او ټنګورې يې هم مخې ته بدلې بولي، لکه:

بلبلې ورو ځه- ليلا ورو ځه
باد دې د زلفو بوی راوړي پرې تازه يمه
بلبلې ورو ځه

ناوې ته د کوټې په منځ کې ځای جوړېږي، چې پرې کېنوله شي دا ځای داسې وي چې يوه سور رنګه بړستنه ځلور کته کړي او په خوا کې يې د تکيې لپاره ټوله شوې يا نغښتل شوې بستره شاه ته کېږدي او ناوې پر بړستنه داسې کينوي چې مخ يې د قبلې په لوري وي، مګر په دې وروستيو وختونو کې د تخت د دوشکې په نامه د نجلۍ د کور ښځې مخکې يوه وړه دوشکه جوړوي چې بيا ناوې پرې کېنول شي.

کله چې ناوې ځای پرځای شوه يوه ټنګور چې اکثره د زوم خوروي د ناوې موټۍ خلاصوي[1] ناوې د ښي لاس په موټي کې چاکلېټ اېښی وي او

[1]- په ښارونو او ځينې کليو کې د ناوې موټۍ زوم خلاصوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر سر یې نیولی وي، او هڅه کوي؛ خپل موټی دومره کلک یا ټینګ ونیسي چې ټنګورې یې په خلاصولو کې پاتې راشي، د دې لپاره چې ټنګور یې په آسانۍ سره لاس خلاص نه شي کړای همزولې یې لاس ښه ورغوړ کړي، په عامه اصطلاح یا د کلیوالو ښځو د عقایدو او باورونو له مخې دوی وایي چې له ناوې سره ملایکې ملګرې وي، ځکه یې څوک لاس زر نه شي خلاصولای، تر ډېرې زور آزمایۍ وروسته یا په زور او یا هم د نورو په وینا ناوې خپل موټی پرانیزي، ټنګور چاکلیټ ترې واخلي او پرځای یې د سرو یا سپینو زرو ګوټیې او یا هم کومه بله ګاڼه کېږدي، او بیا اووه پیغلې راشي د ناوې په لاس کې نکریزې ږدي. تر دې وروسته د سر اخیستلو نوبت رارسېږي، د سر اخیستلو لپاره یوښه نیک عمله سړی راغوښتل کېږي، څو د قرآني آیتونو په ویلو سره د ناوې سر واخلي، سر یې باید په یوه د سرو یا سپینو زرو څخه جوړه شوې کلمه داره باندې واخیستل شي، او هغه داسې چې د ناوې ویښتان مخې ته را ړمنځ کړي او نوموړی کس یې په منځ کې سره بېل کړي[۲]، سر اخیستونکي په خوله کې بوره نیولې وي او تر سر اخیستلو وروسته یې د ناوې په سر کې ور پوف کړي، دلته نو ټنګورې داسې بدله ورته بولي:

---

[۲] - تر واده مخکې نجلۍ وېښتان په منځ کې نه نیموي یعنې یوه خوا اوبله خوا یې نه اړوي په ساده الفاظو که ووایو په منځ کې یې لیکه یا چاک نه وباسي بلکې په څنګ کې لیکه پکې وباسي او ترهمدې سراخیستلو وروسته ناوې شوې ښځه تل ویښتان په منځ کې نیموي، او دواده او نا واده شوې نجلۍ یو توپیر همدا د وېښتانو جوړول دي.
په کوچیانو کې بیا نجلۍ تر څو چې کوژده ونه کړي پیکی بیاتي کوي او چې نامزاده شي بیا نو پیکی پرېږدي، چې اورد شي او د واده په ورځ واوبدل شي، که کومه پیغله په کوژده کېدنه خوښه نه وي او یا یې هغه کس چې ورته کوژده ده نه خوښېږي، د واده په شپو کې له قصده خپل پیکی بیاتي کړي او په دې توګه یې نارضایتي ښکاره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

په تور پيکي دې ونيسه لاسونه
نامرادې بيا به وکړې ارمانونه
يا: وروره راشه سر يې واخله
که طلا درسره نه وي دهوسۍ په ښکر يې واخله [1]

تر دې رسم وروسته ښځې د ناوې د سر جوړولو هوډ کوي، دوې ښې ماهرې او بيدارې ښځې چې د سر جوړول يې ښه زده وي د ناوې يوه او بل څنګ (خوا) ته کيني او په سر پورې يې وړو نجونو ته هغه بل شوي شمعونه نيولي وي، چې زوم خپلو په پوښ کې راوړي وي تر څو سر جوړونکيو ته رڼا ډېره شي او په سر جوړولو کې خرابوالی را نه شي، همدارنګه له شمعونو سره ږمنځې (ږمنځ) هم راوړل کېږي ترڅو سرجوړونکې د ناوې د سر جوړولو په وخت کې کار ترې واخلې او نورې پاتې ږمنځې پر شمع نيوونکيو نجونو باندې وېشل کېږي. د ناوې سر جوړول ډېر وخت نيسي په دې جريان کې ټنګورې بيا هم بدلې ورته بولي، لکه:

پرون دې نرۍ لښتې ماتولې
نن مې کلا بنده کينولې
يا: پيغلې چې پرون دا وخت دې غورې کړې

[1] – په (دوردګو د واده دود او بدلې) کې دا بدله د (يې) د کمزوري ضمير پر ځای د (مې) د کمزوري ضمير په راوړلو سره ثبت ده:
وروره راشه سر مې واخله
که طلا درسره نه وي د هوسۍ په ښکر يې واخله
(۱ :۳۸٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

اوس به سره ګلان له پېکي لرې کړې [۱]

یا: پرون دې نرۍ لښتې ماتولې

نن مې کلا بنده کینولې [۲]

یا: پرون دا وخت د سیند مېلې ته تللې وې

نن مې نظر بنده کېنولې یې

یا: ناوې چې سر دې جوړاوا (جوړوه) دپیکي ول ونیسه

چې فلانی جان یې ورانیوي مخ ته بخمل ونیسه [۱]

یا: پېکی دې د لوجروملې په شان ونغاړه

همزولې درته ناستې په ناورین ژاړه [۱]

---

[۱] - (د وردګو د واده دود او بدلې) لیکوال دا بدله په لاندې ډولونو خوندي کړې ده:

پیغلې چې پرون ده وخت دې غورې کړې    نن به ګیراګان د پیکي لیرې کړې(۱: ۳۷۹)

ناوې چې پرون ده وخت دې غورې کړې    نن به سپین پرتوګ له پښو نه لیرې کړې(۱: ۱۸۵)

[۲] - (د وردګو د واده دود او بدلې) کتاب کې دا سندره داسې راغلې ده:

ناوې چې پرون ده وخت دې لښتې ماتولې    نن مې نظر بنده کېنولې(۱: ۲۴۸)

ناوې چې پرون ده وخت دې کړې غورې    نن مې خنګه دکلا بنده کېنولې (۱: ۱۶۵)

[۱] - دا بدله په(د وردګو د واده دود او بدلې) ، (دغرونو ښوکې) او (غرنۍ سندرې ) نومیو کتابونو کې په دې ډول ثبت ده:

ناوې چې سر دې خلاصوي کوڅۍ دې ول نیسه

همځولې تولې درته ناستې، مخ ته پلو نیسه(۱: ۱۶۵)

د کوڅۍ ول ونیسه، د کوڅۍ ول ونیسه    دا پلانی درته ولاړ دی    سپروي به دې(۲ :۱۵)

د ناوې سر چې جوړوئ د کوڅۍ ول نیسئ د کوڅۍ ول نیسئ

چې دا ترلې یې جوړوي خولې ته پلو نیسئ خولې ته پلو نیسئ(۱۳: ۱۹۷)

[۱]- دا سندره په لاندې ډول (د خلکو سندرې) کې راغلې ده او احسان الله آرینزي هم په خپل کتاب کې کټ مټ د خلکو سندرې په شان ثبت کړې ده:

دا تور وربل دې د لوجروملې په دود ونغاړه – (هوی) ونغاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا: دوه دوه تاره اخله سر يې ورو ورو جوړويه

زموږ ناوې ښايسته ده په نخرو يې جوړويه [۲]

يا: سر بافې سر يې ورو،ورو جوړويه

که يې نه شې جوړولی نور يې مه پې (پرې) شکويه

يا: سترګې يې تورې کړئ

سبا به يې ډولۍ راشي

همزولو شال يې دورې کړئ

يا: پېکی يې د لوجروملې په شان ونغاړه

همزولې دې درغونډې په ناز وژاړه

يا: په تور پيکي دې ډېرې منډې وکړې

ابه دې غورې کړې خلاصه يې نه کړې

يا: د ناوې سر په غوړو غوړ کړئ نور يې مه ووئ

چې د فلاني جان د ټوپک غږ شي بيا يې ښه ووئ

د ناوې سر چې جوړ شي بيا يې نو د لاس سره کولو لپاره ښځې داسې رابولي:

---

چې (پلانکی) يې ورانوي اوس په ناورين ژاړه (هوی) په ناورين ژاړه ( ٦ :٨٠)

[۲] دا بدله په (د خلکو سندرې) نومي کتاب کې هم په لږ څه توپير سره راغلې ده:

دوه دوه تاره اخلئ ګيسو ورو – ورو يې بېلويه

ناوکۍ مو ده نادانه تر غرمې يې – مې يې ځنډويه

ناوکۍ مو ده نندانه تر غرمې يې ځنډويه (٦: ٩٥)

همدا بدلې د لوګر او ننګرهار پښتنې داسې وايي:

دوه – دوه تاره اخلی سر يې ورو – ورو جوړوئ زموږ ناوې نندانه تر غرمې يې جوړوئ(١: ٤٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې شنه غونډۍ سر يې رېبلی دی

راشه فلانۍ سر يې جوړ شوی دی

سر جوړونکيو او شمع نيوونکيو ته د کار په پای کې پيسې ورکول کېږي او ناوې بلې خوني (کوټې) ته چې نوموړې بايد پکې ويده شي يا ويده کېږي، د لاسونو او پښو سرو کولو لپاره بوول کېږي، په اوسنيو وختونو کې چې د موټرونو آسانتياوې رامنځ ته شوې پرته له ټنګورو تر ډوډۍ خوړلو وروسته د زوم له کوره نورې ښځې هم د سر جوړولو او ناوې ته د نکريزو راوړلو په منظور د ناوې خيلو کره راځي. دې ښځو نوموړې نکريزې په يوه يا څو ښکليو لوښيو کې خيشتې کړې وي، په منځ کې يې شمعونه بل کړي او د ډيزاين لپاره يې نقل او چاکليټ هم پکې ټومبلي وي، دا نکريزې هم په بدلو او دايرې وهلو سره د ناوې کوټې ته وروړل کېږي. لکه:

ناوې په (پر) بام ولاړه ريدي ګل اوبه کېوي (کوي)

له ادې نه رخصت اخلي لاس او پښې يې سرې کوي

يا: سمې نيمې شپې شوې مرکې په خوب ويدې شوې

په نجونو کې نارې شوې د فلانۍ منګولې سرې شوې

يا: نکريزې مې خوشتې کړي

دغه څه بلا پرې پرېوته

نوره بلا نه وه

دا د چا بلا پرې پرېوته

يوه طالع منه ښځه د ناوې لاس او پښې ورسره کوي. ولسي خلک طالع منه ښځه داسې چا ته وايي چې د ډېرو زامنو مور وي او شته ولري. او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

هغو خینه پیچونو کې چې مخکې یې کورنۍ له یوه ښه زرین ټوکر څخه جوړکړي وي نغاړي یا تړي یې.

ټنګورې تر نیمو شپو پورې سندرې وایي، اتڼونه کوي، دوګانه بدلې وایي او ګډا ګانې (نڅاوې) ورسره کوي. لکه:

سمې نیمې شپې شوې پړشمی دی لیلې
ته (تر) خدای مې جر(جار) کړې د فلاني د آس شرنګی دی لیلې[1]
یا: سمې نیمې شپې شوې خدایه اوس به سبا شینه
د خور او د ورور مینه خدایه اوس به جلا شینه
یا: مړوند مې سر ته کېږده
کراره شپه ده لیلی
خوب مې زنګوینه دولس بجې دي
یا: اوس به ګلابي ګلان غوړیږي
سبا به رنګارنګ نجونې ژړیږي
یا: سبا به د ناوې خویندې ژړیږي
یا: مورِ نه دلې (دلته) یو نه دلې(دلته) اوسو
سبا به څنیوره ناوې یوسو
په اتڼ کې داسې سندره وایي:
سور ټیک مې ځنځیر دار ځنځیر دار دی

[1] - د (د وردګو د واده دود او بدلې) کې په دې ډول راغلې ده:
سمې نیمې شپې شوې پړشمی دی لیلې د(پلاني) کوډی مې په وره کې سوروی دی لیلې (۱: ۳۷۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

ورور مې جوړ کړی د کابل په لوی بازار دی
سور ټيک مې ځنځير دار ځنځيردار دی

د خوب وخت چې رالنډ شي په کلي کې د نېږدې کورونو مېرمنې خپلو کورونو ته روانېږي، د ناوې د کور يوه ښځه يا واکداره مشره هرې يوې ته د تګ پر مهال وچې يا لمدې نکريزې ورکوي چې خپل لاسونه پرې سره کړي.

ټنګورو ته هم تر ځايونو همواروولو او يا ځای جوړولو وروسته نکريزې راوړي او لاسونه يې ورسره کوي، ځينې ښځې خو لا مخکې تر دې چې په ټنګورولۍ راشي د ټنګور توب لپاره لاسونه په کور کې يا د زوم کره سره کوي.

په دې منځ کې هم ټنګورې بدلې بولي او که د ټنګورو لاسونه خپښان ورسره نه کړي په ستاينو او پيغورونو کې يې پام دې ته اړوي چې د دوی لاسونه بايد سره شي، لکه:

سور شو کلی سور شو موږه سپين لاسونه ځو
داسرې (داځلې) يې راسره کړئ بيا به نه درته راځو

سهار وخته تر لمانځه وروسته بيا ټنګورې بدلو ته زور ورته کړي او د سهار سبا بدلې وايي لکه:

د سهار سترګه راوختنه ملکه ده
فلانۍ په ځای کې لاس وهي لور يې تې (ترې) ورکه ده

يا: سهار سبا ملا اذان کا،

بلبلې ورونه
او خلاصبوي (خلاصوي) طوطيان تې (ترې) ځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

سهار سبا دی
سهار سبا دی وظيفې کړې
په ياد دې زه وم؛ او که دې نور کړل درخواستونه
سهار سبا دی
يا: د چا په غولي لمر دی
د فلاني په غولي لمر دی
پاستې يې پخيږي
تبخی يې د لاجبر(لاجورد) دی
يا: سهار چرګو نارې کړې چې(وی وی) له خوبه يمه
لورکی يې په ژړا شوه چې (وی‌وی) ورکه دې کړمه
يا: سهر چې سبا کيږي اوس پرې واچوه لونګی
فلانی ورته ولاړ دی دا وړې وړې سلګی
يا فلانی ورته ولاړ دی اوس به وړي خپله نګور کی (نږورکی)

تر چای څښلو وروسته ټنګورې او نورې واده ته راغلې مېلمنې په جامو بدلولو او ځان سينګارولو بوختې شي او هلته د ناوې همزولې د ناوې په جوړولو او سينګارولو پيل وکړي بل ځای ناوې خېل د ورا د راتګ لپاره تياري نيسي، او ښځې داسې بدلې بولي:

اوس به تور لونګ جوړه جوړه راشي
اوس به د فلاني جان ټولی بسته راشي
يا: اوس به تور لونګ جوړه جوړه راشي
اوس به فلانی جان ته (تر) ګل تازه راشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: اوس به تور لونګ جوړه جوړه راشي
اوس به فلانی جان ته (تر)ګل ښایسته راشي [۱]
یا: اوس به جوړ کړی نیلی راشي د فلاني د (له) کوره
اوس به د ګلو غنچه یوسي د فلاني له کوره
ناوې جوړولو ته داسې بدلې بولي:
په پلو کې مې ګلان دي زه ګلابي راڅولوم
وربندار مې ښایسته ده زه یې خپله جوړوم
یا: د سوندرو لار یې جوړه په تندي کړیه
د فلاني ناوې مې جوړه کاغذي کړیه [۱]
یا: ناوې لوړ وهه خالونه
(وئ) لوړ وهه خالونه
مکتبیان د تا لیورونه
اوس به ونیسي ځایونه

---

[۱] - (د وردګو د واده دود او بدلې) او (پښتني ودونه) کتابونو کې دا بدله داسې راغلې ده:

اوس به شین نیلی په دروازه درشي    اوس به (.....) ټولی بسته درشي (۱:۵۵)
اوس به تور لونګ جوړه – جوړه راشي   اوس به تور لونګ جوړه – جوړه راشي
اوس به د غونډک ټولی بسته راشي    ( ۷: ۷۶)

[۱]- دا سندره د آرینزي په کتاب کې یوازې د (لار) پر ځای د (لیر) په راوړلو او د ښاغلي حبیب الله رفیع د خپل کتاب (پښتني ودونه) په ٦۵ مخ کې د فلانکي پرځای د زیړ ګل د نوم په راوړلو سره کټ مټ لکه (د خلکو سندرې) د کتاب په ډول ثبت کړې ده:

د چندښو لار یې جوړه په تندي کړه   د (پلانکي) ناوې یې جوړه کاغذي کړه( ٦: ۸۳)
د سوندرو لیر یې جوړه په تندي که
یا: د چندڼو لیر یې تیره په تندي که   د (پلاني) ناوې یې جوړه کاغذي که (۱:۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوې لوړ وهه خالونه

یا: د موږه ناوې سپینه ملغره ده

د پلار په کور کې ناسته مساپره ده

یا: ناوې زرورک مخ ته شنلي دي

ادکې یې زړګي ته لاس نیولي دي

که ټنګورې خپه وي داسې وایي:

په لوړه بلخانه (بالا خانه) کې لوړه ناوې جوړوي

ادې یې ورته ناسته نرۍ اوښکې تویوي

په اوښکو دې نالت (لعنت) شه لور خو هر څوک ودوي

د زوم کره هم خلک کرار نه وي ناست ډولونه وهل کېږي، سندرې ویل کېږي، د ورا د تللو لپاره خلک راغونډېږي په ورا د تګ لپاره نورې ټنګورې ټاکل کېږي، خو د نارینه وو لپاره ممانعت نه شته د زوم په ګډون هر څوک په ورا تللی شي، له دې امله په ورا کې د نارینه وو شمېر تر ښځو زیات وي، د کلي واړه، زاړه او ځوانان ټول په ورا ځي، د ورایځې ښځې هم بدلې بولي. لکه:

په شنه ډنډ کې ولوېدمه لمده نه شوم

ماما ته داسې وایه ټنګور دې زه شوم

یا: د لمر سترګه - سترګه په شغلو ځي

فلانکي ته ویه (وایه) رووځه (راووځه) ورا دې ټوله له تربرو ځي

یا: باغدادي(بغدادي) کفترو خوب کړئ که ویښېږئ

د فلاني خېښانو(خویشانو) کوچ کړئ روانېږئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر لاره په موټر کې دا بدلې بولي:

موټره د سرک غاړې دې ونیسه

فلانیه د خیښانو تیه (تهیه) ونیسه

یا: تاسې په پیسو کې یوه کلداره روپۍ وګورئ

تاسو په تربرو کې د فلانې مېړانه وګورئ

یا: په شرنګه ووره (اوره) بارانه چې کرار نه شې

ګوره فلانی جانه ورخطا نه شې

د ناوې کور ته له رسېدو سره سم په کور کې ناستې ټنګورې چې یوه ورځ مخکې راغلي دي داسې بدلې بولي:

اوس به ځوانان راشي وطن به شنه دودونه کا

مور به ناوې یوسو وطن به دسمالونه کا

یا: هوښیارې ناوې ونغاړه کارونه

درتېر شول د تور ټوپک رنه بندونه

یا: راغی موټر راغی – موټر ترخې ماتوي

فلانی پکې راغلی ځنیوره ناوې وړي

یا: فلانی ورسره راغلی ځنیوره پکې وړي

یا:فلانی ورته ولاړ دی ځنیوره ناوې وړي

یا:پلانکی مې پکې ناست دی توره لونګۍ یې باد وهي

یا: د جغتو موټره ته په تعمیر ودرېدې

ورنځوره دې کړم ډېر مې یادېدې

او ناوې ته د زوم د راتګ په خاطر داسې سروکی وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

زما دې زېرى په تا شينه، مبارک دې شه

او وړې ليلې يار دې راغى[1]

او هغه ښځې چې اوس په ټنګورولۍ راځي په ګډا او اتڼ کور ته دننه راځي او دستمالونه ګډوي دا فضا په ډېرو ښکليو الفاظو داسې رنګينه کوي:

اوربل دې بل، بل سکاره دې مړه دي

فلاني ته ويه (ووايه) رووځه (راووځه) خانان دې مېلمانه دي[2]

يا: موږ درغلو په (پر) کلي اشرپۍ راوشنئ

زموږ ځوانان ښايسته دي ښې غالۍ راوباسئ

يا: ټينګې دروازې کړئ ژنيو دروستې نيلۍ

ته(تر)مخ يې فلانی جان دی مرغلرې پرې پاشئ[1]

---

[1] - دا سروکی محمد عارف غروال په خپل کتاب کې په لاندې ډول راوړی دی:

مبارک دې شه واوړې ليلا يار دې راغی

زما دې زېری په تا وينه مبارک دې شه وای يار دې راغی(۱۳: ۱۸۸ )

[2] – (د وردګو د واده دود او بدلې)کې دا بدله په دې ډول خوندي ده:

اور دې بل سکاره دې مړه دي (...)ته ويه راووزه، ښه ځوانان دې ولمانه دي (۱ ۲۰۸)

[1]- دا سندره په ډېرو کتابونو کې څو ډوله راغلې ده، په لاندې توګه يې نمونې وګورئ:

ټينګې دروازګيې – سپرو دروستې نيليې

تر مخ يې پلانکی جان دی ورته وغوړوئ غاليې (٦: ۸۸)

دا سندره د (پښتني ودونه) په ۷٦مخ کې د پلانکي پر ځای د (مست مير خان) د نوم په راوړلو سره ثبت ده او په لاندې ډول هم ويل کېږي:

ټينګې دروازګيې – سپرو دروستې نيليې

پلانکی جان د تاسو زوم دی ملغلرې پرې شنيه! ( ٦: ۸۸)

دا سندره په (پښتني ودونه ۷٦ مخ) کې د پلانکي پر ځای د (نادرجان) د نوم په راوړلو سره ثبت ده. او (د وردګو د واده دود او بدلې) کې هم په همدې شان راغلې ده:

ټينګې دروازګۍ، سورو دروسته نيليۍ (...خان) د تاسو زوم دی ملغلرې پرې شنيه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا: په ناورين چمن يې واړول بارونه
د فلاني په کور يې پرې ايستل گردونه
يا: په شينکي چمن يې واړول بارونه
د فلانکي په کور کې ولوېدل گردونه [1]
يا: سپينې سپينې اوبه راغلې
په سر يې سرې ډولۍ راوړې
ماما ته داسې وايه
چې کلې ته شين خالۍ راغلې
يا: ماما جوش کړه بخارۍ
ماما خلاصې کړه ورسۍ

هلته د زوم په کور کې هم ښځې بدلې بولي د ورا تر تللو وروسته د ورا د بېرته راتگ په انتظار وي او په ورا پسې دا سې بدلې وايي:

د فلاني کور مخ په لمر دی ښه ځوانان ورغلل
د فلاني سره مې ټول يکرنگ سيالان ورغلل
يا: فلانيه سرای دې فرش کړه په مرمرو
فلاني ته ځوکۍ کېږده د سرو زرو
يا: په غرو باران دی گلان به راوړي

---

يا: (...خان) د تاسو زوم دی ورته وغوړوئ غالۍ (۱ :۲۰۹)

[1]- دا سندره (د وردگو د واده دود او بدلې) په کتاب کې احسان الله آرينزي په لاندې ډول را اخيستې ده:

په نري چمن يې واړول بارونه    د (...)د ښادۍ غږ دی په ملکونه(۱: ۴۵۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلانکی مې تللی دی ناوې به راوړي

یا:

د غره د(له)سره مې سیي (صحیح) کړې انار ګله، ګله
پرې به دې نه ږدم د فلاني په کور کې ګله، ګله [1]

یا: د سرو زرو صندوق مې درلېږلی دی چې چپه یې نه کړئ
فلانی مې درلېږلی چې خپه یې نه کړئ

که خېښانو ته په غوسه وي او یا د دواړو خواوو تر منځ زړه بداوی رامنځ ته شوی وي، بیا غندنې او پیغورونه ورته وایي، لکه:

ناوې پټ کړه دا خیرن خیرن تربورونه
اوس به درشي فلانی جان زیړي ګلونه

یا: ناوې موږه سږ نه ناوې کولې
ابه (ابا) دې ننواتې ګرځولې

ورا چې د خېښانو کره ورسېږي په اتڼونو، بدلو، ښه ویشتلو او نیزه[1]وهلو پیل کوي، د کور ښځې یې مخې ته د ښه راغلاست لپاره ورځي، مېوې، نقل او چاکلیټ او مخې ته یې اوبه شیندي د ډوډۍ تر وخته د سیل او ساعتېریو میدانونه په ډول ډول لوبو تاوده ساتي. لکه:

---

[1]- (د وردګو د واده دود او بدلې) نومي کتاب کې په لږ توپیر سره ثبت ده:
د غره له سره مې سییي کې د انار ګله – ګله
پرې به دې نه ږدم د (...) د کوټې ګله – ګله (۱: ۴۳۳)

[1]- د طالبانو تر واکمنېدو وروسته په دې لوبو هم بندیز لګیدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

خدایه فلاني تنګ غولی جوړ کړی دی
فلانی مې له تربرو سره راغلی دی
یا: فلانیه سرای دې ولې ختې کړی دی
فلانی مې له تربرو سره راغلی دی
یا: ناوکې سرای دې ولې ختې کړی دی
موږ موټر په څو لکه نیولی دی

ورا بانیواو ټنګورو ته تر ډوډۍ ورکولو وروسته یا په همدې منځ کې بیا هم ټنګورې بدلې بولي. لکه:

موږ په سرکاري موټر کې رغلې (راغلې) یو
موږه شوروا نه خورو نازولې یو

که دخېښانو تندی تریو وي او یا ښه وضعیت ورسره ونه کړي، بیا نو ټنګورې ورته وایي:

ګڼې باران چې ووري (اوري) تر ځنګانه چیکړې
فلانی ولې کرجن(قهرجن)دی شی خو موږ خپل راوړي

که د خېښانو په منځ کې خپګان وي او یا هم د خلکو د ساعتېرۍ او ملنډو لپاره د ناوې خیلو له خوا د ډوډۍ پرمهال داسې ستاینې ویل کېږي:

خدای دې وه سر خانه کاسې ډکې ډکې وړه
خېښان دې وړي رغلي (راغلي) اوس یې ښه پې (پرې) مړوه
یا: سرې مرغۍ کیسې کا
ډوم ډومکې یې پېښې کا

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

ټنګورې وړې رغليې (راغلې)
لکه پشۍ (پيشکې)منګولې پکې کا [1]

يا:

سپينې وريژې (وريجې) راځي زيړ غوړي پې (پرې) باندې
فلانيه وړيه زېرى مې درباندې

خو د ورا ډوډۍ په خېښانو پورې اړه لري، که يې مخکې پر خېښانو باندې دا اېښي وي يعنې دا خبره منلې وي، چې ورا به د دوی کره ډوډۍ خوري نو هلته ډوډۍ ته د خېښانو کره ورځي او که يې په لومړي سر کې دا خبره نه وي معلومه کړې او يا يې نه وي پرې اېښي نو په ورا روان کسان د بريځر (غرمې) ډوډۍ له زوم خېلو کره په وخت وخوري او بيا په ورا روان شي. تر دې وروسته ټنګورې په بدلو سره د ناوې د راوستلو لپاره ښځې هڅوي، لکه:

د پښو کوښې مې وختې سوده شومه
را وښيئ ناوی چې پې (پرې) آسوده شمه

جوړه شوې ناوې چې همزولو ترمنځو نيولې په شال کې پټ مخ له بدلو سره د ښځو منځ ته راوستل کېږي، لکه:

---

۱- (د وردګو د واده دود او بدلې) کې دا بدله په لاندې توګه خوندي ده:
لوی مرغان کيسې کا، ډم ډومکې(۱) يې پېښې کا
(...) په ډوډۍ ناست دی ، لکه باز خبرې ښې کا (۱ :۱۵۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

بلبلې ورو ځه لیلا ورو ځه
باد دې د زلفو بوی راوړي پرې تازه یمه
بلبلې ورو ځه

ناوې په هغه ځای چې مخکې مې خبرې پرې وکړې ـ بیا یې یادول بې ځایه تکرار دی – کښنوله کېږي خو په دې شرط چې مخ یې باید حتماً د قبلې په لوري وي.

دلته پکار دي چې د ناوې د جامو او سینګار په اړه هم څه ناڅه خبرې وکړم، ناوې ته یوه ورځ مخکې له واده نه وانښه اېشول کېږي او د نوموړې لاس اوپښې پکې ږدي چې زېړ رنګ واخلي او ښکلې او ښویې شي – چې اوس په ښارونو کې د دې کار لپاره د بلیچ (سپینتیاو) نه کار اخلي - ناوې یوه میاشت یا حد اقل یوه اونۍ د کور کار نه کوي تر څو لاس او پښې یې نرم شي او همدارنګه د نوموړې لاس په دې موده کې هره ورځ په رش (پېروي) سره غوړوي. چې دا هم د ناوې سینګار ته د تیاري لپاره یوه مهمه برخه ده.

ناوې ته یو ښکلی رنګین سور یا شین د ټټر کمیس او د دې کمیس د رنګ په تناسب سره سور یا شین ګبی (د ګونځو) پرتوړ (پرتوګ) وراغوستل شوی وي، د کمیس ټټر، لستوڼخولې، او لمنه په ګوتو یا چرمو جوړ شوي او په ډول- ډول ګاڼو لکه د سپینو زرو لمن، بازو بندونه چې په متو یې بندېږي، وټیویا متویو (چې په لستوڼو پورې کېږي) سمبال شوی وي، متې (مټ ګلې) پر متو او ګېډ بند یې په خت (کمیس) پورې تر ټټر لاندې ځړېږي، رخچینه (عرق چین) یې چې تاویزونه هم پرې بند وي ور پر سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې وي، په غوړونو کې يې اکثراً هغه لښتۍ (غوړوالۍ) چې د سکڼيو په نامه يې يادوي وراچولې وي، غاړکۍ، چاوکلۍ يا اوړۍ يې په غاړه وي، په پوزه يې چارګل، پېزوان يا هم نتکۍ اوېزانې وي، لاسونه يې په ګوتيو، شستونو، وښيو يا باووګانو ښکلي شوي وي، پر تندي باندې کجک يا سرۍ او پر وېښتانو يې چې په منځ کې يې ببل کړي وي په کند[۱] سره دړۍ (دنۍ)[۲] سريښ وي، پر ټنده (وچولي) يا (وچوړي) باندې يې رنګه خالونه ور وهلي وي.

د ناوې د رخچينې يا خولۍ د پاسه يوه دوه متره رنګه ټوټه اچول کېږي، چې مکنه ورته وايي ـ اوس په ډېرو سيمو کې د رخچينې يا خولۍ پرسر کولو رواج له منځه تللی او ناوې ته نه ورپه سر کېږي. او د پاسه بيا د پلارګنۍ شال پرې غوړېدلی وي او کله يې چې ښځو ته ورښيي؛ نو په لاسونو کې يې يو ښکلی د لاس دستمال ورکړی وي، دا د لاس دستمال هم دوه رنګه وي چې له دريو برابرو يعنې نسبتاً وړو دستمالونو څخه جوړ وي، مثلاً يوه خوا او بله خوا يې ګلابي دستمالونه او په منځ کې يې يو شين دستمال جوخت ورسره ګنډلي وي او ډېر رنګين لاسي کارپکې شوی وي، په ټولو کنجونو پورې يې ځونډې ځړېږي. کله چې ناوې ښځو ته ورښيي، ناوې دواړه لاسونه لپه کړي او پرې خواره شوي دستمالونه مخ ته ونيسي او

۱ - کند: له ونونه يوډول سريښ ناکه ماده چې راوځي، او دسريښولو يا د يوه شي دنښلونې خاصيت لري.

۲ - دړۍ يا دنۍ رنګه زري کاغذونه يا زرورق دي چې د ناوې په وېښتانو يې د ښه ښکاره کېدو په منظور سريښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

د نومورې خور یا همزولې په داسې حال کې چې ناوې سترګې پټې نیولې وي د ناوې لاسونه له مخ نه لرې کوي او دا جمله ورسره تکراروي: دغه ده، دغه ده، وګورئ دغه ده. خېښې بیا هم دا بدله ورته بولي:

ناوې ولاړه ده وګورئ عالمه

زیړه یې غاړه ده وګورئ عالمه

یا: راځی چې د سرو پیازو نوالې وکړو

راځی چې د دې ناوې ننداره وکړو [1]

یا: ناوې سترګې دې پټې کړه دا تورې

سبا به د فلانکي ځواني پې (پرې ) ګورې[2]

یا: زمونږ ناوې د سپینو کوچو جوړه ده

ببیه (قد) یې د فلاني په ببیه جوړه ده

یا: نرۍ ببیه دې جر (جار) شم لکه لښته

فلاني خو خوښه کړې وې دېوخته

یا: د نریو سرو اور دی لګېدلی

د ناوې تر نګېښي نوی ګل ختلی

یا: رځه (راځه) مجنونه که لیلا ګورې

---

[1] - دا بدله ښاغلي آرینزي په خپل کتاب کې په لاندې ډول راوړې ده:

راځی چې ده د پیازو نوالې وکړو اوس به چکن راوړو د چاپو بې ننداره وکړو(۱: ۳۷۳)

[2]- (د وردګو د واده دود او بدلې) کې په لږ اوښتې بڼه ثبت ده:

ناوې دا سترګې پټې کړه ده تورې سبا به (امان جان) ځواني پې ګوري(۱:۲۱)

ناوې سترګې غړوه ده تورې بېګه به (...خان) ځواني پې ګورې (۱: ۲۴۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

لیلا ولاړه توري سترګې سره لاسونه
راځه مجنونه که لیلا ګورې

که ناوې مور ونه لري، یعنې مړه وي او نورو ناوې سمه نه وي سمبال کړې دا ورته وايي:

په خوږ کې کینه چې سبل دې یوسي
ادکه مور دې نه شته چې ناز دې یوسي [1]
یا: ګڼ باران ته کینه چې لمده دې کا
ادکه مور دې نه شته چې درنه دې کا

مخکې تر دې چې ناوې د پلار له کوره وایستل شي ،زوم کور ته راغوښتل کېږي، تر څو هغه جامې چې غاړه یې مېرمنې په ګوتو جوړه کړې وي واغوندي، د راتګ په وخت کې یې خور یا ترله د بدرګې لپاره مخې ته ورځي او داسې یې ستايي:

لرې شی له مخې موږه شاه راواستا (راوسته)
خدایه ما تې (ترې) جر (جار) کړې فلانی یې شاه بالا راواستا (راوسته)
یا: لرې شی له مخې زموږ ورور راغلی دی
تور ببر یې سر دی سور یې ګل ټومبلی دی
یا: ګل خینه بندي ده اوس به شاه راشي
خدایه خورتې (ترې) جر (جار) کړې- فلانی جان به شاه بالا راشي

[1] - د (غرنۍ سندرې) لیکوال دا سندره په لاندې توګه راوړې ده:
په توی کې کینه چې توی دې یوسي مور او پلار دې نشته چې ناز دې یوسي (۱۳ : ۱۹۸ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: لوړو بلخانو (بالا خانو) ته زینې کېږدئ
فلاني ته په تاخچه (طاقچه)کې کالي کېږدئ [1]

زوم خپلې جامې بدلې کړي، له جامو سره نومونړي ته په ګوتو جوړشوی څادر او نور لوازم لکه، لونګۍ، جرابې، بوټان، دستمال...، ټول برابر شوي وي. تر جامو اغوستلو وروسته د زوم ګوته د ده ښمینه (ښینه) په نکریزو ورسره کوي او په یوه ښایسته جوړ شوي خینه پېچ یې تړي او له کور نه بهر هم نکریزې له خینه پیچونو سره لېږل کېږي، تر څو د زوم همزولي هم خپلې ګوتې یا ورغوي پرې سره کړي. ټنګورې زوم داسې ستايي:

د شپېيه شبنم د سهر(سهار) ګل ګورئ
په خیال جوړ کړی فلانکی نن ګورئ
یا: شنې او سرې ډېوې د سهر ګل ګورئ
په خیال جوړ کړئ فلانکی نن ګورئ

پخوا به د زوم د غاړې جامې چې له خسرګنۍ کره بدلې کړلې ډم ته ورکول کیدلې، خو اوس د جامو په بدل کې ډم ته پیسې ورکول کېږي او د زوم کالي په درېیمه ورځ چې زوم شاه سلامۍ ته راشي بېرته زوم ته سپارل کېږي. زوم د خسرګنۍ په جامو سمبال او جوړ شوی له کوره بهر وځي هلته یې همزولي په غاړه کې ګلان اچوي او زري پرې شیندي. په کور کې ټنګورې د ناوې د وړلو لپاره ښځې هڅوي، لکه:

[1] - (د وردګو د واده دود او بدلې) کې دا سندره په لاندې ډول راغلې ده:
لوړو بلخانو ته زینه کېږدئ (پلاني) ته په شپاله کې کته کېږدئ (۱: ۴۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښو غرغړې کړې خدایه دامان لرې دی
مور ته ناوې راکړئ خدایه ځای مو لرې دی
یا: لمر په چینارو (څنارو) شو سرې شغلې یې وختې
فلاني ته ناوې ورکړئ ترلې یې بام ته وختې
یا: ناوکې په بوټو دې سپېره دوړه ده
ناوکې د لېورو دې ډېره بیړه ده

تر دې وروسته د پلار له کوره د ناوې د تګ وخت رارسیږي. که زوم کور ته دننه راتلو اجازه ونه لري د ناوې ورور یا تره اوس جرابې خو پخوا شخشولې[1] او بوټان ورپه پښو کوي، او خېښانې یې د ورور او یا پلار بلنې او د ناوې د ژړولو لپاره داسې بابولاله وایي:

سحر شو ناوۍ ته (تر) بریاله[2] ګوري
وخت د بېلتانه دی شیرین ورور یې راوبولئ
یا: کوټې دې اړوم تیران تې (ترې) وړمه
فلاني ته ویه(وایه) رووځه (راووځه) خور دې وړمه [3]
یا: موټر ولاړ دي څلور کتاره (قطاره)
او یوه لور دې وه درسره (درڅخه) ولاړه
که یې ته دیدن کړې یو ست (ساعت) ولاړه

---

[1] – شخشولې له یوې ټوټې نه جرابو ته ورته شی جوړیږي او د ناوې په پښو کې ورکول کېږي تر څو پښې یې له بوټانو ونه وځي.

[2] – بریاله: د پردې یا کړکۍ او یا دروازې له شانه لیدلو ته وایي.

[3] - احسان الله آرینزي دابدله په لاندې ډول ثبت کړې ده:

کوټې دې ړنګوم تیران یې وړمه (...)ته دسې وویه چې ده ګرانه لور دې وړمه (۱: ۲۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: سنګ مرمر ته (تر) تېرې کلکې مور ته نه ژاړې
چې د فلاني د موټر غږ شي بیا به ښه ژاړې
یا: وشنئ لونګ چې بوی یې ولاړ شي
وژړوئ ناوې چې غږ یې ولاړ شي
یا: د سرو زرو چارګل په څلور نیم زره
همزولې درته ناستې په ناورین ژاړه
یا: اوس به دې د غوږ وړه لښتۍ کړمه
اوس به دې له موره پردېسۍ کړمه

ناوې آنکۍ [1] وهي او ژاړي. د ناوې د ژړا تر څنګ د خېښانو د بدلو غږ هم اورېدل کیږي، لکه:

شاه توت ولاړ دی څنډې یې ډکې
ناوې ولاړه سترګې یې ډکې
یا: په دښته کې د شنه موټر غورا ده
په کونج کې د وړې ناوې ژړا ده
یا: فلانۍ په وره کې ناسته اوښکې مړې، مړې تویوي
ته دې اوښکې پاکیزه کړه خورکۍ څوک نه ودوي
یا: مه یې ژړوئ بې بې ننداره ده

[1] - آنکۍ چې په ځینې لهجو کې انګې یا چیغې (چغیان) هم ورته وایي، د ناوې په خاص انداز او نظم سره ژړا ته وایي، نجلۍ ته مخکې له واده نه د انکي وهلو دود ورزده کېږي او یوه مشره ښځه د دې ډول ژړا لپاره په ناوې تمرین کوي، تر څو په واده کې یې ژړا بده ښکاره نه شي. خو اوس، اوس دا دود لږ شوی او ځینې ناوې ګانې له سره ژاړي هم نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که يې تاسې ژړوئ په (پر) موږه ګرانه ده
يا: په نيل کې اوبه نه تلې ولې ولاړې
د ځای نوم دې د ګلو ځای دی ولې ژاړې
يا: لاس دې په تترنګو دغه مخ دې خولې نه دی
مه داسې ځوريږه وطن دې لرې نه دی
يا: مه ژاړه ناوې سرک خو ډېر دي سرويسان به راشي
د ماما همزولي ډېر دي معلمان به راشي
د شال اچولو د لرې د پيلېدو لپاره ټنګورې داسې بدلې بولي:
خلاص کړئ، خلاص کړئ د زرين سندق(صندوق) کولپونه(قفلونه)
ترې راواخلئ د فلاني د لاس شالونه
يا: خلاص کړئ، خلاص کړئ د اصيل سندک (صندق) کولپونه (قلفونه)
رواخلئ - رواخلئ ( راواخلئ) د فلانکي د لاس ختونه ( يا شالونه) [1]
يا: خلاص کړئ - خلاص کړئ د اصيل خورجينې ولونه
ترې راوباسئ د فلاني د لاس شالونه
يا: توت پرې، پرې د انګور وږي پرې واچوه
راشه وروره راشه دغه شين شال يې پرې واچوه
لرې شئ له مخې موږ ناوې ولاړوو
لرې شئ له مخې موږ شين شال پې (پرې) غوړوو
يا: ناوې لکه چينار(څنار) ودرويه

[1] – دا بدله (د وردګو د واده دود او بدلې) نومي کتاب کې په لاندې ډول ثبت ده:
خلاص کی د شينکي صندک کلپونه   راوباسی د (...) دلاس رختونه (۱: ۱۴۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلانکی لکه شین شال پې (پرې) غوړویه [1]

یا: زموږ ناوکۍ مه ژاړه پردو ته

خیالي لېور دې تللی دی ډولوته [2]

یا: امیل دې د وړو، وړو خالو دی

شال دې د کابل د مغازو دی

یا: لمر ختلی په تورو غرو کې

ناوۍ سلام کا د پلار په ورو کې

بله خوا د ناوې خپلوانې ناوې ته د تسلیت لپاره داسې بدله بولي:

سترګې دې ګلۍ (ږلۍ) ښو دې ګرد نیولی

مه ژاړه ناوۍ ترلو دې څنګ نیولی

که زوم ته دننه ورتلو اجازه ورکړل شي چې له ناوې سره یې ودروي او شخشولې یا جرابې او بوټان ورپېښو کړي، او همدارنګه ښځې او د ناوې همزولې یې ووینې د تګ په وخت کې د ناوې له لوري ښځې داسې سپارښتنه ورته کوي:

زموږ د ناوۍ په سر قرآن دی

زموږ د ناوې لاس د تا ګریوان دی [1]

---

[1]- دا سندره ښاغلي حبیب الله رفیع په خپل کتاب (د خلکو سندرې) کې په لاندې ډول ثبت کړې ده:

ناوۍ لکه څنار ودرویه (پلانکی) لکه سېرلی ترې جرویه ( ٦: ٨٦)

[2] - دا سندره (د وردګو د واده دود او بدلې) کتاب کې په دې ډول خوندي ده:

د موږ ناوې مه ژاړه پردو ته (...) خیالیګر تلی دی شالو ته (١: ۴١٧)

[1]- (د خلکو سندرې) نومي کتاب مولف دا بدله په لاندې ډول راوړې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: زړه مې بېرانېږي
فلانۍ جانه مې ودیږي
فلانی جانه موټر ودروه
فلانۍ جانه مې پکې سوریږي

ناوې په ژړا ژړا ولاړه کړي، د ولاړېدو په وخت کې ښځې داسې ورته وايي:

د مورږ د زوم دا څومره لوړه غاړه ده
ناوۍ مې لکه ګل ورسره ولاړه ده
یا: مه ژاړه ناوۍ چې شین شال دې باد وېيي (وهي)
ولټې ( ولټېږه، پاڅېږه) ناوۍ چې فلانکی ژړی دې وړي
یا: پورته شه ناوۍ چې سور سالو دې باد وهي
که ته په ځان پیېګې (پوهېږې) فلانی جان ژړی دې وړي

د ناوې یو نیژدې خپل سړی لکه پلار، بابا (نیکه)، تره، ورور یا بل محرم نیک عمله نارینه راځي، لومړی پر ناوې د سرسیې (سرسایه) ټکری چې سپین خاصه ململ یا په اوسني وخت کې ګاج وي او د تندي پر ځای یې آیتونونه لیکل شوي وي، پرې وغوړوي او بیا د پاسه شال پرې واچوي، دلته هم ټنګورې د نجلۍ د کور غولی د دایرې په بدرګه لا پسې رنګین او ښکلی کوي او داسې بدلې بولي:

---

(پلانکیه !) چې په لاس کې دې قرآن دی   زموږ د ناوې لاس د تا ګریوان دی ( ٦: ٩٠)
د احسان الله آرینزي په کتاب (د وردګو د واده دود او بدلې) کې هم کټ مټ په همدې ډول ثبت شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړو طیارو بمونه واچول
موږه په ناوۍ شالونه واچول
یا: زما د ورور ګوتیې(ګوتې) د سرو غمی یې لال (لعل) ګوره
وربندار مې ښایسته په (پر) سر یې شال ګوره
یا: د سرو ګلو باغچه په ګلو پټه ده
ناوۍ د فلانې جان په شالو پټه ده [1]
یا: زموږ د ناوې شال په څلور چاپه دی
ده ( دغو یا دې ) فلانې خو مې راوړی له هراته دی [2]
یا: د سهار نارې وهي دغه بلبله ده
چې د پلار د (له) کوره یې وړي رضا یې خپله ده
یا: سر غوړ که (کړه) سترګې تورې له ململه سره
د فلانې جان موټر ولاړ دی اوس به څې (ځې) ورسره
یا: سور اوښ مې کنداری(کندهاری) دی ښه وټی غواړي
فلانی جان مې خیالي ګر دی ښه ناوۍ غواړي

---

[1]- دا بدله په (د وردګو د واده دود او بدلې) نومي کتاب کې دوه ځایه په لږ توپیر سره خوندي ده:
د سرو زرو باغچې په ګلو پټې شوې    ښه وې د (پلانې) خورکۍ په شالو پټه شوې (۱ :۴۲۹)
څه سپینه سپوږمۍ په ګلو پټه ده    څه خیالي ناوۍ په شالو پټه ده (۱: ۴۳۰)

[2] - دا بدله په (د وردګو د واده دود او بدلې) نومي کتاب کې هم په لږ بدلون سره خوندي ده:
د موږ د ناوې شال په څلور چاپه دی    (...) خیالي راوړی له هراته دی(۱: ۱۴۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: سرې آسپې ولاړې ګردنۍ غواړي

فلانی ورته ولاړ دی ښه نګورکۍ (نږورکۍ) غواړي [1]

که د دواړو خواوو تر منځ خپګان پیدا شوی وي، د دواړو خواوو نه ښځې ستاینې وایي

- د وردګو په لهجه کې په واده کې له ستاینو څخه مطلب په ښو او بدو ستاینه دواړه پکې راځي ـ یو او بل ته پیغورونه ورکوي، بدې او ردې ورته وایي، مثلاً ناوې خیل د زوم خیلو له خوا داسې غندل کېږي:

درسته ورځ مې تېره په یوله (ویاله) کړله

د خوګ کلي ګونګټه راواده کړله [1]

یا: تاسې دا چارګل چولې چولې ګورئ

تاسې د فلانکۍ ککړې پښې ګورئ

یا: د آس په شاه دې کله وړو چاینکې

ترلې دې درته ګرځي چاودینکې

یا: وځی ننوځی دستمالونه ګډوئ

شکور(شکر) خلاص شوو د فلانکي له جنجالونو خیراتونه ومنئ

---

[1] - دا بدله په (خلکو سندرې) او (د وردګو د واده دود او بدلې) نومو کتابونو کې دوه ځایه په لاندې بدلون سره خوندي ده:

اسپې ولاړې ګردنۍ غواړي   خپښې ولاړې ټکیالۍ غواړي( ٦: ٩١)(١: ٢٢٥)

[1] – دا بدله په (د خلکو سندرې) او (پښتني ودونه) نومي کتاب کې دوه ځایه په لږ توپیر سره خوندي ده:

درسته شپه مې تېره په یوله کړله   د خوګ کلي ځونګښه راواده کړله ( ٦: ٨٥ ) ( ٧: ٧٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

یا: فلانیه آس راتېر کړه ناوې جوړه ده
فلاني که څه ویل ته (تر) خوله یې تېره ده
یا: موږ به ناوې وړو له ښو ډولو سره
فلانیه ور دې غیمه له سندرو سره
یا: مه ژاړه ناوې ژړا دې ګرانه ده
موږ ته دې د پلار مړینه آسانه ده [1]
یا: هلک نری چینار(څنار) نرۍ اوبه یې نه وړي
فلانکۍ مې خیالي ګره نابوده ناوې نه وړي [2]
ناوې مې تېته کې خوښه مې نه ده
دا خو د فلاني ته ( تر) زنګانه ده
یا: ناوې مو کمکۍ خوښه مو نه ده
ناوې د فلانکي جان ته (تر) زنګانه ده
یا: ناوې تندۍ دې جر (جار) شم له خالو سره
د فلانکي پتۍ دې ګرو کا (کړ) له ریشکو (رشقو) سره [1]

---

[1]- دا بدله په (د وردګو د واده دود او بدلې) نومي کتاب کې په لږ توپیر سره خوندي ده:
مه ژاړه ناوې ژړا دې ګرانه ده    له تا د (...) مرګی آسانه ده (۱: ۴۰۸)

[2] - دا بدله هم په (د وردګو د واده دود او بدلې) نومي کتاب کې په لږه اوښتې بڼه ثبت ده:
هلک نری چنار دی نرۍ اوبه یې نه وړي (...)ډېر ښایسته دی نابوده ویندر نه وړي(۱: ۳۹۰)

[1]- دا سندره (د خلکو سندرې) کې په دې ډول ثبت شوې ده:
تر دې وچ پیلي دې جار شم له خالو سره- هوی له خالو سره
د (پلانکي) پتۍ دې ګرو کړ له ریشکو سره- هوی له ریشکو سره ( ٦: ٨٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

یا: فلانیه وکړه د سرو اوښو خیراتونه
شکور(شکر) خلاص شوې د فلانکي له جنجالونه [2]

یا: مه ژاړه ناوې خوله دې بدرنګه ده
کور دې د فلاني د کوره د څنګه ده

یا: مه ژاړه ناوې چې مخ دې نور وکا
نه دی داسې ورور چې اوس دې ویر وکا

یا: په مخ دې بندکی پې (پرې) بنده مه شې
د (له) شاه نه د خپل ورور په وینو سره شې

د ناوې له لوري ښځې داسې ځواب ورته وایي:

د ترخو ګڼ ګلونه باد یې ښوروینه
د فلاني ګرانې خورې څوک دې سوروینه

یا: ناوې نه ژاړي زوم ژاړي
د زوم په(پر) سرغړک ده تروې غواړي

د زوم لوری داسې وایي:

شین بادرنګ اوبو راړوی

---

او همدا ډول دا پورته سندره د رفیع صاحب په کتاب (۷: ۷۰) کې یوازې د فلانکي د کلمې پرځای د (خانګل) د نامه په راوړلو سره هم ثبت ده.

[2] – دا بدله په (د وردګو د واده دود او بدلې) نومي کتاب کې دوه ځایه په لږ توپیر سره خوندي ده:

(پلانیه)وکه د سرو اوښو خیراتونه    څې راخلاص سوې د (...)له جنجالونه
یا: څې راخلاص سوې د (....) له مینتونه (۱: ۳۹۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

موږه داسې زوم روستلی (راوستلی) چا په خوب، خوب نه دی لیدلی[١]

یا: زموږ د ناوې سر ولې شکېدلی دی

دا خو د فلاني دوپړ وهلی دی [٢]

یا: درسته ورځ مې تېره په یوله ( ویاله) کړله

دخوګ کلي ګونګټه راواده کړله

یا: ماما په بر پېټي کې کرلي پیاز دي

دموږ د زوم دواړه سترګې د باز دي

یا: ښه شوې په پیاله کې خموزوری شوې

ښه شوې د فلاني د لاس مزدوره شوې

د ناوې لوری بیا داسې ځواب ورکوي:

زموږ ناوې د ګوتیې شین غمی دی

د تاسو زوم د پیازو پیرکی دی

یا: زموږ ناوې د سرو زرو ګوګری دی

---

١ - دا بدله په (د وردګو د واده دود او بدلې) او (د غرونو څوکې) نومي کتابونو کې په لاندې بدلون سره خوندي ده:

شین بادرنګ (رنګ) اوبو راوړی شین بادرنګ (رنګ) اوبو راوړی

شین بادرنګ (ها) اوبو راوړی داسې زوم مو دروستلی

چا په خوب نه دی لیدلی چا په خوب (ها) نه دی لیدلی(١:٤٢)( ٢: ١٣)

٢- داسندره آرینزي په لاندې ډول راوړې او په کوچیانو پورې یې اړوند ښودلې ده خو د جغتو په ولسوالۍ کې یې کلیوال هم وایي.

د موږ د ناوې سر ولې شکېدلی ده دا خو د (....) دوپړ ویلې ده (١: ١٨٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

د تاسو زوم د بورې غوا ډډې دی [۱]
یا: دپاسه اوښان راغلل په سرو شونډو مزلونه کا
فلاني ته مې ګورئ پښو ته مرهمونه کا
یا: تلې راوختلې پرېووني پرېوتلې
زما شیرینې خورې په جنجال کېوتلې [۲]

زوم خیل وایي:

په غرو باران دی په مور ګلۍ (ږلۍ) ورېږي
د فلاني په وره کې سپینې اشرپۍ ورېږي [۲]
یا: شاه توت ولاړ دی څوکې یې ډکې
فلانی ولاړ دی ولور په مله (ملا) کې
یا: فلانکی د زمري په شان رغلی ( راغلی) دی
فلانکی یې په کوټه کې غلی کړی دی
ناوې خیل داسې وایي:
د فلانکي بریت د زمري دي چاپوي لوټونه

---

[۱] – دا بدله (د خلکو سندرې) او (د وردګو د واده دود او بدلې) نومي کتابونو کې هم په دې ډول راغلې ده:

مور داسې ناویې درکړه که د ښې ګوتې غمی
تاسې داسې زوم راکړی، که د بورې غوا ډډی ( ٦:٨٦) (۱ : ۲۱۳)

پورته بدله په (پښتني ودونه) کې د (که) د توري پرځای د (لکه) په راوړلو سره ثبت ده.

[۲] – (د وردګو د واده دود او بدلې) کې په لاندې توګه راغلې ده:

تلې راوختلې پرېوونیې پرېوتلې د پلار ګرانې لورې په جنجال کېوتلې(۱: ۴۴۳)

[۲] – (د وردګو د واده دود او بدلې) کې په لاندې توګه راغلې ده:

په لویو غرو بران (باران) په مور ګلۍ اوري د (...) په توخانه کې اشرپۍ ووري (۱: ۴۵۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلانکی مې کیسه بور دی اوس وهي جوبونه
یا: چارګل مې په سوندرو (سندرو) کې لړلی دی
فلانی په مورۍ کې غلی شوی دی
د زوم له لوري ښځې داسې تانې (طعنه) ورکوي:
پورې للمو ګل کړی تویېږي
سبا به د فلانې چپه پې (پرې) لوېږي
فلانی غریب به چېرې تې (ترې) پټېږي
یا: تاسې به په موږ بابېړی کړی ؤ
تاسې به مې مور ته خت ورکړی ؤ
د ناوې له لوري ښځې داسې وايي:
فلانیه وروره لاس کړه په کېڅیه
د فلانې غوړونه وچ دي له نیستیه
د زوم له خوا ټنګورې وايي:
ته (تر) مخ دې خسر خیل زیړي ګلونه دي
ته(تر)شاه دې ابه (ابا) خیل ببر سرونه دي
یا:
ناوۍ خسر دې مړ دی حلال کړی
ستا ورور ته یې د کولمو پټکی ساتلی [1]

[1]- دا بدله په ( د وردګو د واده دود او بدلې) او (پښتني ودونه) کې په لاندې توګه راغلې ده:
(...) جان مړ الالوي یا (...) غویی الالوي(...) ورته ناست دی د کولمو پګړۍ تړي (۱: ۱۵٦)
زما لالکو مړ حلالوي داخوېښ مې ورته ناست دی - د کولمو پګړۍ تړي (۷: ۵۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

د ناوې لورى ورته وايي:

له پاسه سېرلی منډې را وهينه
فلانی يې په لکۍ غوټې وهينه
يا: تاسې د مقر سپينې رمې ګورئ
تاسې د فلانې ککړې پښې ګورئ

د زوم لورى وايي:

هلک نرى چنار دى نرۍ اوبه يې نه وړي
فلانی مې خياليګر دى ډنګره ناوې نه وړي
يا: ناوې په چادري کې سترګې سرې کړې
ابه يې په شپاله کې غرغرې کړې

د ناوې لورى وايي:

د مور داسې ناوې ده لکه سپين برقي زرتار
د تاسې داسې زوم دى لکه ډم د ترکستان

د ناوې د اېستلو په وخت کې د زوم له لوري راغلې ښځې ناوې ته داسې بابولالې وايي:

روپۍ په روپۍ کېږدئ، کلدارې تې (ترې) راوباسئ
نورې نجونې پرې ږدئ، زموږ ناوې تې(ترې) راوباسئ
يا: خلاصه کړئ خورجين په خوله کې يې ووره (اوره) ده
لرې شئ له مخې اوس دموره (زموږه) ده
يا: د کجاوې څلور لرګي پينځم (پنځم) يې ته خورې
د پيغلتوب کالي دې ټول که (کړه) څه (ځه) چې څو (ځو) خورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: ته چې په باغ کې سره مړه( منه) شوې لمن داره به شې
که فلانکی خوشالوې(خوشحالوې) ورسره ولاړه به شې
یا: ناوې خوشبويي دې په ځان پورې کړه
دا کور دې د ابه (آبا) دی ور پسې پورې کړه
یا: ناوکې په چارګل دې اوبه تېرې کړه
دا کور دې د پلار دی ور يې پورې کړه
یا: ناوې قدم واخله پونده کېږده
اوړه يې په خميردان کې ورته کېږده [1]
یا: وخېژه د ونو په شاخو کې
د ادې کور دې پرې ږده په ګردو کې
یا: کينه اوس د ګلو په شاخو کې
د ادې خونه دې پرې ږده په ګردو کې
یا: ناوې قدم واخله پونده کېږده
جارو يې په کوټه کې ورته پرې ږده
یا: سپين بوراق راپښوکړه په ورو، ورو قدم راځه
غولی مولی ټول کړه په لېورو پسې دې ځه
یا: لوړې بلخانې(بالاخانې)ګلان يې چپ و راست دي
روباسۍ(راوباسۍ) ناوې لېورونه يې لمرته ناست دي
یا: ميرزايي قدم راواخله په خيالي قدم راځه

[1] - دا بدله په (د وردګو د واده دود او بدلې) نومي کتاب کې په لاندې توګه خوندي ده:
ناوې چې کدم اخلې پونده کېږده    کدم دې د (...) په لوري کېږده (۱ :۴۴۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

فلانۍ درته راغلې خورې شکور(شکر) وباسه
یا: لوړې بلخانې (بالاخانې) لوړ یې تاکونه دي
روباسۍ(راوباسئ) ناوۍ ټول یې لېورونه دي [1]

ټولې خپلوانې او ملګرې له ناوې سره مخه ښه کوي او د ناوې په شمول په چیغو، چیغو ژاړي. بیا هم د ناوې یو یا دوه تنه نږدې خپل یا محرم کسان ناوې ترمټو نیسي او په داسې حال کې چې قرآن شریف یې - چې پوښ یې ډېر ښکلی جوړ شوی وي- ورته پر سر نیولی او د ډولۍ یا کجاوې او یا هم په اوس وخت کې د موټر خواته یې بیایي، پخوا به په همدې شال کې ناوې د پلار له کوره اېستل کېدله خو اوس د بنسټ پالو ریژیمونو د بې ځایه دودونو او سختګیریو له کبله ځادري هم د شال د پاسه ور پر سر کوي او هغه ښځې چې د ناوې له لوري له نوموړې سره په ټنګورولۍ ځي د ناوې ضروري شیان چې سمدلاسه پکاریږي ورسره په لاس کې اخلي، دا ښځې ځکه له ناوې سره لېږل کېږي چې ناوې لومړی په هغه کور کې نابلده وي او شرمیږي دا ښځې ځو ورځې ورسره هلته د خسر د کور له ښځو او کور

---

[1] –دا بدله په (د وردګو د واده دود او بدلې) او (د خلکو سندرې) نومو کتابونو کې په لږ توپیر سره خوندي ده:

د لوړو بلخانو سکښتي تاکونه دي    راواچوئ لونګۍ ډېر دې لیورونه دي (٦: ٩٠)(١: ٢٢٥)

دا سندره (دپښتني ودونه) په ۸۳ مخ کې هم په همدې بڼه ثبت ده، خو په (اولسي پوهه) کې په لاندې ډول خوندي ده:

سپینې بلخانې لوړ یې برځونه (برجونه)    وشمېره بټوې ډېر دي ستا لېورونه(١١: ٥٣)

یا سپینې بلخانې لوړ یې برځونه (برجونه)    وشمېره خولې ډېر دي ستا لېورونه (١١: ٥۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

سره د نوموړې د اشنا کېدو په منظور پاتې کېږي او تر درېيمې وروسته بېرته ترې ستنېږي، دې ښځو ته داسې بدله بلل کېږي:

په چارګل کې مې وړې وړې دانې سرې ملغلرې
د ناوې سره به ته ځې بختورې

د ناوې نور کور او کالي (جامې) يې د ناوې تر ايستلو مخکې په موټرونو کې بارکړي وي، دلته ټنګورې داسې ستاينې وايي:

ناوۍ لکه چينار(څنارياچنار) ودرويه
فلانکی لکه شين شال پې (پرې) غوړويه
يا: ناوۍ د کجاوې لرګی دې پاس نيسه
ناوۍ د فلاني جان په مټو لاس نيسه
يا: اوښ په غټه خېږي سر يې زنګنوته څي(ځي)
ادې به يې ولې ژاړي لورېې شنوباغوته څي
يا: مه ژاړه ناوۍ ژړا دې ګرانه ده
زر يې سوروئ بې بې ننداته ده
که يې تاسې ژړوئ په موره ګرانه ده
يا: ناوې ځان دې مردانه کړه اوس دې وړينه
د ماما موټر چکر درته وهينه

ناوې ته له دروازې نه د وتلو په وخت کې څو سړي پرده نيسي چې نامحرم يې ونه ويني، په تلو، تلو کې بيا هم ټنګورې بدلې بولي. لکه:

په تور پيکي مې دې شنلي زيږ ګلونه
راواخله قدمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



را واخله قدمونه
زیړ ګلونه مې د تا دپاره روړي (راوړي)
ناوکې راواخله قدمونه
د موږ دربانديې شوي تاوانونه
ناوکې راواخله قدمونه
ناوکې راواخله قدمونه
منګي دوه راپسې راشه
ناوکې راواخله قدمونه
ناوکې راواخله قدمونه
یا: ناوې موټر ته وخېژه بغارې کړه
ماما دې که شال درکا ورګذار یې کړه
یا: ناوې یې د موټر زینو ته وخته
کفن یې ورته راوړئ ساه یې وخته
یا: وروره په سپین زر هوټل کې واړوه
وروره شین موټر مخې ته راوله
یا: په غزني کې شنې لارې ولاړې دي
د فلانکي موټر ته لار وکړئ چې ځي
یا: په غزني کې شنې لارې ولاړې دینه
د فلاني موټر ته لیر (لار) ورکړئ چې ځینه
یا: موټرواني لالیه موټر چالان کړه
خوب، خوب مې وړي لالیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

میده باران دی

یا: دا موټر د چا دی چې په لوړ یې خېژوي

دا د ماما جان څښیوره پکې وړي

یا: کلیه خدای په امان خدای په اماني غواړو

موږ ته ناوې راکړئ مبارکي غواړو [1]

اوس ځینو خلکو دومره لوېې کلاګانې جوړې کړي چې لوی انګړ لري او موټر په ډېره آسانۍ سره کلا ته دننه ننوتی شي او همالته پرته له پردې نیولو ناوې پکې کینول کېږي.

ناوې خیل د موټر لپاره هم ښه ښایسته په آیینو او ځوندیو ډک دستمال چې کلمه هم پر لیکلې او ګنډل شوې وي او د موټر مخ یې بولي مخکې برابروي او د موټر پر مخ یې بندوي.

دا دود هم اوسنی دی، ځکه چې پخوا به ناوې په کجاوه او یا هم ډولۍ کې پر آس یا اوښ باندې وړل کېده او هغه وخت به کجاوه، ډولۍ، آس یا اوښ ښه سینګار شوی ؤ د ناوې له لوري خلکو به د اوښ لپاره په ځوندیو جوړشوی رسند[1] په مخ او پښو کې وروتاړه او تر معمول وخت نه به اوښ ته ډېر وانښه ورکول کېدل، یعنې ښه به یې په نس موړ کړ چې پرلاره خوله وانه

---

[1] - دا بدله په (د وردګو د واده دود او بدلې) نومي کتاب کې په لاندې توګه خوندي ده:

کلیه موږه څو خدای پماني غاړو    د موږه د ریمال مبارکي غاړو (۱ :۳۷۰)

[1]- رسند: هغه له سنیو جوړ شوی شکل دی چې د یوه طوق لرونکی وي او اوښ ته یې ور په غاړه کړی وي او همداسې نور لړونه لري چې د اوښ په پښو او ګونډو کې بندېږي او دا ټول په آیینو، ځونډیو او ګوګریو جوړشوي وي، مهر یې هم ډېر په ډول جوړ شوی وي، د مهر هغه سر چې د اوښ په پوزه کې بندېږي له صدف نه جوړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوي او نا آرامي ونه کړي، او آس ته به يې ګردنۍ[2] جوړه او ور په غاړه کړله، پر کجاوه او ډولۍ باندې به ګلابي او شنه شالونه غوړېدلي وو او په هونو، مريو او لونګو نه جوړو ځونډېو باندې به پټه وه؛ خو اوس موټرونه هم ګلپوش کېږي. په لاره هم بدلې ويل کېږي، لکه:

برک نيسه استاده چې ټکر نه شې
له مور سره انجنير دی چې نظر نه شې
يا: له مور سره ډاکټر دی چې نظر نه شې
يا: ډوډۍ به پخوې باران به ووري (اوري)
فلانی به له نکامه (ناکامه) لالا بولي
يا: شکور چې دې خپلو تربرو (تربورو) نه کړلې
تربرونه دې ولاړ مور ترې سوره کړلې
يا: شکور چې دې خپلو تربرو (تربورو) نه کړلې
تربرونه دې ولاړ مور ترې واده کړلې
يا: ګڼ باران چې ووري (اوري) د خدای زور دی
مور چې ناوې وړو د لوټو زور دی[1]
يا: په (پر) سر دې د نيلي ورېښمنو پخه ده
ناوۍ د (له) فلاني جان سره دې مخه ده[2]

---

[2] - ګردنۍ د آسپې د غاړې لپاره ښه په ډولونو جوړه شوې غاړکۍ ده، چې آسپې ته ور په غاړه کېږي.

[1] – دا بدله په(د وردګو د واده دود او بدلې) نومي کتاب کې په لاندې توګه خوندي ده:

مېيين باران چې ووري د خدای زور دی   مور چې ناوې وړو، د لوټو زور دی(۱:۳۵)

[2] – دا بدله د (پښتني ودونه) په ٦١ مخ او (د خلکو سندرې) په۸۲ مخ کې، (د وردګو د واده دود او بدلې) په ۴۳۹مخ او د (اولسي پوهې) په ٥٦ مخ کې په لاندې بدلون سره راغلې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

او کله،کله ناوې او ورسره تنګورو ته هم پیغورونه ورکول کېږي یعنې توهین آمیزه ستاینې یا غندنې د بدلو په کالب کې ورته وایي، لکه:

شکور چې ته (تر) شنو ونومو راتېره کړې
ابه دې په پیسو شو ته یې ویره کړې[1]
یا: ښه شوې چې د موټرو په ګردو پټه شوې
ښه شوې چې وړه د (له) موره ورکه شوې
یا: مورړ به ناوې یوسو له تربرو سره
ورور به یې سر وهي له دیوالو سره
یا: مورړ به ناوې یوسو له ډولو سره
فلانی به خاورې باد کا له ایرو سره[1]

---

په سر دې د خاصه وریښمنو پخه ده    ناویې شاهزادګانو ته دې مخه ده(٦: ٨٢)
په سر دې د خامه وریښمنو پخه ده    اوس دې پاچایانو ته ورمخه ده (١: ٤٣٩)
په سر دې د پیله ورښمنو پخه ده    ناویې ملکانو ته دې مخه ده (١ :٤٤٦)
مېوولې ژوړې مېوولې ژوړې (ژاړې)
په سر دې د لاچي وریښمنو پخه دو★خورې خانانو ته دې مخه دو
مېوولې ژوړې مېوولې ژوړې
سین په غاړه کینه خورې چې سین دې یوسي    خیالي ورور دې نشته چې ناز دې یوسي
مېو ولې ژوړې مېو ولې ژوړې (١١ :٥٦)

[1]- دا سندره د الفاظو په لړ بدلون سره (د وردګو د واده دود او بدلې)، (د خلکو سندرې) او (اولسي پوهه) نومي کتاب کې په لاندې توګه خوندي ده:

ښه چې تر دې شنو ونوم (مو) راتېره کړې    ابه دې په خوشتو شو ته یې هیره کړې ( ٦ :٩٢)
ښه خورې! ښه یې خورې! تر شنوونو مې تېره کړې
عبدالرحیم دې په ولور شو ته یې هېره کړې (١١: ٥٣)

[1]-دا سندره په لړ بدلون سره (د وردګو د واده دود او بدلې) او (د خلکو سندرې) نومي کتاب کې په لاندې توګه خوندي ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: ښه شولې موټره په جمپو، جمپو مې راوستې
ناوې یې د لوټو په زور مې راوستې
یا: شکور په بندر اوښان راوختل
شکور چې د فلاني نه مو لاس وختل [۲]
یا: سبل وریه چې په سبل مې ویستلې (وایستلې)
ادې غریبې دې ډېره کریولې
یا: سور سپی یې بالا بود راباندې اېښی
ابه مې یې په میړوي تړلی پرېښی
یا: ته چې وړه کې وې په بامو به تاوېدې
اوس چې غټکۍ شوې د تونس په بیه شوې

پخوا چې په وردګو کې امنیتي اوضاع د ډاډ وړ وه په لاره کې به هم نارینه وو اتڼ واچوه او ډولونه به ووهل شول، د لارې پر سر کلي به چې په دې ښادۍ خبر شول، دوی به هم له اتڼ چیانو سره ګډ شول او له نوموړیو سره به یې د ښادۍ په لمانځنه کې ونډه واخیستله.

---

موږبه ناوې یوسوله ډولوسره (پلانکی)دې خاورې بادکړي له ایروسره ( ٦: ٩٥)
موږبه ناوې یوسوله ډولوسره تاسې خاورې باد کړئ له ایرو سره (١ : ٢٣٨)

[٢]- داسندره دالفاظوپه لږ بدلون سره (د وردګو د واده دود او بدلې) او (د خلکو سندرې) نومي کتاب کې په دې ډول خوندي ده:

ښه چې په سر بند اوښان راوختل ښه چې له(پلانکي)دووس نه مولاس راوختل
( ٦ :٩٢) او(١ : ٢٣۴)

پورې په ژۍ دوه اوښان راوخاته ښه ځې له (...) مې لاس راوخاته(١:٣٩٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

د ناوې موټر ته په کلیو کې د ماشومانو له خوا نغرى[1] اېښودل کېږي، تر څو ناوې خېل یا له ناوې سره راغلي کسان پیسې ور نه کړي موټر یا کجاوې او ډولۍ ته لار نه ورکوي. تر قانع کوونکیو پیسو اخیستلو وروسته بیا دوی ته لاره پرېږدي. بیا چې کلي ته نېږدې شي بیا هم د زوم خېلو له خوا د ناوې خېلو موټر ته مړی[2] اچوي تر څو دوی هم ښې ډېلې پیسې وانخلي موټر ته لار نه ورکوي، که موټر په بله لار ترې بوځي هم ډېرې پسې کوي او اکثراً د پیسو د نه ورکولو په صورت یا ډېرو پیسو غوښتلو په وخت کې د دواړو خواوو (زوم خیلو او ناوې خیلو) تر منځ خپګانونه، جنجالونه، جنګونه او آن سخت زړه بداوي پیدا کېږي.

ناوې چې د خسر دروازې ته ورسېږي، بیا هم داسې ښه راغلاست ورته وایي:

ناوې یې په ښې مټ دې کلمه ده
ناوې یې زموږه دغه دروازه ده
یا: هسکېږه د لونګو په شاخو کې
کوزیږه د فلاني په بلخانو (بالاخانو)کې

او په کور کې پاتې ښځې د ناوې مخې ته ورځي او داسې سټرې مه شي ورته وايي:

---

[1] - نغری داسې دی چې ماشومان څو تیږې د نغري په شان د هغې لارې پر سر چې د ناوې موټر پرې تېرېږي کېږدي او دوی یې مخې ته ولاړ وي.

[2] - مړی داسې دی چې یو لوی سړی د لارې پر سر ـ هغه لاره چې د ناوې موټر پرې تېرېږي- څملي او یوه سپینه روی جایي پر ځان هواره کړي او نور ملګري یې په خوا کې ولاړ وي او د ناوې د موټر انتظار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

تر سر دې سر ګونډۍ ده
کونډه مه شې
تر مخ دې دافلانۍ ده
سترې مه شې
یا: رنګ، رنګ دړۍ دې جر(جار)شم له خالو سره
ناوې سترې مه شې له لېورو سره
یا: ململ په غوړیشو څڼیو غوړېږي
خیالي لېورونه تا ته هوسېږي
یا: لوړې بلخانې لوړ یې برجونه دي
راولئ ناوې ټول یې لېورونه دي
یا: پېکی دې دوړو خالو جوړ کړی دی
ناوې د ډاکټرانو میر دې کړی دی
یا: بلبلې له چمنده ولاړېګي (ولاړېږي)
خیالي ادې مې تا ته هوسېګي (هوسیږي)

ناوې تر هغې پورې له ډولۍ،کجاوې او یا موټر څخه نه راکښته کېږي، ترڅو یې خسرګنۍ کور ورنه کړي، یعنې د کور مشر سړی لکه خسر یا لېور ورته ونه وايي چې زما په ټولو شیانو، کور او ځمکه کې شریکه یې یا د کور فلانۍ حصه مې ستا شوه د بېلګې په توګه که چېرې درې زامن ولري ورته وايي د کور درېیمه برخه مې ستا حق دی یا فلانی پټی یا فلانی ځای مې د دې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

په دې وخت کې چې ناوې له موټر نه کښته کېږي ښځې داسې بدله ورته بولي:

ګل په دریابو کې نه ټولېګي (ټولیږي)
فلانۍ مې له موټر نه، نه کوزیګي(کوزیږي)

د ناوې له کښته کېدو سره د ناوې پښو ته چرګ او که شتنمن وي پسه حلالوي او په وینه یې د ناوې پښه او اوسمهال د موټر ټایر هم پرې سورکوي. د ناوې پښو ته حلال شوی چرګ له یوې لونګۍ سره د ناوې د موټر چلونکي (موټروان) ته ډالۍ کېږي. په دې وخت کې هم ناوې ته پرده نیول کېږي، تر څو د نامحرمو له سترګو نه پناه شي. ښځې کرارې نه کینې د ناوې راوړلو خوښي په سندرو کې په ډېرو ښایسته او زړه وړونکیو آوازونو لمانځي. لکه:

تربرو ونیسئ لونګۍ
موره داسې ناوې روړې (راوړې)
شایې لمر مخ یې سپوږمۍ
یا: تربرو ونیسئ لونګۍ ـ تربرو ونیسئ لونګۍ
موره داسې ناوې روړیې مخ یې لمرڅټ یې سپوږمۍ[1]

[1] – دا سندره د الفاظو په لږ بدلون سره (پښتني سندرې) او (پښتني ودونه) نومیو کتابونو کې په دې توګه خوندي ده:

لیورو ونیسئ لونګۍ  دلالي ناوې راباسو★مخ یې لمرشا یې سپوږمۍ (۹: ۳۶۰)
تربرو ونیسئ لونګیه!  تربرو ونیسئ لونګیه!  موره داسې ناوې راوړه
مخ یې لمر څټ یې شپوږمیه  ـ  مخ یې لمر څټ یې شپوږمیه (۷: ۹۵ او ۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

ناوې چې د کور دروازې ته ورسېږي باید په یوه ټوټه کلکه مالګه یا د ګوړې په یوې کلکې چکۍ سره د دروازې په لخک یا تی دیري (ته دري) باندې مخ یا یوه وړه کوکه ټک وهي. دا کار د دې لپاره کوي چې په عامیانه اصطلاح د ناوې پښه له خسر کره کلکه شي.

کله چې ناوې انګړ ته دننه شي لومړی نغري ته بوول کېږي، نومړې د نغري پرڅنډه ګوتې تیرې کړي چې تورې شي بیا یې ښکل کړي.

ناوې خپل تره، ورور یا کوم بل خپل تر مټو نیولې کوټې ته بیایي، نومړې ته په کوټه کې مخکې له مخکې ځای جوړ شوی وي، داسې چې یوه بې شېته (پوښه) سره بړستن ځلور کته (قاته) د غولي په منځ کې اچولې او شا ته یې ترړل شوې بستره اېښي وي – خو اوس ناوې ته د بړستنې پر ځای د تخت هغه وړه توشکه (دوشک) اچول کېږي چې پلارګنۍ یې ورته جوړه کړې وي - له ناوې سره تللي نارینه دا بړستنه په بل مخ اړوي ځکه، چې کله، کله د زوم خیلو لخوا ورته ستنه پکې ځوخ (ټومبل) شوې وي او داسې هم کېدای شي چې کومه طالع منه ښځه او یا د کور او کلي دهقانه یا مزدوره په دې ځای ناسته وې او تر څو له ناوې سره راغلي خېښان پیسې ورنه کړي، د ناوې له ځای نه، نه پاځېږي. له ناوې سره راغلي نارینه چې له کوټې ووځي بیا نو د کور ښځې راپیدا شي- ځکه په کلیو کې ښځې له نامحرمو نارینه وو نه ستر کوي - او ناوې ته بدراو (بادبرک) او سپېلنی دود کړي، او داسې بابولاله ورته وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غره په سر سپوږمۍ رڼا یې راغله
فلانی مې ښه توپچي ناوې یې راوړه [1]

یا: بېرون ولاړې د ګل ګلاب ګېډۍ یې
د ننه راشه اوس خو د مور ناوۍ یې

یا: تورې زلفې دې په (پر) مخ راغلې تار تارې
شکور چې راغلې د فلانکي د کور واکدارې [2]

یا: تورې زلفې دې پر مخ راوړې روی دارې
ښه شوې چې راغلې د فلاني د کور واکدارې

یا: ښه شوې چې ته (تر) مړې (منې) نه تکه سره شولې
ښه شوې چې د (له) فلاني سره جوړه شولې

یا: ناوۍ نقره یې خالونه کېږده
ناوۍ په لېورو ښه نمونه (نومونه) کېږده

که خېښان په غوسه او یا خفه وي مقابل لوری داسې ورته وایي:

د خورجینې خوله دې خلاصه ده
ماما یې ترې شړئ ناوۍ یې ناسته ده

د ناوې لېور راشي د نوموړې له پښو بوټان وباسي چې دا بوټان بیا د ناوې خواښې یا بله یوه له غنمو او یا وریجو څخه ډکوي. یو بل کس لکه

---

[1] - دا سندره په (اولسي پوهه) نومي کتاب کې لاندې ډول په راغلې ده:

درګل موښه توپچي دی وندیار به رووړي    د غره په سر سپوږمۍ ده رڼو به رووړي
سور ګل موښه سړی دی ننګور به رووړي    ګل خان موښه ګدیړي ناوې به راوړي(۱۱: ۳۲)

[2] – دا سندره د (د وردګو د واده دود او بدلې) نومي کتاب کې په لاندې توګه خوندي ده:

تورې سترګې تور باڼه دې لارې لارې    ښه شوې چې راغلې د (...) د کور واکدارې  (۱: ۲۴۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېور یا لېورزی یې د ناوې د کمیس د پاسه پر ملا تړل شوی دستمال خلاصوي. د وردګو په لهجه کې ورته وایي د ناوې ملا خلاصه کړه. ځکه چې د ناوې ملا د نوموړې د ورور لخوا له کور نه د وتلو پر مهال په یوه رنګه ورېښمین دستمال چې پیسې پکې نغښتل شوې وي، تړل کېږي او له ملا نه پرانیستل شوی دستمال ځینې وخت بېرته ناوې ته ورکول کېږي، کله یې همدا کس چې ملا خلاصوي اخلي، خو پیسې د همدا ملا پرانیستونکي حق دی او نوموړی یې اخلي.

تر دې وروسته د ناوې خوانښې د ناوې لاسونه او پښې په زیړو غوړیو[1] غوړوي څو شېبې وروسته یې ورمینځي او د مینځلو اوبه یې د کوټې په څلوروکنجونو کې شني.

دلته هم د ناوې د ښودلو مراسم پرځای کېږي ځکه چې د ناوې مخ خو په شال کې پټ وي، او له زوم کره راغلیو ښځو لا ناوې نه وي لیدلې. تردې دودونو وروسته ناوې ته د کوټې په یوه کنج کې هغه پرده وهل کېږي (بندېږي) چې ناوې په خپله بوخچه (جهیز) کې راوړي او په لاسي دوخت یې ډېره رنګینه جوړه کړې وي، تر څو ناوې د پردې شاته آسوده او په خپله طبع کېني.

---

[1] - له زیړو غوړیو نه مطلب دغوا یا حیواني غوړي دي. یعنې د غواګانو او یا نورو څارویو (حیواناتو) له کوچو ایستل شوي غوړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

یوه خبره باید هیره نه کړو چې له ناوې سره راوړې د جوب میوه[۲] او په بوخڅه کې راوړي د ورا دستمالونه[۳] ورایځې ته وېشل کېږي. هغه داسې چې په هر دستمال کې د یوې پیالې په پیمانه میوه اچول شوې وي او خلکو ته ورکول کېږي.

د زوم نېږدې خپلې، لکه خویندې، ترلې، خورځې، وربېرې او داسې نورې په دې شپه هم خپلو کورونو ته نه ځي، همدلته په سیل او ساعتېرۍ بوختې وي، اتڼونه کوي، د ناستې بدلې او یا هم د ولاړې دوګانه بدلې بولي، د ناستي بدلې هغه دي چې څو ښځې یو ځای سره ټولې کیني او د دایرې په ملتیا سره په یوه غږ سندره نارې کړي او د ولاړې بدلې بیا هغه دي چې د نجونو له ډلې نه یوه د کوټې په منځ کې نڅا کوي او ناستې ښځې یې له دایرې سره بدرګه کوي، او یا هم په اتڼ کې ویل کېږي، لکه دا لاندې څو د ناستې او ولاړې بدلې چې هم کمیډي (خندونکې) پکې شته او هم تراژیدي (خپه کوونکې) او په مخکېنیو پاڼو کې مې یې هم ډېر مثالونه وړاندې کړي دي.

عمر یې مړ کا خویندې یې ژاړي
نرۍ ژړا ده د سالو والې
عمر یې مړ کا وی، وی

---

[۲] –د جوب میوه هغه دوه یا درې منه میوه ده، چې د ناوې پلارګنۍ یې نوموړې ته اخلي چې د ورا په دستمالونو کې یې ووېشي.

[۳] - ناوې په پیغلدود د ورا لپاره سل یا دوه سوه دستمالونه په ډېرو ښکلیو دوختونو په لاس ګنډي او چې ناوې د خسر کره راورسیږي، دا دستمالونه د نوموړې د خسرګنۍ لخوا په ورا تللیو کسانو ته وېشل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: محمد عمر پروت په دوکانو کې
زګیروی یې خېژي په ملکو کې
خور یې رووته (راووته) سر توره
توبه توبه درب د (له) زوره

په ودونو کې معمولاً مستې او خوشحالونکې سندرې وایي، مګر ما په تېرو څو کلونو کې د نکریزو (نکاح) او هم د واده په شپه له ښځو نه داسې سندرې هم واوریدلې چې له ویر او غم نه ډکې دي، د بېلګې په توګه دا پورته دوې بدلې چې ښایي د کومې تاریخي پېښې بیانونکې وي، ځکه زما نیا به ویل چې په پخوا زمانو کې د عمر په نامه یو کوچی چا وژلی ؤ او خویندو به یې ډېر پسې ژړل، له هغه مهال نه دا بدله پسې جوړه شوې ده، خو د دغې ادعا د اثبات لپاره کوم داسې تاریخي روایت نشته چې د تاریخ لیکنې په معیار برابروي.

د ناستې د بدلو نورې بېلګې دا دي:

په سر کې لنډۍ:

زما به هیر نه شې جانانه
په باغ کې شفتالی تاویز راوړه جانانه - جانانه
تر خپله ځانه راته ګران دي ستا یادونه
په باغ کې شفتالی تاویز راوړه جانانه – جانانه
یا: اوبو راوړی، شهزاده عبدالمتین دی
د اوبو وی مرګی ناورین دی د اوبو
یا: ته (تر) لاس مې مه نیسه باغبانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته (تر) لاس مې مه نیسه باغبانه
یار مې له ډېرې مینې ګل غواړي له مانه
ځه په ګلو ګډ شه
یا: ځوانانو خړې لونګۍ کېښوې په سنګر باندې
جنګ دی په کابل باندې
یا: صبرو ملالې
واړوه بارونه د سیند د غاړې
یا: رڅه(راځه)جانانه سبا اختر دی
زه به دروو‌ځم تورې سترګې سره لاسونه
رڅه(راځه)جانانه
یا: اوړۍ ماته ده
جر(جار)جر(جار)لالیه بله مه روړه(راوړه)
یا: وطن اور دی
جنګ په افغانستان باندې بل اور دی، بل اور دی
یا: د غزني ښکلي زیارتونه
وئ شینکي یې باغونه
چې په زړه مې شي وژاړمه
وئ تل مسافره ومه
یا: په انتظار ولاړه یم را به کله شې
ځه پخې سنځلې دي رابه کله شې
یا: په سپینه ټنډه یې لیکله کلمه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

ما نن ولیده
دا نجلۍ وړه ده
ما نن ولیده
یا: مرغۍ شړم شولې کرمه
زه تورو غرو ته ځم (ځم)- شولې کرمه
یا: شنه بنګړي راغلي وا يې خلم که نه
ما پرون درسره منلي دي وا يې خلم که نه
دا د لاس ګوتيې مې دي خپلې
شنه بنګړي راغلي وا يې خلم که نه
دغه بنګړي مې په يارۍ ګټلي دينه
شنه بنګړي راغلي وا يې خلم که نه
ما پرون درسره منلي دي وا يې خلم که نه
یا: مورې ړوستوني (لستوڼي) افغاني کړه
کمربند يې مشدي (مشهدي) کړه
تر دوې لمن يې کړه پرې پرې پرې
یا: که دې ګرمي کېږي راو خېژه کړکۍ ته
دغه شين دستمال دې ونيسه خولګۍ ته
یا: طالبه ورانه دې شي ستا لېونۍ مينه وه نارې
لاونګينه وه نارې [1]

---

[1]- دا سندره د الفاظو په بدلون سره په (غزنۍ سندرې) نومي کتاب کې په لاندې توګه راغلې ده:
شه مسلمانه مات دې شه لاسونه    په شا ليلا باندې دې کړي دي وارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: ګل پروت دی پر بام
خوب خوب مې وړینه شبنم دی پر بام [۲]
یا: دانې، دانې
په لمن پروت یې لاونګینه
جوړ کړی ما یې
بوی دې نورو ته ورځینه
دانې، دانې
یا: او (وه) د باغ هلکه لړ اوبه راپرېږده
اوبه راپرېږده چې ګلان پرې اوبه کړمه
او دباغ
یا: شیرینې نازنینې ګریوان دې لومد(لوند) دی
ګریوان دې لومد (لوند) دی نن دېر ژړلي دینه ـ شیرینې نازنینې
یا: ماته لښته له باغو راوړه
چار ګل(چهار ګل) له بازارو، راوړه ـ جانانه
یا: نن خزان په ګلو
ګلان تویېږي د اوبو د غاړې
زر راشه جانانه

---

جانان مې ګوښی جنګ ته لاړ دی مړ به شینه    په زړه مې رټې نرۍ چیغې ګډې دینه
وناړې، لونګینه وناړې    ولې به ورانه شي دا ستا لېونۍ مینه    وناړې،لونګینه وناړې
(۱۳: ۱۸۹)

[۲] – دا سندره په (غرنۍ سندره) نومي کتاب کې په لاندې توګه خوندي ده:
ګل پروت دی په بام      جانانه خوب خوب مې وړینه شبنم دی که باران (۱۳: ۱۹۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: د پسرلي نری باران دی یاره سایه بان راوړه
څمه(ځمه)مېلې ته د همزولو خال مې وران دی
سور شال مې الوان راوړه
یا: پورې ولاړه زېړیه ګله
جانانه څه دې راته وېلې راغلې یمه
یا: په کابل ووري (اوري) بارانونه
ووړکي لامده شول نجونې نه وروړي شالونه
میده باران دی
یا: د تور ټکري پیځکې مې ټولې ککړېږي نادانې
ګڼ باران وربېږي نادانې
یا: که دې روژه وي روژه ماته کړه ماښام دی
د ټکري پیځکې دې ټولې کړه باران دی
یا: په غرو باران دی ولولونه
ځنګې(څنګه)یې لامده کړل د لاونګو (لونګو) درمندونه
په غرو باران دی
یا: په زېړو ګلو کې راتلم ورک مې پیزوان دی
(وی) ارمان دی زیړه ګله (وی) ارمان دی
یا: زما لالی زما همزولی
مورجانې ورمې کړه زاري درته کومه
زما لالی دی
یا: ځوک چې مین وي هغه له مرګه نه وېرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

وی وی لږ را نېژدې شه
په تش کتو مې مينه نه ماتېږي
لږ رانېژدې شه
یا: نه مې بنګړي شته نه مې ګوتيې په لاسو کې
مسافر لالی بندي په تورو غرو کې
یا سر يې په لنډۍ سره پيل کېږي:
ګل د ګلاب به خدای را نه کا
ګل د ګلاب به خدای رانه کا
د نورو ګلو مې باغچې ولاړې دينه
شاه وړې نی نی، نی نی نی نی
ګل وړې واه، واه
یا: تر چينارو لاندې کوې خوبونه
(وی) څوک به دې مړ کړي
په وينو سور به دې راوړينه
بنګو لېونی کړې جانانه
یا: تا تور پېکي ته ورکړلې ګنډې
زما د يار وادې (وعدې) راغلي لنډې لنډې
مه ويه (وهه) ملنډې غمازه
مه ويه (وهه) ملنډې غمازه
یا: نه د چا يار، نه چا ورور، نه د چا خپل وی
د لوړو، لوړو غرو بلبل وی - د لوړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

یا: څه زیړه یې غاړه

لکه هوسۍ په بیابانو شپې تېروینه

لیلا په بام ویلاړه (ولاړه) ده

یا: سر په لنډۍ کې

زړګي مې غم لیدلی نه ؤ

پرېږده لاس مې پرېږده

لکه د صبر ونه زر، زر لویدمه

پرېږده لاس مې پرېږده [۱]

لیلې ولاړې، وۍ ولاړې اوبو ته

ماښام راغلې، ماښام راغلې

یا: د (له) پاسه خړې اوبه راغلې زرو جانې

زړه لیستوښي ګډوي چې یوېې وړمه

په مېلو مېلو ما چېرې وړې خپل وطن کشمیر دی

ما پردي وطن ته چېرې وړې [۱]

---

[۱] – دا پورته سندره زموږ په کلي کې یوازې په همدې یوه مسره کې ویل کېده، خو په (پښتني سندرې او غرنۍ سندرې) په دوو او تر دې ډېرو مسرو کې په لاندې بڼه ثبت ده:

سر په لنډۍ کې لکه:

تا ته درتلی نه شم جانانه   پرېږده لاس مې پرېږده

بېلتون په پښو کې مې اغزي مات کړي دینه

ما ته مې مور نارې وهینه پرېږده لاس مې پرېږده   (پښتني سندرې، دوهم ټوک،۱۲ : ۲۴۴)

جار په دیدن ډېره بیړه وکړه سبا به شینه   جار مینه جمه ړنګوه سبا به شینه

پرېږده لاس مې پرېږده ما ته مور سورې وهینه  (۱۳: ۱۳۲ )

[1]- خو ښاغلی محمد عارف غروال په دې ډول راوړې او وروسته یې لاندې تبصره پرې کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

د انارو،

سور ګل د انارو دی

یا: ما د کابل ته (تر) ونو تېره کړه، وی وی لېونو

ما د کابل ته (تر) ونو تېره کړه، ځمه لېونو

یا: په ښنو دې پایزیبونه - زېبونه لیلا

په غاړه دې ګلونه - ګلونه لیلا

یا: چې انار پوخ شي ګل یې ولوړي په (پر) ځمکه

د انارګله نازکه، د انار

یا: طالبه واړوه لونګۍ جوړه لاسونه

طالبه

یا: څښیې(څښې) دې ګېډۍ وی ګېډۍ په ګوتو راغلې

لاس راکړه جانانه، جانانه ګډې ولاړې

یا: انارو، نارو، نارو

---

زړه مې شو ذرې ذرې ★خپل وطن کشمیر دی ما پردي وطن ته چېرې وړې★زړه مې شو ذرې ذرې
(۱۳: ۲۷ )

نوموړی دا سروکی نه بلکې د مفتي عبدالحنان د یوې بدلې سر یې بولي او داسې وایي: «سروکی نه دی، بلکه د مفتي عبدالحنان د یوې بدلې سردی، چې ښاغلي ټولونکي یې دوهم پاړکی مخکې کړی، او بیایې په تکراري ډول د دریم پاړکي په توګه هم راوړی دی، دغه بدله د عبدالحنان د دیوان په هغه خطي نسخه کې هم خوندي ده، چې په ۱۳۳۴هـ ل کال پښتو ټولنې ته راوړل شوې، او اوس د علومو اکاډمۍ په خطي کتابو کې ساتله کېږي. بدله ٦ بنده لري، چې مطلع او د پای بندونه یې لاندې راوړم:

خپل وطن کشمیر دی ، ما پردي وطن ته چېرې وړې   زړه مې شو ذرې ذرې

خپل وطن کشمیر دی په کابل کې مې زړه تنګ شو نا★بخت راسره جنګ شو نا

بخت ویلې حنانه ټوکې مه کړه مسخرې ورې ★ زړه مې شو ذرې ذرې»

(c) ketabton.com: The Digital Library



جر (جار) سايرو ليلا خوب دې غرمې
يا: سر په لنډۍ کې
چې کله ځې کله درېږي
بابولالې، سور منګی راواخله مازديګر دی
په زړه دې څه دي راته ووايه حالونه
بابولالې، سور منګی راواخله مازديګر دی
يا: چې ورته ګورم دا تر ګلو ښايسته دی
دا پورې ـ(وی) کلی د چه(چا) دی ـ دا پورې
يا: په باغ کې دوې سورختې ناستې
يوه مې وېندير (ورېندار) ده بله زه يم
نه پېژنمه ګل راوړه ګل يوسه
خدايه سور ختې مې وېندير (ورېندار) کړې
چې سور يې خت وي لپې، لپې ځنځيرونه
نه پېژنمه ګل راوړه ګل يوسه
ما ته نکول (نقُل) پتاسې راوړه
(وئ) ماته خاصې راوړه
يا: زر کړه تورې زلفې شاته کړه
ياره زما د هر چا مينه پې (پرې) ماته کړه
يا: وئ، وئ ما لره
ما لره دا سپينه اوړی راوړه
وئ، وئ ما لره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اتڼ دسندرو بېلګې دا دي:

څه نرۍ یې پاڼې، شاه لیلا ونه د بادام

یا: او د شنې سرې لونګۍ

هلکه لار راکړه چې ځمه او د شنې سرې لونګۍ

یا: لیلا په سرو منګلو خټې ورکوینه

پاس په لوړ، لوړ کلا وهینه پاس په لوړ

یا: ژاړم ژاړمه ورک مې دلبر جان دی

زه یې غواړمه ووړ، ووړ باران دی

یا: لیلا د کوز کلي کفتره، لاونګینه (لونګینه) په څنګ راواوړه

په وزر چه (چا) ویشتلې ده چې ټیټه ځینه، لاونګینه (وه) لیلا یې یووړه

یا: لیلا په (پر) بام ولاړه ده، څه نرۍ یې غاړه

لکه هوسۍ په (پر) بیابانو شپې تېروینه،

لیلا په (پر) بام ولاړه ده

یا: نیمې شپې شوې، نیمې شپې شوې

او خیالي نور جانې یخ شمال لګېږي[1]

یا: سالو والې ولاړه یمه

بنګړي والې له خوبه یمه

---

[1]-دا سندره په (غزنۍسندرې)کې په دې ډول ثبت شوې ده:

نیمې شپې دي نیمې شپې دي　　　خیالي نندانې وای سرې اوښې باریږي

د نیمو شپو اورونه بل شول وای

نیمې شپې دي نیمې شپې دي　　　خیالي نندانې وای سرې اوښې باریږي

لیلا په سرو منګلو غنې ماتوینه وای　　　نیمې شپې دي نیمې شپې دي (۱۳: ۱۸۳ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

دا لاندې هم د اتڼ هغه اوږده ناره ده، چې پر ته له لنډيو ويل کېږي او د نارې د سر بيت په هر بند پسې تکرارېږي.

په دې سيمه کې چې ما دا سندره ثبت کړه نومورې بدله د ښځو په منځ کې د (اسمان يې چې بې ستنيې) په نامه مشهوره وه، ځکه په هماغه واده کې چې دا بدله مې د ښځو له خولې کښ مټ د دوی د ويلو په ډول وليکله، نجونو به ويل، راځئ چې (اسمان يې چې بې ستنيې) بدله وبولو.

اسمان يې چې بې ستنيې (ستنې)
(هوی) !اسمان يې چې بې ستنيې درولی
ده (دا) ستوري يې مېخونه
ده (دا) لمر يې زيړی ګل پې (پرې) غوړولی
ده (دا) پورې په دو (دغو) دښته
ده(دا) پورې په دو (دغو) دښته يو ځوان تېر شو
د ما (زما) ګوتيې يې يوړه
د ده دسمال (دستمال) دما (زما) په غيږکې وير (هېر) شو
اسمان يې چې بې ستنيې
هوی! اسمان يې چې بې ستنيې درولی
ده (دا) ستوري يې مېخونه
ده (دا) لمر يې زيړی ګل پې (پرې) غوړولی
ده (دا)  پورې د غرمې هوی
ده (دا) پورې د غرمې تونور (تنور) تودېږي
شامسته ورته ناسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (پر) مخ يې رنګارنګ خولې بهېږي
اسمان يې چې بې ستنيې
هوی!اسمان يې چې بې ستنيې درولی
ده (دا) ستوري يې مېخونه
ده (دا) لمر يې زيړی ګل پې (پرې) غوړولی
دا کلکې دي شود يارې
دا کلکې دي شود يارې، لوټې کلکې
ځوانان پکې ريي (رهي) دي
کېڅۍ يې د رڼو ګوليو ډکې
اسمان يې چې بې ستنيې
هوی! اسمان يې چې بې ستنيې درولی
ده (دا) ستوري يې مېخونه
ده(دا) لمر يې زيړی ګل پې (پرې) غوړولی
د پاڼ لاندې مې سترګې
د پاڼ لاندې مې سترګې تورولې
دا پاڼ را باندې ړنګ شو
منګولې مې په يار ولګولې
اسمان يې چې بې ستنيې
هوی! اسمان يې چې بې ستنيې درولی
ده (دا) ستوري يې مېخونه
ده (دا) لمر يې زيړی ګل پې (پرې) غوړولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده (دا) هلک د کومې
هوی!ده (دا) هلک د کومې چته‌ې ورور دی
د هغې چته‌ې ورور دی
چې پېکی یې اړولی لور په لور دی
اسمان یې چې بې ستنیې
هوی! اسمان یې چې بې ستنیې درولی
ده (دا) ستوري یې مېخونه
ده (دا) لمر یې زیړی ګل پې (پرې) غوړولی
دلته یو فقیر دی
هوی! دلته یو فقیر دی چا وژلی
هیچا نه دی وژلی
زړګی یې په لیلا پسې چاودلی
اسمان یې چې بې ستنیې
هوی! اسمان یې چې بې ستنیې درولی
ده (دا) ستوري یې مېخونه
ده (دا) لمر یې زیړی ګل پې (پرې) غوړولی
دا پورې، وورې کلی
هوی! دا پورې وورې کلی مې د یار دی
یار مې پکې نشته
زړګی مې په ګوګل کې ناکرار (ناقرار) دی
اسمان یې چې بې ستنیې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوی! اسمان یې چې بې ستنیې درولی
ده (دا) ستوري یې مېخونه
ده (دا) لمر یې زیړی ګل پې (پرې) غوړولی
تر غاړه به کړم تورې
تر غاړه به کړم تورې غاړکۍ یې
امیر لره به ورشم
د ما په اشنا مه کړه نوکرۍ یې
اسمان یې چې بې ستنیې
هوی! اسمان یې چې بې ستنیې درولی
ده (دا) ستوري یې مېخونه
ده (دا) لمر یې زیړی ګل پې (پرې) غوړولی
که په ده کړې نوکرۍهوی
که په ده کړې نوکرۍ پسې پورته کړه لاسونه
پسې پورته کړه لاسونه
چې چپه یې شي ببړۍ یې ببړۍ ۱
اسمان یې چې بې ستنیې
هوی! اسمان یې چې بې ستنیې درولی
ده (دا) ستوري یې مېخونه
ده (دا) لمر یې زیړی ګل پې (پرې) غوړولی
لوړه توته مات دې
هوی لوړه توته مات دې شه شاخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ درختې نه شو
لیلا درکې جوړکړې دي ځایونه
اسمان یې چې بې ستنیې
هوی! اسمان یې چې بې ستنیې درولی
ده (دا) ستوري یې مېخونه
ده (دا) لمر یې زیړی ګل پې (پرې) غوړولی
لوړې بلخانې هوی
لوړې بلخانې مخامخ یې آیینې
موږه ناوې یوړه
هوی! موږه ناوې یوړه صبر خدایه ورکوې
اسمان یې چې بې ستنیې
هوی! اسمان یې چې بې ستنیې درولی
ده (دا) ستوري یې مېخونه
ده (دا) لمر یې زیړی ګل پې (پرې) غوړولی
که ګل دی په غنمو کې
که ګل دی په غنمو کې تور ګل دی
د خیال کمیس مې دا دی
اورونه چې لګوي هغه مې بل دی
اسمان یې چې بې ستنیې
هوی! اسمان یې چې بې ستنیې درولی
ده (دا) ستوري یې مېخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده (دا) لمر يې زيړی ګل پې (پرې) غوړولی
په وچ ولي مې خال دی
په وچ ولي مې خال دی که روپۍ يې
نه خال دی نه روپۍ يې
د کمکي په سر يې کېښوې سرې وړۍ يې
اسمان يې چې بې ستنيې
هوی! اسمان يې چې بې ستنيې درولی
ده (دا) ستوري يې مېخونه
ده (دا) لمر يې زيړی ګل پې (پرې) غوړولی
هلکه ستن مې ورکه
هلکه ستن مې ورکه ده نرۍ يې
که دا وارې پيدا شوه
خالونه پرې وهم ستا د يارۍ يې
اسمان يې چې بې ستنيې
هوی! اسمان يې چې بې ستنيې درولی
ده (دا) ستوري يې مېخونه
ده (دا) لمر يې زيړی ګل پې (پرې) غوړولی
تر څو به د خروار وای
تر څو به د خروار په سر کې اوسې
آخر به دې خدای راکا
زنګو (زانګو) به زنګوې ناسته به اوسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسمان يې چې بې ستنيې
هوی! اسمان يې چې بې ستنيې درولی
ده (دا) ستوري يې مېخونه
ده (دا) لمر يې زيړی ګل پې (پرې) غوړولی
چتې نجلۍ چتې
پېکۍ دې اړولی کوټې کوټې
ځوانان دې لېونيان کړل
دا خوار شپانه دې وايستل د ګټې
اسمان يې چې بې ستنيې
هوی! اسمان يې چې بې ستنيې درولی
ده (دا) ستوري يې مېخونه
ده (دا) لمر يې زيړی ګل پې (پرې) غوړولی
يا: چتې چې په پښو دې
(هوی)! چتې چې په پښو دې کړې چوټې
ځوانان دې ليوني کړل
زاړه خواران دې ويستل د ګټې
اسمان يې چې بې ستنيې
هوی! اسمان يې چې بې ستنيې درولی
ده (دا) ستوري يې مېخونه
ده (دا) لمر يې زيړی ګل پې (پرې) غوړولی
ده (دا) پورې تخته پول (پل) هوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

ده (دا) پورې تخته پول خاورې تويېږي
دا خاورې خاورې نه دي
د سپينو پايځو دور دی تېريږي
اسمان يې چې بې ستنيې
هوی! اسمان يې چې بې ستنيې درولی
ده (دا) ستوري يې مېخونه
ده (دا) لمر يې زيړی ګل پې (پرې) غوړولی
ما ويل چې درمند ځای به
هوی ما ويل چې درمند ځای به جوړومه
غوبل به د ځوانانو
غوبل به د ځوانانو پرې تړمه
اسمان يې چې بې ستنيې
هوی اسمان يې چې بې ستنيې درولی
ده (دا) ستوري يې مېخونه
ده (دا) لمر يې زيړی ګل پې (پرې) غوړولی
ده (دا) پورې غوا يې وروده
ده (دا) پورې غوا يې وروده تندی يې
مېرمن يې په کور نشته
راووځه تورې سترګې ناوکۍ يې
اسمان يې چې بې ستنيې
هوی! اسمان يې چې بې ستنيې درولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

ده (دا) ستوري يې مېخونه
ده (دا) لمر يې زيړی ګل پې (پرې) غوړولی
لمده ده د راده هوی
لمده ده د راده غاړه لمده ده
اتڼ کولی نه شم
ادکې مورې ځوله مې درنه ده [1]

[1] - دا ناره په ۱۰۳ بندونو يا بيتونو کې د الفاظو په بدلون سره د (پښتني سندرې) په لومړي ټوک کې له ۳۳۲ مخ نه تر۳۴۷ مخ پورې په مردف ډول د (اتڼ) نارې تر سرليک لاندې هم ثبت ده، خو په دې توپير سره چې زموږ په سيمه کې دا ټول بيتونه يوه بشپړه ناره يا د وردګو په لهجه بدل يا بدله بلل کېږي، خو په هر بيت يا بند پسې د بدلې د سر بيت (آسمان يې چې بې ستنې درولی - ده (دا) ستوري ميخونه ده (دا) لمر يې زيړی ګل پرې غوړولی) تکرارېږي.
ويل کېږي چې دا ناره ډېره اوږده ده خو زه په دې وتوانېدم چې همدا څو په ګوتو شمار بيتونه يې پيدا او ثبت کړم.
دا ناره ښاغلي جبيب الله رفيع په خپل کتاب کې په دې ډول ثبت کړې ده:
بابکه په څه ناز دې لويولم
د ژړيو اور دې بل کړ بابکه پر لمبو دې کړولم
پروسږ کال لا ښه وو لاليه تر شاتوت لاندې مېشته وو
د خدای فضل که نه وای لاليه !سږ به دواړه سره مړه وو
تر څو به د غرمې تنور توديږي
ليلا ورته ولاړه تر مخ رنګارنګ خولې بهيږي
په غاړه دې ستمبول دی پيکی دې اړولی لور په لور دی
تمامه شپه ياري کړې سهار په کلي ګرځې ، زما ورور دی
تر پاڼ لاندې مې سترګې تورولې
چې پاڼ راباندې راغی منګولې مې په يار ولګولې
تر دې نجلۍ مکاره بله نشته
د رود په هغه غاړه ليستوني ښوروي لاس پکې نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

چټې چې په پښو دې کړې چوټې
ځوانان دې لیوني کړه زاړه خواران دې و ایستل له ګټې
دا پورې په دامان توره کېږدیه
کېږدی، مې اوبو یووړه د ژمي شپې به چېرې تېرومه
دا پورې وورې کلی مې د یار دی
یار مې پکې نشته زړګی مې په ګوګل کې ناکرار دی
خوله دې د غاټول تر ګل نازکه ده
وماته دې رانه کړه آخر بې (به یې) یا چینجیان وخوري یا مځکه
دوې دي نجونې دوې دي د اتڼ نارې کوي سره ترلې دي
د یوې د خیال کمیس دی د بلې زرغونې په پښو جستې دي
راځئ چې نن د کونډې مېلمانه شو
د کونډې یوه لور ده لالیه! په دیدن بې (به یې) ماړه شو
په خوږ کې یو فقیر دی چا وژلی د تورې وار پرې نشته
زړګی په لیلا پسې چاودلی لوی تک دې د زاړه په زړګي وشي
چې پیغله نجلۍ غواړي په کور (یې) دې د مردکو باران وشي
مرم چکنه مرمه داستا ارمان به خاورو لره وړمه
ولې به یې وړمه چکن په بازار ډېر دی را بې وړمه
هلکه چې پوچې مرغومې پیایې ما به خولګۍ درکړئ
هلکه ته نادان یې کور به وایې یو وار کړه سر ښکته د اتڼه
یو سات به سره کښینو دنیا کې ښادي چېرې ده بې غمه
هلکه ستن مې ورکه ده نریه که دا وارې پیدا شو
خالونه پرې وهم د آشناییه د خلکو سندرې:۷۴-۷۵)
او په ۱۳ کې په دوو بېلو ځایونو کې په لاندې بڼه راغلې ده:
دا پورې وورې کلی مې د یار دی یار مې پکې نشته
زړګی مې په ګوګل کې ناکرار دی (۱۳: ۴۰ مخ)
لونګ به پرې شنمه غوبل به د چټانو پرې ترمه
لیلا چې دلته اوسي چې زور د ژنیو راشي تا به یوسي

★ ★ ★

تودیرې د غرمې وای تودیرې د غرمې تنور تودیرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

کله چې ښځې ستړې شي د دې لپاره چې اتڼ اخر شي، دا پورته وروستی بیت ووايي، ځکه چې دا سندره ډېر بیتونه لري څومره چې غواړي اتڼ اوږدولی او دا ورسره بللای شي؛ خو ما يې يوازې همدومره بیتونه ټول کړای شول که ژوند ؤ د دې نارې نور بیتونه به خامخا پیدا کوم او له دې سره به يې ضمیمه کوم.

د شپې له خوا په ودونو کې کله، کله د شین خالۍ سندره هم ویل کېږي، او هغه داسې چې د سندرې لومړی بیت په هر بند پسې تکرارېږي. لکه:

توره شپه ده توره خونه
شین خالۍ نه ده معلومه
شین خالۍ نه ده معلومه
توره شپه به خدای رڼا کا
شین خالۍ به خدای پیدا کا
شین خالۍ به خدای پیدا کا
توره شپه ده توره خونه
شین خالۍ نه ده معلومه
شین خالۍ نه ده معلومه

---

لیلا ورته ولاړه    په مخ يې رنګارنګ خولې بهېږي

★ ★ ★

پسته ده مندهیر وای    پسته ده مندهیر شګه پسته ده
هغه مو څه پسته ده    جلکۍ سینه له کوچونه سپینه ده (۱۳: ۱۸۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



شین خالې په کنډو ولاړه
یا به لېچ راوړي یا غاړه
یا به لېچ راوړي یا غاړه
شین خالې په کنډو ولاړه
نه به لېچ راوړي نه غاړه
دا دیار دیدن ته ولاړه

//

د کېږدۍ پېڅول ښوري
شین خالې پټ پټ راګوري
شین خالې پټ پټ راګوري

//

سپینه خوله لکه د ورې
ته (تر) پلو ګوري شین خالې
ته پلو ګوري شین خالې

//

نه دې وینم نه دې ګورم
د بوټو په پلو دې شورم
د بوټو په پلو دې  شورم
زه دې جار شم تر بریتو
لکه لمبر په (پر) دوکانو
لکه لمبر په دوکانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دې جار شم تر خالو
لکه لمبر په کاغذو
لکه لمبر په کاغذو
د بوټو مخ دې اتلس دی
ته چې راځې په ما هوس دی
ته چې راځې په ما هوس دی
د بوټو توکمې (دکمې) دې لنډې
پر ما مه وهه ملنډې
پر ما مه وهه ملنډې
د بوټو مخ دې زرین دی
ته چې ځې (ځې) په ما ناورین دی
ته چې ځې په ما ناورین دی
نارې مه وهه درځمه (درځمه)
په (پر) سر شالونه سمومه
په سر شالونه سمومه
نارې مه وهه درځمه
په لوله (وياله) گوډې ډکومه
په لوله گوډې ډکومه
د گاډۍ پيچونه لوړ دي
گله مړه دې زورور دي
گله مړه دې زورور دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

گاډۍ غونډه منډه کیږي (کېږي)
د کوژک په غره هسکیږي (هسکېږي)
د کوژک په غره هسکیږي (هسکېږي)
د ګاډۍ په پیچ ولاړه
ماته لیس او چرمې راوړه
ماته لیس او چرمې راوړه
د کلا تر شاه تېرې یې (تېرېږي)
ته مرور یې که شرمېږې (شرمېږي)
ته مروریې که شرمېږې (شرمېږي)
نه مروریم نه شرمېږم (شرمېږم)
د تومت (تهمت) نه دې ډارېږم (ډارېږم)
د تومت (تهمت)نه دې ډارېږم (ډارېږم) [1]

لکه مخکې مې چې وویل ځینې داسې بدلې هم شته دي چې د ګډا په حال کې (له نڅا سره) ویل کېږي. او هغه داسې چې د نجونو له ډلې نه یوه میدان ته پاڅیږي او په ورو، ورو نڅا پیل وکړي، او نورې ناستې نجونې یا ښځې له دایرې سره د نوموړې ملتیا کوي، لکه دا لاندې مزاحیه بدله، چې د ګډا په حال کې نجلۍ د بدلې یوه موزونه جمله یا مسره وایي او مکث

[1]- ما د دې سندرې همدا څو بیتونه د ښځو له خولې ولیکل، نوموړیو ویل چې دا سندره ډېره اوږده ده خو اوس یې نور بندونه زموږ هېر شوي دي. د دوی دا خبره رښتیا ده، ځکه دا سندره د (پښتنې سندرې) په لومړي ټوک کې د (د شین خالو نارې) تر سر لیک لاندې ډېره اوږده (له ۳٦٦ مخ نه تر ۳۷۱ مخ پورې) په سیمه ییزه لهجه چې ښایي د پکتیا او یا هم د کومې بلې سیمې لهجه وي، چې په ځینې ځایونو کې یې له دې بدلې سره توپیر درلود ثبت او خوندي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، سمدلاسه نورې ناستې ښځې د پوښتنې په ډول ورته وايي (جر خورې ولې نو)، ورپسې ناځګره د بدلې بله مسره د ناستو ښځو په ځواب کې زمزمه کوي او بيا ولاړه شي او ناستې ښځې ټولې په يوه غږ د بدلې دا برخه (د مستې لاونګينه د مستې) سره تکرار کړي. دا بدله هم ډېره اوږده ده ما يې دا څو بيتونه وموندل. زه به دلته د دې برخو د بېلولو يا تشخيصولو لپاره د هغې برخې مخې ته چې د ګډا په حال کې نجلۍ يې وايي د (۱) شمېره او د ناستو لپاره به د (۲) شمېره وليکم او هغه برخه چې په دسته جمعي ډول ويل کېږي پرته له شمېرې تکرار کړم:

۱- خدايه زړې خو ټولې مړې کړې نو

۲- جر (ځار) خورې ولې نو

۱- چې دوره (دومره) ټک شي دا به بوڅه ناسته وينه

د مستې لاونګينه (لونګينه) د مستې

۱- خوابښې مې ښه خسر مې بد دی نو

۲- جر(ځارياجار) خورې ولې نو

۱- چې جټه راشي په دريه(دايره) يې ورکومه

د مستې لاونګينه - د مستې

۱- خوابښې مې ښه ده بده نه ده نو

۲- جر خورې ولې نو

۱- چې چرګ حلال کا ما د پلار که (کره) ورلېږينه

د مستې لاونګينه - دمستې

۱- د دې زړې مکر ته ګوره نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- جر خورې ولې نو

۱- ستونچه (آستینچه، دستک) په سر کا زه مې نګور (نږور) ویلې (وهلې) یمه

یا:ستونچه (آستینچه، دستک) په سر کا زه مې نګور (نږور) شړلې یمه

د مستې لاونګینه - د مستې

۱- زړه ته (تر) توت لاندې ویده ده نو

۲- جر خورې ولې نو

۱- د شیطانت ګوډی یې سپیو وړی دیه

د مستې لاونګینه - د مستې

۱- خسر مې ژرنده کې ویده دی نو

۲- جر خورې ولې نو

۱- په سپېره خښته یې مورک ډولک وهینه

د مستې لاونګینه - د مستې

۱- خسر مې ژرنده کې ویده دی نو

۲- جر خورې ولې نو

۱- دا نیمایي بریت یې مورک خوړلي دینه

یا: دې صحرایي مورک یې بریت خوړلي دینه

د مستې لاونګینه - د مستې

۱- د آخیرت (له آخرت) نه اوال (احوال) راغی نو

۲- جر خورې ولې نو

۱- چې ټول زاړه یې صابونونه کړي دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مستې لاونګینه - د مستې
۱- خلک به وایي چې زړه د یارۍ نه ده نو
۲- جر خورې ولې نو
۱- زړه یارۍ ته ګنده خلاصه ګرځوینه
د مستې لاونګینه - د مستې
۱- دا د دې غره تر شاه لېوه دی نو
۲- جر خورې ولې نو
۱- دا لیوه نه دی د زړې خوارې مېړه دی
د مستې لاونګینه – د مستې
۱- دا دیولې (ویالې) په سر لرګی دی نو
۲- جر خورې ولې نو
۱- دا د زړې خوارې مرګی دی
د مستې لاونګینه - د مستې
۱- خوابښې مې تله وصیت یې وکا نو
۲- جر خورې ولې نو
۱- په تناره کې چکیده ده ویې نه خورې
د مستې لاونګینه- د مستې
۱- د آخیرت (له آخرت) نه اوال (احوال) راغی نو
۲- جر خورې ولې نو
۱- چې ټول زاړه یې په غوبل تړلي دینه
د مستې لاونګینه – د مستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

۱- دا دکنډو په سر ټوپک دی نو

۲- جرخورې ولې نو

۱- دا ټوپک نه دی د زړې خوارې (...) دی

د مستې لاونګینه- د مستې

۱- دپاسه خړې اوبه راغلې نو

۲- جر خورې ولې نو

۱- په سر يې راوړل د زړې خوارې جوبونه

د مستې لاونګینه - د مستې

۱- خوابنې مې کوزه سپیو ګیر کړه نو

۲- جر خورې ولې نو

۱- ورخلاصه نه یم چې دوه نور وروشکیرمه

د مستې لاونګینه - د مستې

۱- ده (دغه)یوه بله دې ورپسې وي نو

۲- جر خورې ولې نو

۱- زړه په خره باندې سوره(سپره )سترګک وهینه

د مستې لاونګینه - د مستې

۱- خوابنې مې نوی یار نیولی نو

۲- جر خورې ولې نو

۱- په جینګه خوله يې لبسیرین وهلي دینه

د مستې لاونګینه - د مستې

۱- خوابنې مې ماته نصیحت وکا نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- جر خورې ولې نو

۱- بچه بازي په زوړبودۍ مزه کوینه

د مستې لاونګینه - د مستې

۱- زړه په باغ کې کالي مینځي نو

۲- جر خورې ولې نو

۱- پرتوړ یې نشته (...) په پاڼو پټوینه

د مستې لاونګینه - د مستې

۱- زړه په ترخو کې ویده ده نو

۲- جر خورې ولې نو

۱- په ګونځې خیټه یې موړک ډولک وهینه

د مستې لاونګینه- د مستې

۱- خوابښې مې تله ټینګتې یې وکړې نو

۲- جر خورې ولې نو

۱- په تناره کې چکیده ده ویې نه خورې

د مستې لاونګینه - د مستې

۱- نن مې بوینه خوابښې مړه ده نو

۲- جر خورې ولې نو

۱- پاس په جرګه یې خښوي بوی یې راځینه

د مستې لاونګینه - د مستې

۱- خدایه زړه په جمعه مړه کړې نو

۲- جر خورې ولې نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

۱- چې په سومبۍ یې ملایان ګوتې وهینه
د مستې لاونګینه - د مستې
۱- دومره مین دربندې نه یمه
۲- جر خورې ولې نو
۱- په بامو ګرځم زړه مور دې ډارومه
د مستې لاونګینه - د مستې
۱- خواښې مې تله وصیت یې وکا نو
۲- جر خورې ولې نو
۱- په تناره کې پیرکی دی ویې نه خورې
دمستې لاونګینه – د مستې
۱- خواښې مې مړه کېده وصیت یې وکا نو
۲- جر خورې ولې نو
۱- په تناره کې پیرکی دی ویې نه خورې
د مستې لاونګینه - د مستې [1]

[1]- دې ته ورته سندره په (فولکلوري ګېډۍ) کې هم راغلې ده چې زه یې د نمونې په توګه دلته راوړم:
۱- په لمن کې به دې نیسم زیړې ګلې
مور دې بوره مه شه زیړې ګلې
وس مې په هیچا نه رسیږي
په خپل زړګوټي ظلم کړم بد رنګه شومه
۲- په دا لار به بیا درنشم نو؟
۱- شخلې خورې ولې نو؟
۲- په دا لار کې ګل محمد راته ولاړ دی
۱- د خت لمنې دې ډمانو ساز کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

د دې ډول بدلو يوه بله بېلګه داسې ده چې ولاړه نجلۍ يا د نڅا په حال کې نجلۍ، ناستې ښځې ته د پوښتنې په توګه په منظومو الفاظوکې وايي (ادې ما چاته ورکوې) او ناسته له دايرې وهلو سره، سره په نوبت د خپلو، خپلوانو نومونو اخلی او وايي (تا فلانې ته ورکوم)، ولاړه په ځواب کې ورته ببرته د هماغه خپل نوم له مېرمنې سره يې واخلي او ورته وايي (فلانی دې د فلانۍ سره زوړ او ووړ شي –زما دې ديني ورور شي) بيا غوړونو ته لاس کړي او ووايي (توبه، توبه). په دې توګه دا بدله تر څو يې چې زړه وي اوږده او يا لنډه يې وايي.

١- ادې ما چاته ورکوې

٢- تا فلانې ته ورکوم

---

غونډې اور په لمن وړې، غونډې اور په لمن وړې

٢- غونډه روانه د عارف سلام ته ځي

غونډه اور په لمن وړي

لنډۍ داسې پکې تکرارېږي:

مين مې کړې خو سيال مې نکړې

غونډې اور په لمن وړې

غونډې اور په لمن وړې

داسې مې وچ کړې لکه دروزه په واټونه

غونډې اور په لمن وړې

غونډې اور په لمن وړې

د خت لمن د ډمانو ساز کوې

غونډې اور په لمن وړې، غونډې اور په لمن وړې

په مخه دوې شين ختې راغلې

وی واخ زه پکې کوپکو شوم چې د کومې ياري کړمه

غونډې اور په لمن وړې ، غونډې اور په لمن وړې (١٠: ١٩١ -١٩٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

١- فلانی دې د فلانۍ سره زوړ او ووړ شي
دما (زما) دې دیني ورور شي
توبه ، توبه

یا:

١- ادې ما چاته ورکوې
٢- تا فلاني ته ورکوم
١- فلانی دې د فلانۍ سره کور او وور (اور) شي
دما دې دیني ورور شي
توبه ، توبه

او د دې سندرو یو بل ساری داسې دی، چې ولاړه ناستې ته وایي (مورې مړه کېږمه) ناسته ښځه په نوبت د یوه، یوه کس نوم ورته اخلي (دا فلانی جان به درکړم)، ولاړه تر هغې پورې چې غواړي دا سندره اوږده کړي دا منفي ځواب ورکوي چې (نه پرې جوړیږمه) او کله چې واغواړي نڅا بس کړي ملا ته لاس کړي، وڅرخیږي او دا جمله چې (وی، وی په مله (ملا) راجوړه شومه وړه را لویه شومه) تکرار کړي.

١- مورې مړه کېږمه
٢- دا فلانی جان به درکړم
١- نه پې (پرې) جوړیږمه
٢- دا فلانی جان به درکړم
١- وی، وی په مله راجوړه شومه وړه را لویه شومه [1]

[1] - دې ته ورته سندره په (د پښتو شفاهي ادبیاتو شکل او مضمون) کې هم راغلې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا لاندې يې بله بېلګه ده، چې ناسته له ولاړې نه د بدلې په قالب کې پوښتنه کوي او ولاړه ځواب ورته وايي، يعنې د پورته سندرو برعکس بدله ناسته ښځه پيل کوي او ولاړه په نوبت د خپلو ورونو، تروزيو او يا نورو نومونه اخلي او له نڅا سره بدلې ته دوام ورکوي.

۲- شين ګېډۍ ګېډۍ کميس دې چا راوړی

۱- زه په همزولو کې به وايم دا خو مې ورور راوړی دی

۲- شين ګېډۍ ګېډۍ کميس دې چا راوړی ديه

او يا هم دا بدله چې ولاړه نجلۍ په نڅا پيل وکړي او دا بيتونه ووايي:

چورګوړی د بل چا (يا د ملا) نن بيا ګيدړې وړی چورګوړی د بل چا

ټوپک راواخله ډزې وکړه

چور ګوړی د بل چا (يا د ملا) نن بيا ګيدړې وړی چورګوړی د بل چا

تر دې وروسته د دايرې وهونکې ښځې مخې ته کيني سر په زنګنونو کېږدي او په تمثيلي ډول په ژړا پيل وکړي، دايره وهونکې ترې پوښتنه کوي چې (ولې ژاړې څه شوي دي؟)، نوموړې وايي (ميړه مې وهلې يم)

---

بچی کوم ځای دې خوږېږي (دوه ځله)

ابی ګېډه مې خوږېږي (دوه ځله)

ګولۍ به درته راوړم

نه خورمه ګولۍ - نه خورمه ګولۍ دا ګولۍ له زارو ډکې دي (دوه ځله)

ابی ګېډه مې خوږېږي (دوه ځله)

بچی کوم طبيب دې خوښ دی- بچی کوم طبيب دې خوښ دی

دا فلانکی جان طبيب مې خوښ دی پرې رغيږمه

نه خورمه ګولۍ دا ګولۍ له زارو ډکې دي( ۵: ۵۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

هغه يې بيا پوښتي چې (ولې؟) ناڅګره يو مزاحيه يا خندونکی ځواب ورته وايي، لکه (ماديګ پخاوه، سرديګی نه ؤ چپکه(څپيکه) مې پرې کېښوده، ديګ چې وايشده چپکه تفت ياد ديګ تاوخوړينه کړه او په ديګ کې ولويده، ميړه مې چې راغی او خبر شو زه يې ووهلم، اوس زه ګرمه يم که دی؟) دايره وهونکې په ځواب کې ورته وايي (نه ته ګرمه نه يې دی ګرم دی) يا وايي چې (ما ختې[1] کړلې څړی[2] نه ؤ، د ميړه کميس مې راواخيست او څړی مې ترې جوړ کړ، ځايونه مې چې پرې وموښل هغه خت وشړيده او ميړه چې راغی او خبر شوزه يې ښه ووهلم، اوس ته ووايه چې زه ګرمه يم او که دی؟) بيا هم ناسته ښځه خپل هماغه ځواب تکراروي، چې (دی ملامت دی) او تر هر ځل ځواب ورکولو، وروسته بيا پاڅي په ګډا پيل وکړي او پورته بيتونه تکرار کړي او بيا د نومړې مخې ته کيني ډول، ډول ځوابونه ورکوي. په دې توګه نورې ناستې ښځې د نومړې ځوابونو ته خاندي او خپل ساعتونه تيروي.

او يا هم ناستې دايره او چک چکې وهي او ولاړه په يوازې توګه بدلې وايي، لکه دا لاندې بدله چې د نڅا په وخت کې د بدن پر يوه غړي لاس ږدي او نوم يې اخلي او دې بدلې ته دوام ورکوي او په منځ، منځ کې لنډۍ ورسره تکراروي. لکه:

---

[1] - ختې: په وردګو کې کوټې په سپينه خاوره سپينوي او هغه داسې چې يوه زړه ټوټه په ډېرو اوبو کې خيشته کړي او هم خيشته شوې سپينه خاوره له زيړو وچو وښو سره ګډه پرټوټه کېږدي او پرديوال يې وموښي،څو ټول ديوالونه په دې ډول پاک او سپين شي.

[2] - هماغه زړه ټوټه چې کوټې پرې موښي څړی يې بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وله غیشي وله ما لاس په تندي ایښی شین غمی پې (پرې) وله
یا: ما لاس په زړګي ایښی شین غمی پې وله

او بل د نڅا هغه بدلې دي، چې ناستې ښځې یې د لنډیو په بشپړونه له دایرې سره وایي او یوه یا دوې نجونې یوازې ورته ناڅي او د بدلې په بللو یا تکرارولو کې برخه نه اخلي، لکه دا لاندې نمونې:

په ځنګ راواوړه چې دې وشمېرم خالونه
(اوه) د ګلو ګېډۍ واوړه، راواوړه، اوه د ګلو ګېډۍ

یا:

پایڅې مې د خره کته دي په پښو یې وړلی نه شمه
اتڼ کولی نه شمه

یا:

واوړه، راواوړه څه نرۍ پروتې یې
ته د فلاني، د ښي لاس ګوتېې یې

یوه خبره د یادولو وړ ده او هغه دا چې ناوې ته لومړی د پلار په کور او بیا د خسر کره ځانګړي خواړه لکه هګۍ، ښېلی (مالیده) یا نور نرم خواړه ورکورل کېږي، چې بادګین نه وي او د ناوې کولمې ونه غوریږي (غړونه کړي) ځکه دا بیا عیب ګڼل کېږي.

د بېګاه (ماسختن) ډوډۍ تر خوړلو وروسته ناوې خپلې کوټې ته د بدلو په ملتیا بوول (بېول) کېږي، زوم هم مخکې خپلې کوټې ته راغوښتل شوی وي، دوی دواړه سره ودروي، او داسې بدله ورته وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

درګی، درګی دی آسپې درولئ دننه
ته (تر) لاس یې نیسه فلانیه بختوره
یا: د مور د زوم دا څومره لوړه غاړه ده
ناوې مې لکه ګل ورسره ولاړه ده

بیا نو دواړه کینول کېږي، د ناوې لورې کوښښ کوي چې لومړۍ باید زوم پرځمکه کیني او د زوم لورې بیا زوم هڅوي چې ته باید ولاړ اوسې لومړی باید ناوې پر ځمکه کیني، ځکه دوی داسې عقیده لري که هر لورې لومړی پر ځمکه کیني د ژوند تر پایه به پر مقابل لوري برلاسی او زړور اوسي.

ناوې ته، تر ودوزن مخکې همزولې لارښوونه کوي، چې لومړی کوټې ته دننه شوې باید ټوخی وکړې چې خاوند دې تر تاثیر لاندې راشي او بیا یې چې ځنګ ته ودریدې خپله ښۍ پښه دې داسې شان د خپل خاوند د پښې د پاسه کېږده چې هغه پرې پوه نه شي، ځکه چې بیا به ټول عمر هغه ستا تابع وي او بل هڅه وکړه چې، لومړی هغه پر ځمکه کیني. ناوې دا ټولې خبرې په غور کې نیولې وي، خو یوه نیمه یې عملي کولای شي، ځکه چې په کلیوکې زیاتره ښځې عاجزې او شرم ناکې وي، د دې کړنو جرأت نه لري. تر کیناستو وروسته لومړی آیینه مصاف وکړي، بیا قرآن شریف د دواړو مخ ته ونیسي تر څو یو آیت یې له ځانه سره (تر شونډو یا ژبه لاندې) ولولي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

ښيلى[۱] او شربت[۲]يو او بل ته ورکړي. په دې توګه د واده مراسم پاى ته ورسېږي.

دا وروستى دود هم ځانته ولسي فلسفه لري ځکه د کليوالو ښځو په اند که مېړه (خاوند) او ښځه (مېرمن) لومړى ځل يو بل په آيينه کې ووينې ژوند به يې روښانه وي، ښيلى او شربت د دوى د راتلونکي ژوند د خوږوالي لپاره چې ټول ژوند سره خواږه او خوشحاله وي ورکول کېږي.

[۱] – ښيلى په زيړو غوړيو کې ميده شوې يا موښل شوې وچې ډوډۍ ته وايي چې بوره هم ورسره ګډه وي او د دري ژبې د ماليدې معادل يې ګڼلاى شو.

[۲] - شربت: په اوبو کې حل شوې بورې ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيمه (تخت جمعي)

د واده په درېيمه ورځ زوم له خپل ورور یا بل ملګري سره د ناوې له پلارګنۍ (خسرګنۍ) کره شاه سلامۍ ته ورځي او له ځانه سره لږ څه خواږه لکه نقل او چاکليټ او ميوه هم وړي. هلته زوم ته ښه غوړ چای ورکول کېږي، ښمينې او خواښې يې ورځي روغبړ ورسره کوي، که يې خسرګنۍ پردې يا لږ لرې خپل وي په دې ورځ يې له خپلې خواښې او ښمينې (ښينه) سره لږ څه ډېر معرفت وشي، نوموړی تر چای څښلو وروسته په پتناسه کې پيسې ږدي، چې دا دود په عاميانه لهجه کې د ټکري اچولو په نامه يادېږي او وايي زوم ټکری واچوه.

خواښې زوم ته د بېرته ستنېدو پر مهال يو جوړ جامې چې غاړه (يخن) يې په ګوتو جوړه شوې وي له جوړ شوي څادر او نورو لوازمو سره ورکوي او له ده سره تللي کس ته هم جامې او دستمال، وچه ميوه اوخواږه ورکول کېږي.

د ناوې اباخيل په همدې ورځ باندې په نوموړې پسې د درېيمې ټکله وړي او له ډوډۍ سره تللې ښځې چې دا ښځې په ناوې پسې تللې ښځې په نامه يادېږي او اکثراً يې مور، خور يا بله خپله وي، په ولسي اصطلاح په ناوې پسې جامې، طلا، د کور سامان يا هر څه يې چې په وس کې وي وروړي. او يو څه ځانته ببل ږدي او وايي دا مو د ناوې په عقل کې راوړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې وخت زوم خیل د واده په ورځ د خېښانو له کور نه یو څه د ناوې د عقل په نامه پټوي، خو ځینې بیا مخکې ورته وایي چې دا شی مو د ناوې په عقل کې ورته اخیستي دي.

زوم خیلو هم د درېیمې لپاره ښځې راټولې کړې او د ډوډۍ تیاري یې نیولې وي. د واده په درېیمه ورځ د ناوې لاس هم خلاصېږي، هغه داسې چې ناوې ته مخکې له ناوې دود نه د نوموړې خواښې په یوه کټوه یا دیګ کې زیړ غوړي ټول کړي وي او په دې ورځ یې دې ته راواخلي او ورته وایي چې درې غټ، غټ چنګاله له دې غوړیو نه راواخلي بیا باید له کندو نه درې غټې – غټې لپې اوړه راواخلي. له دې اوړو او غوړیو نه باید ناوې حلوا پخه کړي، یعنې ناوې لومړی باید د خسر کره خواږه پاخه کړي او همدارنګه په پخلي کې خپل مهارت ښکاره کړي، کله چې غرمه ښځو ته ډوډۍ ورکول کېږي دا حلوا هم راخیستل کېږي تر څو ښځې د ناوې د لاس پخلی ووینې او ویې خوري.

بیا ناوې د تناره غاړې ته بوول کېږي، چې یوه یا دوې زغالې وکړي او ځینې خلک یوه ټکله (ډوډۍ) هم پرې جوړوي او په تناره یې وهي. دا په دې معنی چې تر دې وروسته نوموړې هم د کور په کارونوکې ونډه اخیستی شي. د ښځو بدلې له دې ځای نه پیل شي ناوې ته داسې وایي:

ناوې زر زري بنګړي په لاس کړه
ناوې د خواښې لاس له کارو خلاص کړه

پخوا به د ناوې په وېښتانو کې د ښځ څونډۍ هم ټینګ (بند یا تړلی) ؤ، چې په درېیمه ورځ به بیا هم یوې ښځې د نوموړې سر خلاصاوه او ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

کېدل به چې د ناوې د درېیمې سر خلاصی دی او ځونډې به د همدغې سر خلاصونکې برخه (حق) ؤ او دې به اخیسته. که به د ناوې د څټ ځونډې نه ؤ داسې پیغور به ورکول کېده:

سمه سیخه کینه چې کړه نه شې
د څټ ځونډې دې نشته خمتمه نه شې [۱]
یا: ګڼ باران ته کینه چې لمده دې کا
ادکه مور دې نه شته چې درنه دې کا [۲]

مکنه هم د کور یوه ښځه د شاګوم (شګون) لپاره ترې اخلي. په دې ورځ هم ناوې سینګار شي او د پلار د کور یو جوړ ښکلې جامې ور په غاړه کړي او بیا د ښځو منځ ته راوستل او وروښودل شي، دا مهال داسې بدله هم بلل کېدای شي:

لرې کړه پلو له مخې چې زه دې ننداري کړم
اوس به دې د غاړې لونګین دانې دانې کړم

د غرمې تر ډوډۍ وروسته چې د ناوې د پلارګنۍ له لوري راوړل شوې ډوډۍ هم ورسره وي د ناوې کور ښځو ته ښیي، دلته بیا هم د بدلو میدان تودوي، مېرمنې د پخواني دود په پاللو سره ستاینې وایي لکه:

[۱]- دې ته ورته بدله آرینزي په خپل کتاب (د وردګو د واده دود او بدلې) کې داسې راوړې ده:
دآس په زین کې سمه شه کړه نه شې      ابه دې پیازواله دی خمتمه نه شې (۱: ۴۳۸)

[۲] – د (وردګو د واده دود او بدلې) کې دا بدله په لاندې شکل راغلې ده:
ګڼ بران ته کېنه چې لمده دې کا      دسې مور دې نشته چې درنه دې کا (۱: ۴۴۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولور دې په جامو ټولېږي
اوس به دې سور کور رامعلومېږي
یا: ناوې چې د مریو ګریوان ونه کړې
فلانی په خویندو ګران دی وېش یې ونه کړې
یا: ناوې کراره کینه دا دې کور دی
ناوې یې په تربورو دې ټکری پوردی

که د ناوې د کور سامان لږ وي او یا ځینې شیان یې نه وي ورته اخیستي، داسې پیغور ورکوي:

ناوې نه سیخ راوړی نه سیخچه
لوړه ناسته په تاخچه (طاقچه)

کله چې دا مراسم هم بشپړ شي او ښځې د خپلو کورونو په لور رهي شي، د نوموړیو د خوني په دستمال او د اچونې په بدل کې د دوی د راوړې ثیز په انډول یوه د بوخچې ټوټه له یوه خت (د کمیس ټوکر) او یا یو ټکری (څادر یا پوړنی) ورکول کېږي، او نوره بوخځه هم د کور او کلي پر خلکو چې مخکې د ناوې خیلو له لوري ورته ټاکل شوې وي وېشل کېږي.

د ورځې په پای (مازدیګر) کې له ناوې سره راغلې ټنګورې له هغو نورو ښځو سره چې ډوډۍ یې راوړې وه، یو ځای بېرته له ناوې خېلو کره د ناوې د کور او اور د احوالو وروړلو لپاره ځي او له هغه ځای نه بیا خپلو کورونو ته ستنیږي، په دې لړ کې د زوم کورنۍ هم دا ټنګورې نازوي، هرې یوې ته کمیس یا بسته جوړه، ماشومانو ته یې جامې او په ټنکورو پسې یا له ډوډۍ سره راغلیو سړیو ته هم کالي (جامې) ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نتيجه

زما دا څېړنه چې په لنډ تنګ وخت کې مې د ماسټرۍ د تيزيس په بڼه ترسره کړه ښايي ګڼ شمېر د ګوتې نيولو ځايونه ولري خو لنډيز به يې زه دلته راوړم.

دا پروژه يوه مقدمه او د متن اصلي برخه رانغاړي، په سريزه کې د موضوع په اړه خبرې شوې دي، او د تيزس هغه اساسي برخه ده چې په يوه ټولنه کې د فولکلوري توکيو د موجوديت د ارزښتونو ترڅنګ د فولکلوري موادو پر ساتنه او کيفيت باندې هم څه نا څه خبرې لري.

په سريزه کې د دې څېړنې پر هدف، د فولکلور ټولولو پر اهميت او د دې پروژې پر ارزښت خبرې شوې دي.

دا سريزه د پښتني سندرو د پيدايښت مخينه يا شاليد، د سندرو لومړي ټولوونکي، د ښادۍ د بدلو ټولوونکي او په وردګو کې د ښادۍ بدلو د ټولولو لومړنۍ هڅې راپه ګوته کوي. او همدارنګه د ښادۍ د سندرو پر فورمولټيک جوړښت باندې هم لنډ بحث پکې شوی دی. او هم د ټولو شويو سندرو په څرنګوالي او د استعمال د مواردو په اړوند او د دې کار پر سوابقو يعنې چې مخکې له دې په دې برخه کې څومره کار، چا کړی دی او له دې موجودې څېړنې سره يې توپيرونه څه دي په لنډ ډول څېړل شوي دي. د متن په اصلي برخه کې د وردګو د ښادۍ سندرې د واده له لومړۍ هوکړې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولي، د ناستې، د نکریزو شپې او د توی (واده) ورځې تر پایه یعنې درېیمې (تخت جمعۍ) پورې ټولې د هماغه ځای له دود او د ویلو له لهجې او مفاهیمو سره را اخیستل شوې دي. او د وردګو له نورو ولسوالیو او پښتنې سیمو سره د جغتو سیمې د ښادۍ سندرو د توپیر او ګډون په خاطر په لمن لیکونو کې د ښادۍ هغه سندرې چې په نورو کتابونو کې راغلې او په ځینې برخو کې له راټولو شویو بدلو سره لږ او ډېر توپیر یا ورته والی لري، لیکلې شوې دي؛ خو د واده د بشپړ دود له بیان نه صرف نظر ځکه شوی دی، چې پخوا هم په مکمل ډول معرفي شوی او بیا راوړل یې اضافي او تکراري کار ؤ.

خو باید څرګنده کړم چې په پښتنې ټولنه کې د کلیوالو میرمنو تر منځ کارکول خورا ګران دی. د دې څېړنې پر مهال یو شمېر هغه عمده ستونزې د یادولو وړ بولم چې زه ورسره په ساحه کې مخ شوم: د بېلګې په توګه ځینې کلیو ته د تګ په وخت کې د امنیتي ستونزو له امله ډېر خطر محسوس ؤ او ښځو هم له وېرې نه غوښتل بدلو ویلو ته حاضرې شي. او همدارنګه په واده کې مې چې بدلې لیکلې ښځو به پوښتنه کوله چې ولې یې لیکې؟ که ته زموږ بدلې ولیکې موږ یې نه وایو، تر استدلال وروسته چې قانع شوې نو ما ژمنه ورسره وکړه چې د دوی او کلیو نومونه به یې نه لیکم ځکه دوی ویل که زموږ نارینه په دې خبر شي چې زموږ له خولې بدلې لیکل شوې دي په کور کې له ستونزو او شخړو سره مخ کېږو، سره له دې چې د فولکلور ټولولو په لارو چارو کې د څېړونکیو یوه دنده دا هم ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ویونکیو نومونه او نورې ځانګړنې باید ذکر کړي؛ خو ما د کړې ژمنې له امله د دوی او د ځایونو د نومونو له راوړلو نه ډډه وکړه.

او هم په دې اړه د لیکل شویو کتابونو د موندلو او ترې د ګټې اخیستنې په برخه کې مې ډېرې ستونزې وګاللې، ځکه دا کتابونه ډېر پخوا چاپ شوي او خپاره شوي وو او اوس یې نسخې ډېرې کمیابې دي.

په پای کې د خپلې لیکلې موضوع د اهمیت، او خپلو خبرو د چاڼ کولو لپاره په لنډ ډول دا ویلی شم چې، د یوه ولس لیکلی تاریخ دیوه دقیق معیار په توګه ښایي ځینې وخت ټول حقایق په سمه توګه راونه نغاړي ځکه معمولا به یاد پېښو په حقیقي اړخ باندې د واکدارانو د ناوړو غوښتنو پرده غوړېدلې وي او ځینې وخت خو تاریخ لیکونکي هم بشپړه بېطرفي نه مراعتوي او له ځینو پېښو سره خپل احساسات شریکوي. تر لومړۍ نړیوالې جګړې د مخه او را وروسته په فرانسه کې په لوی لاس په تاریخ کې ګوتې ووهل شوې او کوښښ وشو چې د فرانسې ګیدړ هم د زمري په بڼه وښودل شي، دا کار ځینې وخت حاکم نظامونه د دې لپاره هم کوي چې د خپل ولس خلکو ته یوه پیاوړې او غښتلې روحیه ایجاد کړي. مګر فولکلور بیا یوې داسې شفافې هېندارې ته ورته نارسمي تاریخ دی چې هلته یوازې او یوازې د یوې ټولنې اعمال او کردار په ډېره حقیقي بڼه تر سترګو کېدای شي، کله که یوه امریکایي مور خپل ماشوم ته للو وایي نو څه تصور کوئ چې څه به ورته وایي او کله که یوه پښتنه مور خپل ماشوم ویده کوي نو څه ورته زمزمه کوي!؟ که چېرې همدغو مواردو ته په سمه توګه ځیرشو نو وبه پوهیږو چې فولکلور د یوې ټولنې د وجود ژبه ده او دا ژبه دومره رښتینې وي چې هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول تصنع او تعالي په کې ځای نه شي نیولی. نو لازمه ده چې د یوې ټولنې د ښې پېژندګلوۍ په موخه موږ د هغې ټولنې فولکلور تر څېړنې لاندې ونیسو نه د هغوی هغه ویاړنې چې دوی په لیکلي تاریخ کې ځای کړې وي.

د بشر پېژندنې د معیاري اصلونو د رابرسیره کیدو تر څنګ د فولکلور پېژندنه د ژبپوهانو لپاره یوه اغېزمنه ذریعه کیدای شي، ځکه په سیمه ییزو فولکلوریکو نمونو کې ډېر داسې ګړدودونه، لغتونه، اصطلاحات او د بیان نور موارد مخې ته راځي چې نوي وي. ما چې کله د وردګو د جغتو سیمې دغه منظومې نمونې راټولې کړې نو یو شمېر ځانګړې ژبنې اړخونه لکه؛ محاورې، لغتونه او قاعدې مې مخې ته راغلې چې ښایي د یوه ژبپوه لپاره به د څېړنې په منظور ډېر مواد ولري.

په همدې ترتیب د فولکلور څېړنه د بشر پېژندنې له ګڼو ابعادو سره مرسته کولای شي او د څېړنې په ترڅ کې ښايي هغه زماني واټن هم په ګوته کړای شي چې یو فولکلوریک اثر په کې تخلیق شوی وي، چې د همدې سپیناوي په ترڅ کې بشر پیژندونکي (انټروپولوجستان) کولای شي ووایي دې ټولنې په فلانۍ زمانه کې څه ډول ژوند درلود.

څرنګه چې د یوې ټولنې په فولکلور کې د هغې ټولنې کره وړه او مشخصات څرګند دي دا حقیقت به مو په پورتنیو نمونو کې تر سترګو شوی وي. دا چې پښتانه انتقام جو خلک دي او یوه بل ته غاړه نه ږدي د ژوندانه دا کردار یې په هر ډګر ښودلی دی، د دوی د خپلوۍ دود او دستور که څه هم په درنښت ترسره کېږي؛ بیا هم پکې خورا زیاتې ستونزې موجودې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کله نا کله خو آن له لومړيو وختونو څخه دا ستونزې، ګيلې او ګذارې د دوی په احساساتو کې راڅرګندې شي.

په پښتنه ټولنه کې مېرمنې زياتره وخت په تصاميمو کې ونډه نه لري او همدا لامل دی چې دا ټولنه يې له جدي ستونزو سره مخ کړې ده، پښتنه مېرمن چې په پرېکړو کې د ونډې دنه لرلو تر څنګ پر نارينه وو باندې د نيغ په نيغه نيوکې حق هم نه لري نو بيا فولکلور ته مخه کوي او په هغه توګه کم ترکمه خپله نيوکه کوي. يوه ميرمن چې حتی ځان ته د جامو د رخت اخيستلو واک هم نه لري په طنز اميزه ډول وايي: ((د جاپان ټول رختونه راغلل – دله لګيا دی ماته چيټ بيه کوينه)).

کله چې په دې وپوهيږو چې د فولکلور او بيا په تيره د پښتني فولکلور اصلي خالقه ميرمن ده او دا ميرمن بيا د محکوميت او سخت ګيرۍ په لومه کې ګيره ده نو له داسې يوه محکوم قشر سره لومړی د اړيکو نيول هم يو مشکل کار دی او که اړيکې ورسره ونيول شي نو د دوی د اعتماد جلبول هم ستونزمن دي، ځکه هغه خلک چې ټوله راشه درشه يې له خپلوانو سره وي په پرديو خلکو باندې ډېر کم اعتماد کولای شي تر څو له هغوی سره د خپل زړه اصلي رازونه او په سختۍ بيانيدونکي کيفيتونه شريک کړي. مګر سره له دې ټولو بيا هم ما تر خپلې وسې کوښښ وکړ چې ستاسې مخې ته پراته معلومات له دوی څخه راټول او ترتيب کړم. او خدای دې وکړي چې د دې سندرو په راغونډولو سره مې د شفاهي ادبياتو د دې جز له بډاينې او خوندي کولو سره مرسته کړې وي او د دې برخې د څېړنې د لارويانو او مينه والو ادبي تنده پرې ماته او د نوموړيو د ګټې اخيستنې وړ وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مناقشه

د یوې ټولنې د فولکلور څېړنه ښایي تر ډېرو نورو څېړنو ګران کار وي. ځکه فولکلور یوازې د ژبې او ادب برخه نه ده، بلکې د بشر پېژندنې او روان پېژندنې نور ډېر موارد هم ورپورې تړلي دي. کله چې موږ د یوې ټولنې فولکلور څېړو نو اړ یو چې د څېړنې بېلابېل معیارونه په پام کې ولرو، کوم شیان، د کوم قشر له خوا، څنګه او څه وخت رامنځ ته شوي دي.

دا چې ما د وردګو د جغتو سیمې د ښادۍ بدلې د څېړنې لپاره موضوع وټاکله هدف مې د دغې سیمې د فولکلوریکو احساساتو ښه ترجماني او پېژندګلوي وه، که څه هم د وردګو د سیمې په فولکلور باندې تر ما د مخه په دغه تیزس کې یادو شویو استادانو څېړنې کړې، خو ځینې شیان چې زما په نظر یا پاتې وو او یا هم له دې سیمې سره د هغې بلې سیمې چې نوموړیو استادانو یې د ښادۍ بدلې راټولې کړې توپیر درلود، ما تر خپله وسه کوښښ وکړ چې راټول یې کړم او ستاسې مخې ته یې کېږدم، د مثال په ډول د وردګو سیمې د فولکلور په څېړنه کې تر ډېره حده یوازې هغه بدلې، سروکي، ولسي سندرې او نور راول شوي وو، چې په عمومي توګه یې د دغې سیمې د خلکو د ژوندانه د کړو وړو، راشه درشه او باطني ارمانونو پورې اړه لرله مګر دا نمونې تر ډېره بریده له مواردو سره نه وې څېړل شوې او ما تر یوه حده وکولی شول چې ویې څېړم، بله موضوع په دې سیمه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تېرو درېيو لسيزو جګړه ييز بدلونونه وو چې د سيمې د فولکلور په بڼه او محتوا باندې يې تاثير کړی ؤ او ما يې يادونه وکړه، هغه ښځمنې چې تر جګړې د مخه به يې په آزادانه توګه د خپل ولس له چاپيريال څخه ليدنه کولی شوی، يعنې زيارت، ميلې او بازار ته به تللی شوای او د دغه کردار په نتيجه کې به يې تخليقي تفکر پيدا کولی شوای، اوس چې جګړه تېره شوې او يا دا چې دا سيمه د جګړې په وخت کې قرار لري حتماً يې د شفاهي ادبياتو په شکل او منځپانګه اغيزکړی او دا اغيز د يادولو وړ ؤ.

د پخوانيو ښېړنو پر مهال ځينې دودونو توپير موندلی ؤ چې ما بايد د يوې نوې ښېړنې په ترڅ کې ترې حتماً يادونه کړې وای او دا کار مې هم ترسره کړ.

د ادب د مبتدي ليکوالو او ښېړنکيو لپاره د يوې داسې رسالې وړاندې کول پکار ؤ چې تر يوه بريده يې بايد د نورو ښېړونکيو له پخوانيو ښېړنو سره توپير درلودی شوای او ما زيار وکېښ چې دا توپير په ګوته کړی شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېشنهادونه

د دې لپاره چې د فولکلور برخه مې د واده په دود کې په بشپړه توګه څېړلې وي، باید محترم څېړونکي او د قلم خاوندان نورې شفاهي سندرې چې د کليو او بانډو د خلکو په حافظو کې پرتې دي په پرله پسې ډول ټولې او په څېړلو يې لاس پورې کړي. باور لرم چې په ولس کې به ډېرې داسې سندرې او د فولکلور نورې برخې مرموزې پاتې وي چې لا به د چا پام هم ورته نه وي او نه به يې خوا ته ورغلي وي. د دې لپاره چې زموږ د ژبنۍ پانګې مرغلرې، چې لا تر ايرو لاندې پټې د تل لپاره ورکې نه شي او د وختونو توپانونه يې له ځانه سره يونه سي بايد ژر تر ژره يې راغونډې او د يوې غوره شتمنۍ په توګه يې د تاريخ په پاڼو کې ثبت او خوندي کړو، که په دې وتوانيږو چې له هر کلي نه لږ او ډېر فولکلوري مواد راټول کړو ايله به مو دومره کړي وي چې د افغان ولس او پښتو ژبې د پراخې پرګنې هغه پراخه غوړېدلې لمنه چې راغونډل يې سخت دي لږ سره پيوند کړي او له ورانېدواو زړيدو به مو يې مخنيوی کړی وي.

له بلې خوا کليو او بانډو ته د مدنيت او عصريت داخليدل يو بل لوی ګواښ(خطر) دی، چې په دې نوي والي سره په کليوالي ژوند کې هم خامخا ډېر بدلون راغلی دی او لا پسې روان دی او پخواني کړه، وړه ورو ورو د هېرېدو په حال کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یو بل ورانديز مې د ادب څېړونكيو او د ادب مينه والو ته دا دی، چې هغه د فولكلور او شفاهي ادبياتو او په تېره بيا د سندرو په اړه ليكل شوي كتابونه چې پخوا چاپ شوي او اوس يې نسخې ډېرې كميابې دي بيا له سره چاپ او خپرې كړي، ځكه كه دا شته نمونې يې هم له منځه ولاړې شي، ټول پښتانه به له دې قيمتي شتمنۍ نه بې برخې شي.

زما په نظر د فولكلور ثبتونې تر څنګ هغه سندريز تالونه، ريدمونه، سُرونه او ټاټونه هم بايد ثبت شي چې د يوې سيمې د خلكو د ذوق استازيتوب كوي، خو د داسې مواردو د ثبت لپاره پكار ده، چې څېړونكی هر اړخيزه پوهه او تجربه او پراخ امكانات ولري، كه چېرې مې په راتلونكي كې د داسې يوه تحقيقي اثر د رامنځ ته كولو اراده وكړه نو اميد دی چې د څېړنې د مختلفو معيارونو په نظر كې نيولو سره به په يادو شويو برخو كې هم زحمت وباسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لنډيز

د دې ليکنې موضوع چې په لنډ تنګ وخت کې مې د ماسټرۍ د تيزيس په بڼه ترسره کړې ده، د (د وردګو د ښادۍ سندرې) ده. دا سندرې مې د وردګو ولايت د جغتو له ولسوالۍ نه لکه څنګه چې خلک يې وايي يا بولي په طبيعي ډول، د ښځو او نجونو له خولې راټولې کړې دي. په ليکنه کې مې کوښښ کړی؛ ټول هغه مطالب چې ولسي رنګ يې پياوړی او اوس هم په ژوندۍ توګه موجود دي د کارونې له مواردو سره يې ذکر کړم او تقريباً ټولې سندرې نوې دي. مخکې تر دې چې د دې موادو په راټولو پيل وکړم، په دې اړه مې هغه ليکل شوي کتابونه چې ماته معلوم وو او هم هغه مأخذونه چې لارښود استاد يې د لوستلو توصيه راته کړې وه ټول وکتل او د راټولولو په وخت کې مې د تکراري سندرو له ليکلو ډډه وکړه او همدا ډول يوه نيمه داسې سندره چې د لږ يا ډېرو الفاظو او توريو په بدلون سره په نورو کتابونو کې راغلې وې له دې سندرو سره په مقايسوي ډول په لمن ليکونو کې را اخيستې دي.

په دې سندرو کې مې بابولالې، سروکي د اتڼ نارې او... نور ځای کړي دي. يعنې د ښادۍ د بدلو تر څنګ مې ځينې عام سروکي او د اتڼ نارې چې په ودونو کې يې هم وايي راغونډې کړې دي. پر دې سربېره د دې سندرو د قدامت او د راټولو د شاليد د راوړلو په خاطر مې له ځينو مأخذونوڅخه هم استفاده کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

د سندرو د حالاتو د بيانولو لپاره مې د وردګو د واده په دود هم څه نا څه خبرې کړې دي او څومره چې کېدای شوی له اختصار نه مې کار اخيستی دی. مثلاً د پښه خلاصي، د سرواره د تګ او داسې نورو چې سندرې نه پکې ويل کېږي، له سره يادونه کړې نه ده، ځکه چې د وردګو د واده د دود او دستور په اړه ښاغلي حبيب الله رفيع په خپل کتاب (پښتني ودونه) او احسان الله آرينزي په خپل کتاب (د وردګو د واده دود او بدلې) کې دا موضوعات په مفصل ډول ليکلي او معرفي کړي دي.

د دې سندرو د راټولونې په منظور مې په دوو ودونو کې هم ونډه واخيستله او هم مې له ښځو او نجونو نه د پوښتنې په ډول ثبت کړې، او له دې سره مې ځينې متلونه او د ښې شپې فالونه هم راغونډ کړي دي او هيله منه يم چې په راتلونکي کې يې تر بشپړونې وروسته يو ځای د کتاب په بڼه چاپ او خپاره کړم.

يوه بله خبره چې بايد له تاسو سره يې شريکه کړم دا ده، چې ما د ځينې ستونزو او رسمي بوختياوو له امله ونه شوای کړای چې په وردګو کې ډېر وخت تېر کړم، په کليو وګرځم او ډېر مواد راټول کړم، ځکه هغه ښځې چې له لرې پرتو کليو نه واده ته راغلې وې ويل يې که زموږ کلي ته راشې، هلته ډېرې بدل زنې (بدلې ويونکې) ښځې شته چې زښته زياتې بدلې يې زده دي او آن د ناوې د برستنې ګنډولو او پښه خلاصي پر مهال هم رنګ رنګ بدلې وايي، خو زموږ يې ډېرې اوس هېرې شوې دي. که په راتلونکي کې مې دغو کليو ته د تګ موقع ترلاسه کړه نو خامخا به ورځم او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناليکلې بدلې به، چې د دغو ښځو په حافظو کې ذخيره او د هېرېدو په حال کې دي راټولوم.

د فولکلور په برخه کې زما دا لومړنی تحقيقي اثر به کېدای شي نيمګړتياوې هم ولري او ښايي د ځينو دودونو ليکل راځخه پاتې شوي وي، خو هيله منه يم چې لوستونکي به يې راپه ګوته کړي.

دا سندرې چې په کليو باندې کې خوله په خوله انتقال مومي ځينې يې تاريخي قدامت نه لري او داسې نوي لغات، لکه طياره، موټر يا مونيان (فلانکوچ موټر) ټاونيس يا ټونس او ... په کې ترسترګو کيږي.

دا پروژه يوه مقدمه او د متن اصلي برخه رانغاړي، په سريزه کې د موضوع په اړه خبرې شوې دي، او د تيزس هغه اساسي برخه ده چې په يوه ټولنه کې د فولکلوري توکيو د موجوديت د ارزښتونو تر څنګ د فولکلوري موادو پر ساتنه او کيفيت باندې هم څه نا څه خبرې لري.

په سريزه کې د دې څېړنې پر هدف، د فولکلور ټولولو پر اهميت او د دې پروژې پر ارزښت باندې خبرې شوې دي. دا سريزه د پښتنې سندرو د پيدايښت مخينه يا شاليد، د سندرو لومړي ټولوونکي، د ښادۍ د بدلو ټولوونکي او په وردګو کې د ښادۍ بدلو د ټولولو لومړنۍ هڅې راپه ګوته کوي. او همدارنګه د ښادۍ د سندرو پر فورمولټيک جوړښت باندې هم لنډ بحث پکې شوی دی. او هم د ټولو شويو سندرو پر څرنګوالي او د استعمال د موارډو په اړوند او د دې کار پر سوابقو يعنې چې مخکې له دې په دې برخه کې څومره کار، چا کړی دی او له دې موجودې څېړنې سره يې توپيرونه څه دي په لنډ ډول څېړل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وردګو د ښادۍ سندرې

د متن په اصلي برخه کې د وردګو د ښادۍ سندرې د واده له لومړۍ هوکړې نه نیولې، د ناستې، د نکریزو شپې او د توی (واده) ورځې تر پایه یعنې درېیمې (تخت جمعۍ) پورې ټولې د هماغه ځای له دود او د ویلو له لهجې او مفاهیمو سره را اخیستل شوې دي. او د وردګو له نورو ولسوالیو او پښتني سیمو سره د جغتو سیمې د ښادۍ سندرو د توپیر او ګډون په خاطر په لمن لیکونو کې د ښادۍ هغه سندرې چې په نورو کتابونو کې راغلې او په ځینې برخو کې له راټولو شویو بدلو سره لږ او ډېر توپیر یا ورته والی لري، لیکلې شوې دي؛ خو د واده د بشپړ دود له بیان نه صرف نظر ځکه شوی دی چې پخوا هم په مکمل ډول معرفي شوی او بیا راوړل یې اضافي او تکراري کارؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ماخذونو فهرست

١- آرینزی، احسان الله. ١٣٨٩، د وردګو د واده دود او بدلې، دویم چاپ، الازهر خپرندویه ټولنه، دهمزنګ لومړی سرک، کابل افغانستان.

٢- پتنګ، عبدالکریم. ١٣٥٩، د غرونو څوکې، د فلالوژۍ پوهنځی.

٣- تره کی، غلام محمد. ١٣٣٦، پښتني دودونه، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه.

۴- جلالي، غلام جیلاني. ١٣٦٠، د پښتو ځانتنی ادب او موسیقي، پښتو ټولنه، د ښوونې او روزنې مطبعه.

۵- خاورې، غوټۍ. ١٣٦٦، د پښتو شفاهي ادبیاتو شکل او مضمون، د ١. ج د علومو اکاډیمي، د ژبنیو او ادبي څېړنو مرکز، پښتو ټولنه، د فولکلور او شفاهي ادبیاتو دیپارتمنت، دولتي مطبعه، کابل.

٦-رفیع، حبیب الله. ١٣۴٩، د خلکو سندرې، د افغانستان اکاډمي، د تاریخ او ادب ټولنه، کابل، دولتي مطبعه.

٧- رفیع، حبیب الله. ١٣٨١، پښتني ودونه، د محمد تدبیر په اهتمام، د افغانستان د مرستو مرکز CCA، د افغانستان د کلتوري خدمتونو اداره، بهیر مطبعه، نوی ښار، کابل افغانستان.

٨- ژواک، محمد دین ١٣٧٠، افغاني موسیقي، د افغانستان د هنرمندانو د ټولنو اتحادیه، اریانا مطبعه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹- ژواک، محمد دین. ۱۳۳۴، پښتني سندرې، د محمد دین ژواک په اهتمام، لومړۍ برخه، د پښتو ټولنې د ادبیاتو د څانګې له خوا.
۱۰- سوبمن، محمد علي. ۱۳۵۵، فولکلوري ګېډۍ، د محمد شیرین سنګري په اهتمام، پښتو ټولنه، د ژبپوهنې څانګه، کابل افغانستان.
۱۱- سوبمن، علي محمد. ۱۳۵٦، اولسي پوهه، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د کلتور او هنر ریاست، د فولکلور او ادب آمریت.
۱۲- ساپی، محمد حسن ضمیر. ۱۳۳۵، پښتني سندرې، د محمد حسن ضمیر ساپي په تصحیح او اهتمام، دویمه برخه، د پښتو ټولنې د ادبیاتو د څانګې له خوا.
۱۳- غروال، محمد عارف. ۱۳٦۰، غرنۍ سندرې، د افغانستان د علومو اکاډمي، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه.
۱۴- هېوادمل، زلمی. ۱۳۷۹، د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**